د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# تجوید

## اتم ټولګی

د دیني مدارسو لپاره



د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

تجوید - اتم ټولګی

۸

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پیرودل او پلورل یې منع ده.

curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# تجوید

## اتم ټولګی

(د دیني مدرسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ ل

**مؤلف:**

- میر رفیع الله منیب

**ژباړه:**

عبدالهادي روان

**علمي ایډیټ**

- محمد آصف کوچی

**د ژبې ایډیټ**

- محمد قدوس زکو خېل د ښوونیز نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف په ریاست کې د پښتو څانګې علمي غړی.

**دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه:**

- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.
- محمد آصف کوچی

**اشراف**

- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

## د پوهنې د وزیر پیغام

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی نبیه و رسوله محمد و علی آله و اصحابه اجمعین اما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هېواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون، پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې، چې د بیاکتلو لپاره ورته ډېره اړتیا موجوده ده، یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی، ځکه په اسلامي زده کړو کې عقاید او د اسلام د سپېڅلي دین احکام او لارښوونې شاملې دي، چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه به د قیامت تر ورځې پورې د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف، د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه او همدارنګه په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او موسساتو د تعلیمي نصاب په تدریجي انکشاف کې خپله دنده سرته رسولې ده.

په اسلامي معارفو او اسلامي علوموکې دقیقه مطالعه دا څرګندوي چې زموږ د تعلیمي مدرسو او مرکزونو نصاب د ټولنې د اړتیاوو او د اسلام د دین له ثوابتو او طبیعت سره سم د ټولو انسانانو لپاره هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلند تاریخ په درلودلو سره یو وخت د علم او زده کړې یو لوی مرکز و چې د اسلامي لوی تمدن په جوړښت کې یې ستر رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ساحو او په ځانګړې توګه په شرعي علومو، لکه عقاید، تفسیر، حدیث، فقه او فقهي اصولو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون زموږ ددې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ځپو له ډېرېدو او لوړېدو سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي تعلیماتو د خومره والي او څرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیانو او ځوانانو په ډېره مینه او لېوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کړې ده.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

دغه وزارت د هیواد د ډاډ وړ عالمانو، استادانو او نامتو ماهرینو ته بلنه ورکړې چې د تعلیمي نصاب لا ښه کولو ته متې ونغاړي او د ښې او زیاتې ګټې اخیستنې په موخه په اسلامي زده کړو کې د دود تعلیمي نصاب د موجودو مضمونونو او کتابونه له کمولو او زیاتولو پرته موجود کتابونه په درسي چوکاټ کې واچوي، متنونه یې لا واضح او څرګند کړي او د فعالیتونو، ارزونو او مناسبو تمرینونو په زیاتولو یې نور هم پسې بډای کړي.

هیله لرم چې د پوهنې وزارت دا کوچنی خدمت او د هېواد د عالمانو، پوهانو او ماهرانو د ستاینې وړ زیار د الله تعالی د منلو وړ او زموږ په ګران هېواد کې د اسلامي تعلیماتو په ودې او پراختیا کې ګټور شي.

وباالله توفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

# مقدمه

## درنو استادانو او ګرانو زده کوونکو!

د قرآن کريم د تجويد زده کړه خورا ګټه وره او مهم علم دی؛ ځکه د قرآن کريم سم لوستل د الله تعالی امر دی او قرآن کريم سم لوستل پر قرآن کريم د پوهيدلو او پر هغه د عمل کولو لاره ده، د تجويد د قواعدو رعايتول د قرآن کريم په فهم کې اغېز لري، د حروفو سم اداء د مد او ساکن نون اړوند اصول او د وقف او وصل د ځايونو پېژندل د معانيو په افاده کې مستقيمه ونډه لري، لکه څرنګه چې د قرآن کريم په معانيو کې په تدبر او دهغه په احکامو باندې په عمل کولو اجر مرتبيږي، همدا ډول د قرآن کريم په سم تلاوت، الله تعالی مسلمان ته اجر ورکوي.

د تجويد په علم کې زيات کتابونه ليکل شوي چې هر يو يې خپلې ځانګړتياوې لري، خو وروسته له دې چې پوهنې وزارت هوډ وکړ چې د هېواد مدارسو ته به نوی ښوونيز نصاب چمتو کوي، چې په هغه کې به اصالت او معاصرت دواړه په پام کی نيول شوي وي-معاصرت په دې توګه چې د ښوونيز نصاب د کتابونو په تأليف کې له معاصرو لارو چارو څخه کار واخيستل شي، مفردات يې د موضوعاتو تر منځ تسلسل ته په پام، له درسي پلان سره سم په لوستونو ووېشل شي، په هر درس کې د زده کوونکو فعاليت شتون ولري، ارزونه او کورنی دنده پکې راوړل شي او دا ټولې چارې د زده کوونکو علمي سويه او ذهني ودې ته په پام تر سره شي-.

د تجويد د اتم ټولګي دا کتاب د ښوونی نصاب د متخصصينو له خوا د علمي او تعليمي معيارونو په رعايت تأليف شوی، له لوی الله ﷻ څخه دوی ته د پوره اجر غوښتونکي يو، الله ﷻ دې وکړي چې د قدرمنو استادانو د منلو وړ او د ګرانو زده کوونکو لپاره د ستري علمي ګټې د کسبولو لامل وګرځي.

والله ولي التوفيق

# د موضوعاتو لیک لړ


| شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۱ |
| ۲ | د حرفونو مخرجونه | ۲ |
| ۳ | غاښونه | ۶ |
| ۴ | ژبه او د ژبې مخرجونه(۱) | ۱۰ |
| ۵ | ژبه او د ژبې مخرجونه(۲) | ۱۴ |
| ۶ | شفتان او خیشوم | ۲۰ |
| ۷ | د حرفونو صفتونه( اصلي او عارضي ) | ۲۴ |
| ۸ | جهر او همس | ۲۸ |
| ۹ | شدّت او رخوت | ۳۲ |
| ۱۰ | استعلاء او استفال | ۳۴ |
| ۱۱ | اطباق او انفتاح | ۳۸ |
| ۱۲ | اذلاق او اصمات | ۴۲ |
| ۱۳ | اصلي غیر متضاد صفتونه(۱) | ۴۶ |
| ۱۴ | اصلي غیر متضاد صفتونه(۲) | ۵۰ |
| ۱۵ | ادغام او د هغه ډولونه | ۵۴ |
| ۱۶ | متجانسین ادغام | ۵۶ |
| ۱۷ | د لام ډولونه او حکمونه | ۵۸ |
| ۱۸ | قمري او شمسي لام | ۶۲ |
| ۱۹ | د فعل لام او د حرف لام | ۶۴ |
| ۲۰ | د جلاله ( د الله د لفظ) لام) | ۶۸ |
| ۲۱ | د (را) د تفخیم حالات | ۷۰ |
| ۲۲ | د (را) د ترقیق حالات | ۷۴ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۳ | د مد ډولونه | ۷۸ |
| ۲۴ | د لازم مد ډولونه | ۸۰ |
| ۲۵ | دوقف ډولونه | ۸۴ |
| ۲۶ | د اختیاري وقف ډولونه | ۸۸ |
| ۲۷ | حسن او قبیح وقف | ۹۲ |
| ۲۸ | د وقف نښې | ۹۶ |
| ۲۹ | ز (مجوز وقف) | ۱۰۰ |
| ۳۰ | مهم او متفرق ټکي (۱) | ۱۰۴ |
| ۳۱ | مهم او متفرق ټکي (۲) | ۱۱۰ |
| | **د اتم ټولګي د حفظ د مقرري برخه** | |
| ۳۲ | د النّبَا سورة | ۱۱۴ |
| ۳۳ | د النَّازعَات سورة | ۱۱۴ |
| ۳۴ | د عَبَسَ سورة | ۱۱۵ |
| ۳۵ | د التکویر سورة | ۱۱۶ |
| ۳۶ | د الانفطار سورة | ۱۱۶ |
| ۳۷ | د المطففین سورة | ۱۱۶ |
| ۳۸ | د الانشقاق سورة | ۱۱۷ |
| ۳۹ | د البروج سورة | ۱۱۸ |
| ۴۰ | د الطارق سورة | ۱۱۸ |
| ۴۱ | د الاعلی سورة | ۱۱۸ |
| ۴۲ | د الغاشیة سورة | ۱۱۹ |

# سریزه

الحمد لله الذي نزّل القرآن للذّكر و يسّره، و الصلاة والسلام على خير البريّة محمّد عبده و رسوله القائل:«الَّذِی یَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَهُوَ مَاهِرٌ بِهِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ»(١) و على آله و أصحابه الّذين حفظوا القرآن و وعوه في صدورهم المطهّرة.

د هر علم فضیلت او شرافت دهغه علم په موضوع پورې اړه لري، نوهر څومره چې دیو علم مقام او موضوع مهمه او له لوړ مقام څخه برخمنه وي،په هماغه اندازه هغه علم له مهم او لوړ مقام څخه برخمن وي او څرنګه چې قرانکریم تر ټولو کتابونو لوړ او سپېڅلی کتاب او قرآني علوم هم تر ټولو ښه علوم دي، پرته له شکه د تجوید علم له ډېرو ښو علومو څخه ګڼل کېږي چې موضوع یې دقران کریم پاک او سپېڅلي حرفونه او کلمې دي.

پردې بنسټ ښايي هر طالب العلم دغه علم ته خپل ذهن او فکر ځیر کړي، د لوستلو لپاره یې همت وکړي اود خپل ژوند ښې شېبې ورته وقف کړي.

د تجوید په اړه پوهان پردې یوه خو له دي چې د قرانکریم تلاوت هغه شان چې په پیغمبرﷺ نازل شوی، فرض عین دی او هر ډول کمي او کیفي زیاتوالی او نمیګړتیا یې لویه ګناه کېږي.

تجوید په حقیقت کې دقران کریم لوستل دي چې خپله له رسول الله ﷺ څخه اخیستل شوی او د صحابه کرامو او تابعینو په وسیله وروستیو نسلوتو او بیاموږ ته رسېدلی دی.

پر هر مسلمان لازم دي څرنګه چې پیغمبرﷺ صحابه وو ته قرآن تلاوت کړی او ښوولی، قران کریم ولولي اوتلاوت یې کړي او دغه کار د تجوید د قواعدو په نه مراعاتولو سره ناشونی دی.

د تجوید دغه کتاب چې ددیني مدرسو د اتم ټولګي لپاره تألیف شوی، په دوو برخو وېشل کېږي. لومړی برخه یې د تجوید قواعد دي ( نظري تجوید) د تېرو قواعدو (عملي تجوید) تطبیق، د تېر لوست پوښتنې او کورنی دنده ده.

دویمه برخه یې محفوظات دي چې ټاکل شوي سورتونه دي او ښاغلی ښوونکی دې هغه داسې تنظیم کړي چې د تعلیمي کال په اوږدو (ځلورنیم میاشتنی او کلنی موده) کې ددغې مقررې برخه بشپړه شي.

تجوید په یوه اوونۍ کې دوه درسي ساعتونه لري چې په ټول کال کې ٥٦ ساعته کېږي. ښاغلي ښوونکي دې یو ساعت د قواعدو او نظري معلوماتو د پوهولو لپاره او بل ساعت کې د هماغو قواعدو د تطبیق او عملي کولو لپاره کار وکړي.

د یادولو وړده چې ددغه کتاب په لیکلو کې د تجوید له معتبرو کتابونو او له هغې جملې لاندي کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

١ـ تجوید قرآن کریم / محمد صادق قمحاوي
٢ـ الدرر الفريد شرح قواعد التجويد / شیخ عبدالحق دهلوي
٣ـ حلیة القرآن سطح (٢) / سید محسن موسوي یلده
٤ـ جمال القرآن / اشرف علی تهانوي
٥ـ معلم التجويد للمتعلم المستفيد / قاري محمد شریف

په پای کې د لوی خدای (ج) له درباره غواړم چې د قرآني علومو ټول استاذان اوبه تېره بیا د تجوید دعلم پوهان د حضرت محمد (ﷺ) د دغه حدیث ( خیر کم من تعلم القران و علمه) مصداق وګرځوي.

میر رفیع الله منیب

## د حرفونو مخرجونه

### د مخرج تعریف

مخرج: اسم مکان دی، په لغت کې د وتلو ځای ته ویل کېږي او په اصطلاح کې هغه ځای دی چې له هغه څخه حرف راوځي او یا په بل عبارت د حرف د پیدا کېدو ځای ته ویل کېږي. د بېلګې په ډول د (حلق) له مخرج څخه شپږ حرفونه راوځي چې هغه (همزه، ها،ع،ح،غ،خ) دي.[1]

### د مخرج د پېژندلو طریقه

کله چې مونږ د یو حرف مخرج پیدا کوو، لومړی حرف ساکن یا مشدد کوو، بیا د وصل همزه چې متحرکه وي(زور یا پېښ او یا زېر لرونکي وي) پرې داخلوو، نو پر هر ځای چې زمونږ اواز پای ته ورسېد، همغه دنوموړي حرف مخرج بلل کېږي. د بېلګې په ډول د (اَعْ) کلمه، نو معلومه شوه چې د عین مخرج حلق دی، همدا ډول نور حرفونه.

### د حرفونو د مخرجونو ډولونه

د راجح قول پر بنا د حرفونو مخرجونه (۱۷) دي چې په پنځو اساسي برخو ویشل شوي دي: ۱- جوف ۲- حلق - ۳-لسان - ٤-شفتان - ٥-خیشوم، چې هر یو یې په لاندې کرښو کې په تفصیل سره بیانېږي:

### جوف (د خولې تشه برخه)

دا ځای یو مخرج لري او درې مده حرفونه ترې راوځي:

**مدّه الف**: د فتحې (زور) له اوږدولو څخه پیدا کېږي او دایم ترې مخکې حرف مفتوح وي.

---

۱- حرف په لغت کې طرف ته ویل کېږي او په اصطلاح کې له هغه اواز څخه عبارت دی چې د تلفظ پر وخت په محقق مخرج (د حلق، ژبې او یا د شونډو برخو) یا په مقدر مخرج( د حلق او خولې په منځ کې هوا) باندې تکیه کوي.
محقق مخرج: هغه دی چې حرف د وتلو په وخت کې پر ثابت ځای اعتماد وکړي، لکه د شونډو یا ژبې یا حلق پر کومه برخه.
مقدر مخرج: هغه دی چې د حرف د وتلو په وخت کې پر فرضي –غیر ثابت- ځای اعتماد وکړي، لکه د حلق-ستونی- او خلې په منځ کې هوا چې دا د مد د درې ګونو حرفونو خای دی.

**مدّي واو**: هغه ساکن واو دی چې مخکې ترېنه مضموم وي چې د ضمې له اوږدولو څخه جوړېږي.[1]

**مدّه یا**: هغه ساکنه یا ده چې مخکې ترېنه مکسور(زېر) وي چې د کسرې له اوږدولو څخه جوړېږي.



**۱ د خولې تشه برخه: د مده واو، یا او الف د وتلو ځای**

پاملرنه: شین رنګ د خولې تشه برخه ښيي

د مثال په ډول: ﴿نُوْحِيْهَا﴾.

## ۲۲- حلق (ستونی)

په دغه ځای کې درې مخرجونه دي (اقصی الحلق، وسط الحلق او ادنی الحلق) چې له هغو څخه شپږ حرفونه په لاندې ډول په ترتیب سره راوځي (همزه، ها، عین، حا، غین، خا).

### الف- اقصی الحلق

یعنې د ستوني وروستۍ برخه چې د سینې له پاسه ده، دوه حرفونه ترېنه اداکېږي چې هغه (همزه) او (ها) دي.لکه:﴿الْمُؤْمِنُ﴾ و ﴿اِهْدِنَا﴾.

### ب – وسط الحلق

یعنې د ستوني منځنۍ برخه چې له دغه ځایه هم دوه حرفونه اداکېږي (عین) او (حا) دي، لکه: {يَعْمَهوْنَ} و ﴿الرَّحْمٰنِ﴾.

۱- د مدّي په قید سره د لین یا او متحرکه یا جدا شوه او دا ځکه چې دا دواړه له شجریه حرفونو څخه دي چې وروسته به بیان شي.

## ج- ادنی الحلق

یعني د ستوني لومړۍ برخه چې خولې ته نږدې وي. له دغه ځایه دوه حرفونه اداکېږي.
(غین) و (خا) دي. لکه: ﴿الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ﴾ و ﴿يَـخْدَعُوْنَ﴾.
پورته نوموړي شپږ حرفونه د حلقي حرفونو په نوم یادېږي.




**دویم مخرج: د ستوني وروستۍ برخه د همزه او هامخرج**
**دریم مخرج: د ستوني منځنۍ برخه دع او ح مخرج**
**څلورم مخرج: د ستوني نږدې برخه د غ او خ مخرج**

### تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې لاندې سورت ولولي او جوفي او حلقي توري دې په خپل مخرج کې اداکړي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿سَبِّحِ ٱسْمَ رَبِّكَ ٱلْأَعْلَى ۝١ ٱلَّذِى خَلَقَ فَسَوَّىٰ ۝٢ وَٱلَّذِى قَدَّرَ فَهَدَىٰ ۝٣ وَٱلَّذِىٓ أَخْرَجَ ٱلْمَرْعَىٰ
۝٤ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحْوَىٰ ۝٥ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ۝٦ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ وَمَا يَخْفَىٰ
۝٧ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ۝٨ فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ ۝٩ سَيَذَّكَّرُ مَن يَخْشَىٰ ۝١٠ وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلْأَشْقَى

﴿١١﴾ ٱلَّذِى يَصۡلَى ٱلنَّارَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحۡيَىٰ ﴿١٣﴾ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾ وَذَكَرَ
ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾ بَلۡ تُؤۡثِرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿١٦﴾ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ ﴿١٧﴾ إِنَّ هَٰذَا لَفِى
ٱلصُّحُفِ ٱلۡأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾

## پوښتنې

١-د حرف مخرج په لغت او اصطلاح کې تعريف کړئ.

٢-د يو مخرج د پېژندلو طريقه په يو مثال کې واضح کړئ.

٣-په راجح قول سره د حرفونو مخرجونه څو دي او په څو اړوندو ځايونو وېشل شوي دي؟

٤- جوفي حرفونه او د هغو مخرجونه وښيئ.

٥-حلق څو برخې لري او څو حرفونه ادا کېږي؟ واضح يې کړئ؟

٦- د (ها) او (حا) د مخرج ترمنځ څه توپير دی؟

## کورنی دنده

زده کوونکي دې د هجا د تورو جدول جوړ کړي او د هر توري مخرج دې تر لاندې وليکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې راوړي.

# غاښونه

خرنگه چې غاښونه د حروفو د تلفظ او غږ په رامنځته کولو کې مهم رول لري، نو اړینه ده چې دهغو له نومونو، شمېر او دندو څخه د تجوید په علم کې یادونه وشي هر بالغ انسان ۳۲ غاښونه لري چې ۱٦ غاښونه په پورتنۍ ژامه کې وي او ۱٦ نوریې په لاندنۍ ژامه کې، له دغو ۳۲ غاښونو څخه مخامخ څلورو غاښونو ته (ثنایا)، دوو پورتنیو ته (ثنایا علیا) او دوو لاندېنیو ته (ثنایا سفلی) ویل کېږي.

په څنگ کې یې ٤ نور غاښونه دي (چې دوه پورته او دوه کښته دي) چې (رباعیات) یا (قواطع) یې بولي.

د رباعیاتو په څنگ کې ٤ تېره غاښونه دي (چې دوه پورته او دوه کښته دي) چې هغو ته (آنیاب) او یا (کواسر) ویل کېږي.

بیا د آنیابو تر څنگ ٤ نور غاښونه دي (چې دوه پورته او دوه کښته دي هغو ته (ضواحک) ویل کېږي.

د ضواحکو په څنگ کې ۱۲ نور غاښونو (چې شپږ پورتنۍ برخه کې (دري یې په ښي اړخ کې او دري یې په کیڼ اړخ کې دي) او شپږ په لاندې برخه کې(دري یې په ښي اړخ کې او دري یې په کیڼ اړخ کې) دغو ټولو ته (طواحن) ویل کېږي.

د طواحنو په څنګ، د خولې په وروستۍ برخه کې څلور نور غاښونه چې (دوه پورته او دوه کښته دي) هغو ته (نواجذ) ویل کېږي.

ټولو ۲۰ غاښونو ته چې ضواحک،طواحن او نواجذ دي (اضراس) ویل کېږي.[۱]

**د غاښونو شکل**




۱- په نومړو نومونو باندې د نومولو وجه : ثنایا د ثنیة جمع ده او دوه ګوني ته ویل کېږي، ځکه چې دا غاښونه په دوو اړخونو کې دوه دوه دي، نو ددې لپاره ورته ثنایا ویل کېږي، رباعیات د رَبعَیَة جمع ده(څلورګونی) او دا څلور غاښونه د ثنایا په څلورو اړخونو کې دي نو له همدې وجې ورته رباعیات ویل کېږي، آنیاب د ناب جمع ده(تېغ) ته ویل کېږي ، د تیره والي په خاطر په آنیابو ونومول شو، ضواحک د ضاحکة جمع ده، د خندا پر مهال ددغو غاښونو برملا کېدلو په وجه ورته ضواحک وایې، طواحن د طاحنة جمع ده (ژرنده کول او میده کولو ته وایي) ځکه دا غاښونه د غذا په میده کولو کې زیات رول لري، نو ورته طواحن ویل کېږي. نواجذ د ناجذة جمع ده، او نجذ په اصل کې محکم نیولو ته ویل کېږي، ځکه دا غاښونه معمولا د ۲۰ کلنۍ او د بلوغ او عقل پخېدو نه وروسته راخېژي، نو له همدې وجې ورته نواجذ وایي، او په فارسي کې ورته (عقل دندان)وایي او اضراس د ضرس جمع ده د تېغ لرونکي او میده کوونکي په معنا دی او له همدې وجې نه ورته اضراس ویل کېږي.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې سورت تمرين کړي او هر توری دې له خپل مخرج څخه د استاد پر وړاندې تلفظ کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ١ حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ٢ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٣
ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٤ كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُونَ عِلۡمَ ٱلۡيَقِينِ ٥ لَتَرَوُنَّ
ٱلۡجَحِيمَ ٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ ٱلۡيَقِينِ ٧ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ
ٱلنَّعِيمِ ٨﴾

## پوښتنې

١. د څه لپاره باید غاښونه وپېژنو؟ د تجوید په علم کې د هغو ارزښت بیان کړئ.

٢. یو بالغ انسان څو غاښونه لري؟نوم یې واخلئ.

٣- ثنایا غاښونه کوم دي؟معلومات ورکړئ.

٤- رباعیات غاښونه کوم دي؟معلومات ورکړئ.

٥. انیاب غاښونه کوم دي؟معلومات ورکړئ.

٦. ضواحك غاښونه کوم دي؟معلومات ورکړئ.

٧. طواحن او نواجذ څه توپیر لري؟ بیان یې کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د غاښونو د پاکوالي، ساتنې او د توريو او اوازونو په توليد کې د غاښونو د ارزښت په اړه يوه مقاله وليکي چې تر پنځو کرښو لږه نه وي.

## ژبه او د ژبې مخرجونه(۱)

### لسان (ژبه)

ژبه چې د خبرو د پوهولو را پوهولو وسیله بلل کېږي، لس مخرجونه لري او له ژبې څخه (۱۸) توري ادا کېږي چې هغه (ق، ك، ج،ش، غیرمدي یا،ض،ل،ن،ر،ط، د،ت،ص،ز،س،ظ،ذ،ث) دي چې په لاندې ډول په تفصیل سره ذکر کېږي:

د ژبې برخې




### د (ق) مخرج

کله چې د ژبې بېخ (وروستی برخه) د تالو له ژبې سره یو ځای شي، نو د (ق) حرف ادا کېږي. لکه: ﴿رَزَقْنهمْ﴾.



**پنځم مخرج**: د «ق» مخرج: د ژبې بېخ او لهات

## د (ک) مخرج

کله چې د ژبې بېخ (وروستی برخه) د تالو له ژبې سره، خو د (ق) له مخرج څخه لږ لاندې د خولې په لور یو ځای شي، له هغه ځخه د (ك) حرف ادا کېږي. لکه: ﴿يَكْذِبُوْنَ﴾او دغو دوو حرفونو ته لهوي(تالوته منسوب) حرفونه ویل کېږي.



شپږم مخرج: د «ک» مخرج د ژبې بېخ او د کوچنۍ ژبې اړخونه

## د (ج، ش او غیر مده یا) مخرج

کله چې د ژبې منځ له پورتني تالو سره یو ځای شي، نو له دغه ځایه درې توري اداکېږي چې هغه "ج، ش او غیر مده یا" (د لین یا او متحرکه ي)، دي. دغو توریو ته شجریه توري ویل کېږي[1]. لکه: ﴿اَجْرٌ﴾، ﴿اَشْتَاتًا﴾ او ﴿خَيْرُالْبَرِيَّةِ﴾.



اووم مخرج: د ج، ش، متحرکې یا او د لین یا مخرج: د ژبې منځ او د هغه مقابل تالو

۱- ځکه چې (شَجْر) د خولې خلاصوالي او درز ته ویل کېږي، (شجر بینهم= دهغوی په منځ کې درز او اختلاف پیدا شو) کېدای شي دلته یې موخه دا وي چې ددې حرف په تلفظ کې یو گنبدي شکل جوړول او د خولې تر چت لاندې تلل وي، لکه: د ونې د تنې په منځ کې چې درز پیدا شي.

## تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې لاندې ایتونه تمرین کړي، لهوي او شجریه توري دې له خپل مخرج څخه ادا کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿الٓمٓ ١ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ٢ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا
رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣ وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ وَبِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ٤ أُوْلَٰٓئِكَ
عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ
ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٦ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡۖ وَعَلَىٰٓ
أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٧﴾

## پوښتنې

۱- ژبه د خبرو څه ډول وسیله ده او څو مخرجونه لري؟ یواځې نوم یې واخلئ.

۲-له ژبې څومره توري راوځي؟

۳-ژبه څو برخې لري؟ نوم یې واخلئ.

٤-(ق) او (ک) له کوم ځایه اداء کېږي؟ نوم یې واخلئ.

٥- (ج، ش او غیر مدی ی) له کوم ځایه راوځي؟ مثال ورکړئ.

٦- په لاندې آیتونو کې لهوي او شجریه توري وښیئ.

﴿هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ (١) وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ (٢) عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ (٣) تَصْلَى نَارًا حَامِيَةً
(٤) تُسْقَى مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ (٥) لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِنْ ضَرِيعٍ (٦) لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِنْ جُوعٍ
(٧) وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاعِمَةٌ (٨) لِسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ (٩) فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ (١٠)﴾.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې درې داسې آیتونه ولیکي چې په هغو کې د (ق) او (ك) لهوي او د (ج،ش او غیر مدي یا) شجریه توري کارېدلي وي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې راوړي.

## ژبه او د ژبې مخرجونه (۲)

### د (ض) مخرج

کله چې د ژبې اړخ (ښی اړخ وي که کیڼ که څه هم کیڼ اړخ لږ اسانه وي) له پورتنیو آضراسو غاښونو سره ولګیږي، نو له هغه ځایه د (ض) توري ادا کیږي.[1]

لکه: ﴿وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾.

دا حرف له ښي او کیڼ اړخ دواړو څخه ادا کېدای شي، خو له ښي اړخ څخه ادا یې آسانه ښکاري.



اتم مخرج: د «ض» د تلفظ مخرج: د ژبې اړخ او د پورتني اضراس پنځه غاښونه

### د (ل) مخرج

کله چې د ژبې څوکه د پورتنیو ثنایا غاښونو له ورۍ (د ژامې هغه برخه چې د غاښونو جرړې پکې وي چې هغې ته اورۍ ویل کیږي)، سره یو ځای شي، نو له هغه ځایه د (ل) حرف ادا کیږي. لکه: ﴿الَّذِيْن﴾.

۱- د (ض) حرف په عربي ژبه کې د تلفظ له اړخه له سختو حرفونو څخه شمېرل کیږي نو له دې امله اړینه ده چې دا حرف له یو ماهر استاد څخه ولوستل شي، او ددې حرف د دال او یا د ظا په څېر لوستل سم نه دي، او د ماهر استاد په نه شتون کې بیا د (ظا) سره په ورته والي کې یې لوستل صحیح والي ته نږدې دي ( ځکه په ځینو صفتونو کې د دال حرف په پرتله دواړه نږدې دي.



**نهم مخرج: د «لام» مخرج: د ژبې مخکنۍ برخه چې د پورتنيو ثنايا غاښونو له ورۍ سره ولګېږي**

## د (ن) مخرج

د (ن) مخرج د (ل) د مخرج په څېر دی، خو توپیریې په دې کې دی چې په (ل) کې د ضواحکو غاښونو رول دی، او (ن) له پزې څخه راوځي. لکه: ﴿أَنْعَمْتَ﴾.



**لسم مخرج: د «ن» مخرج: د پورتنيو ثنايا، رباعي غاښونو له وريو سره د ژبې د څنډې نښلېدل.**

## د (ر) مخرج

د(ر) مخرج د (ن) له مخرج سره نږدېوالی لري، خو توپیر يې په دې کې دی چې د (ر)په توري کې د ژبې د شا اړخ هم دخالت لري.[1] لکه: ﴿ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾.

---

١- دا دري حرفونه (ل ن ر) د ژبي د څوكې د اشتراك په وجه ورته (ذلقي او طرفي= څوكه او د ژبي نرۍ څوكه) باندې هم يادېږي.




**یوولسم مخرج: د «را» مخرج د ثنایا او رباعي غاښونو له وریو سره د ژبي د لاندنۍ برخي نښلېدل**

## د (ط،د،ت) مخرج

د ژبي څوکه چې د ثنایا علیا غاښونو له ورې سره یو ځای شي، نو دا درې توري ادا کیږي.[1] لکه: ﴿الطَّيِّبَٰتُ﴾، ﴿ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ ﴾ و ﴿ءَاخَرَٰتٖ﴾.




**دولسم مخرج: د (ط، د، ت) مخرج: د ژبي څوکه او د پورتنیو ثنایا غاښونو بېخ**

## د (ظ،ذ،ث) مخرج

د ژبي څوکه چې د ثنایا علیا له غاښونو او ورې سره یو ځای شي، نو دا درې حرفونه (ظ،ذ،ث) تلفظ کیږي.[2] لکه: ﴿وَلَا تُظۡلَمُونَ﴾، ﴿فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ﴾ و ﴿وَٱلثَّمَرَٰتِ﴾.

۱- دغو درېو حرفونو ته چې (ط د ت) دي (نطعي) (نطع= دثنایا علیا د اورې په شا باندې لیکې دي چې ددې درې حرفونو ځای دی) ویل کیږي.

۲- دې درې حرفونو ته (ظ ذ ث) ته (لثوي) ویل کیږي، ځکه چې د ژبي څوکه د ثنایا علیا د غاښونو له تماس څخه وروسته د اورې په مرسته دا درې حرفونه ادا کیږي.




**ديارلسم مخرج:** د (ظ، ذ، ث) د راوتلو ځای د ژبې څوکه او د پورتنيو ثنايا غاښونو څنډه.

## د (ص، ز، س) مخرج

د ژبې د پورتنۍ مخکې برخې سطحه (د ژبې له څوکې نه لږ شاته) د خپلې برابرې برخې سره چې د اورۍ او تالو او د ژبې څوکه د ثنايا سفلى او د ژبې څنګونه له اضراسو سره يو ځای شي، نو دا دري حرفونه تري ادا کيږي (ص ز س).[1]

لکه: ﴿فَاصْطَادُوْا﴾، ﴿وَالزَّيْتُوْنِ﴾ و ﴿اَسْفَلَ﴾.




**څوارلسم مخرج:** د (ص، ز، س) **مخرج:** د ژبې څوکه او د لاندنيو غاښونو بيخ

---

۱-د (ص ز س) په تلفظ کې هم د ژبې پورتنۍ برخه له ورۍ او تالو په منځ برخې سره لګيږي، او هم د ژبې څوکه د ثنايا سفلى له ورۍ سره يو ځای کيږي، او هم د ژبې اړخونه له پورتني اضراسو غاښونو سره يو ځای کيږي تر څو دا دري حرفونه (ص ز س) ترينه ادا شي، دا حرفونه له سوت (قمچېني) له اواز سره د مشابهت له وجې ورته (صفير) ويل کيږي، او ددي په خاطر چې دا توري له (آسلة اللسان= يعني د ژبې له مخکې نرۍ برخې سره د يو ځای کېدو له وجې ورته آسلى ويل کيږي.

## تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې لاندې آیتونه تمرین کړي او د ( ض،ل،ن،ر،ط،د،ت،ظ،ث،ص،ز،س) توري دې له خپل مخرج څخه ادا کړي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ وَءَاثَرَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ ٱلْجَحِيمَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنْ
خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾ يَسْـَٔلُونَكَ
عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ
مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾ ﴾

## پوښتنې

١- د مخرج په لحاظ د (ض) او (د) په منځ کې څه توپیر دی؟

٢- (ل) له کوم ځایه ادا کیږي؟

٣- د (ل)،(ن) او (ر) د مخرجونو په منځ کې څه توپیر دی؟

٤- د (ط،د،ت) مخرجونه په بېلابېلو مثالونو سره واضح کړئ.

٥-د (ظ، ذ، ث) لپاره یو یو مثال راوړئ او هر یو مخرج په ګوته کړئ.

٦-د (ص، ز،س) حروف څه بولي او مخرج یې کوم دی؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې داسې کلمات وليکي چې په هغو کې د (ض،ل،ن،ر،ط،د،ت،ظ،ث،ص،ز،س) توري کارېدلي وي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې راوړي.

# شفتان او خیشوم

شفتان (شونډې)

په شونډو کې دوه مخرجونه دي او څلور حرفونه (فا،با،میم،واو) ترینه اداکېږي چې په تفصیل سره بیانېږي.

## د (ف) مخرج

کله چې د لاندې شونډې منځ د ثنایا علیا غاښونو له سرونو سره یو ځای شي د(ف) حرف اداکېږي. لکه:﴿اَفْوَاجًا﴾.



پنځلسم مخرج: د(ف) مخرج: د پورتنیو ثنایا غاښونو څوکه او د لاندنی شونډې داخلي برخه

## د (ب، م، و) مخرج

د شونډو په مرسته دري حرفونه (ب،م، غیر مده واو) اداکېږي، یواځې په دې توپیر چې:

د (ب) حرف د دواړو شونډو د لمدې برخې د یو ځای کولو پرمهال پداسې حال کې چې پزه بنده وي، اداکېږي، له همدې وجې دیته (بحري) وایي.

د (م) حرف د دواړو شونډو د وچې برخې د یو ځای کولو پر مهال پداسې حال کې چې د پزې لاره خلاصه وي( د میم اواز له پزې څخه راوځي) او ددې په خاطر چې دا حرف د شونډو له وچې برخې څخه اداکېږي (بري) بلل کېږي.

د (و) حرف د دواړو شونډو د نه پوره یو ځای کېدلو په پایله کې اداکېږي.[1]

لکه: ﴿تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ﴾، ﴿بِسَلَٰمٖ مِّنَّا﴾.




شپاړسم مخرج: د (ب، م، متحرک واو او لین) مخرج: دواړې شونډې.

## خیشوم

د پزې منځنۍ برخې ته (خیشوم) وایي او کوم اواز چې له هغې څخه بهر ته راځي (غنه) بلل کېږي.

(غنه) په ټولو حالاتو کې یواځې په دوو توریو کې کېږي چې (م) او (ن) توري دي.[2]

لکه: ﴿عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ﴾ و ﴿أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ﴾.



اوولسم مخرج: دغنې مخرج: د پزې فضا.

۱- دغو څلورو حرفونو ته (ف ب م و) ددې په خاطر چې شونډې پکې زیات رول لري (شفوي) وایي.
۲- یعني سکون، حرکت او تشدید، که څه هم په میم او نون مشدد کې غنه ښه ظاهره کېږي.

# د حرفونو د مخرجونو جدول(چوکاټ)

| حرفونه | نوم | مخرج | عنوان |
| --- | --- | --- | --- |
| مدّی الف- مدّی واو- مدّی یا | مدي توري | د خولې تشه برخه | جوفي- هوايي توري |
| همزه-ها<br>عين-حا<br>غين-خا | د حلق توري | د حلق لرې برخه، ستونې ته نږدې<br>د حلق منځنۍ برخه<br>خولې ته د حلق نږدې برخه | حلقي حرفونه |
| قاف<br>کاف | د ژبې توري<br>د ژبې توري | د ژبې اخرې برخه له تالو ژبې سره<br>د ژبې وروستۍ برخه له تالو ژبې سره د قاف تر مخرج لاندې | لَهَوِیْ |
| جيم-شين-غير مده يا | د ژبې توري | د ژبې منځنۍ برخه له پورتني تالو سره مخامخ | شَجْرِیْ |
| ضاد | د ژبې توري | د ژبې يواړخ له اضراسو غاښونو سره | ضِرْسِیْ- حَافِيْ |
| لام | د ژبې توري | د ژبې د څوکې اړخ د پورتني ثنايا له ورێ سره | ذَلَقِيْ |
| نون | د ژبې توري | د ژبې د څوکې اړخ د پورتني ثنايا له ورێ سره او له پزې څخه د اواز وتل | ذَلَقِيْ |
| را | د ژبې توري | د ژبې څوکه چې وروسته ته مايله ورێ او پورتني تالو سره | ذَلَقِيْ |
| طا-دال-تا | د ژبې توري | د ژبې څوکه له پورتني ثناياو له وريو سره | نِطْعِیْ |
| ظا-ذال-ثا | د ژبې توري | د ژبې څوکه د ثنايا عليا له سرونو او دننه برخه د ورێ | لِثَوِیْ |
| صاد-سين-زا | د ژبې توري | د ژبې د څوکې وروستۍ برخه له خپلې مخامخې برخې سره او دژبې څوکه د ثنايا سفلی له ورێ سره او د ژبې څنګ له پورتني اضراسو غاښونو سره | أَسَلِي- صفير |
| فا | شفوي توري | د لاندنۍ شونډې منځ برخه د ثنايا عليا غاښونو له سرونو سره | شَفَوِیْ |
| با-ميم-واو | شفوي توري | د دواړو شونډو ديو ځای کېدوحالت کې(ب م) او په منځ کې يې د فاصلې په حالت کې (و) | شَفَوِیْ |
| ميم او نون | غنوي توري | خيشوم(دپزې تشه فضا) | غُنَّهْ توري |

## تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې راتلونکي آیتونه تلاوت کړي او په عملي ډول دې هر توری له خپل مخرج څخه ادا کړي.

﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا(٣١) حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا(٣٢)وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا (٣٣)وَكَأْسًادِهَاقًا(٣٤)
لَايَسْمَعُونَ فِيهَالَغْوًاوَلَاكِذَّابًا(٣٥) جَزَاءً مِنْ رَبِّكَ عَطَاءًحِسَابًا(٣٦)رَبِّ السَّمَاوَاتِ
وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمَنِ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا(٣٧)يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ
صَفًّا لَا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ وَقَالَ صَوَابًا(٣٨)ذَلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ فَمَنْ شَاءَ
اتَّخَذَ إِلَى رَبِّهِ مَآبًا(٣٩)إِنَّا أَنْذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ
الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا(٤٠)﴾

## پوښتنې

١- شونډېي څو مخرجونه لري او څو توري ترې را وځي؟
٢- د (ف) توري څرنګه ادا کېږي؟ عملاً يې تمثيل کړئ.
٣- د (ب) او (م) د مخرجونو په منځ کې څه توپیر دی؟
٤- (و) حرف له کوم ځایه او څرنګه ادا کېږي؟ عملاً يې تمثيل کړئ.
٥- خیشوم تعریف کړئ او توري يې وښيئ.
٦-غنه څه ته وايي او کوم توري دغه صفت لري؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي باید په خپلو کتابچو کې د هجا ٢٩ توري د هر یو دمخرج له معلومولو سره ولیکي او په راتلونکي لوست کې دې له ځان سره راوړي.

## د حرفونو صفتونه( اصلي او عارضي ) [(١)]

### د صفت تعریف

صفت په لغت کې هغې معنا او خصوصیت ته ویل کېږي چې قائم په غیر وي، لکه: علم،سپینوالی، تورروالی او داسې نور.

په اصطلاح کې د توري صفت هغه خصوصیت او کیفیت ته ویل کېږي چې د اداکولو پر مهال یو توري ته ورکول کېږي، لکه: جهر، همس، شدت او داسې نور.

### د حرف د صفتونو ډولونه

لومړی صفتونه په دوو ډولونو وېشل کېږي

١-اصلي صفتونه ٢- عارضي صفتونه

### ١-اصلي صفتونه

هغو صفتونو ته ویل کېږي چې له توري څخه هېڅ نه جلاکېږي اوکه په پام کې ونه نېول شي، نو توري په بشپړ ډول له منځه ځي[(٢)]، لکه: جهره، شدت، استعلا، اطباق، اذلاق

١- د حروفو دصفاتو د پېژندلوګټې: ١- د هم مخرجه حرفونو په منځ کې بېلتون، لکه: په (ز) جهر دی او په (س) کې همس دی، که په (ز) کې جهر له منځه لاړ شي، نو په (س) بدلیږي. ٢- حرفونه په ښه او پوره ډول اداکېږي. ٣- قوي حرفونه له کمزورو حرفونو څخه تشخیص اوپیژندل.

٢- باید واضح شي چې د حرف له منځه تلل بیلابیلې بڼې لري: ١- یا یو حرف په بل حرف باندي بدلېږي، لکه د (ص) او (ظ) حرفونه که چېرته په دوی کې استعلاء او اطباق مراعت نه شي نو په (س) او (ذ) بدلیږي اوکه چېرته د قلقې صفت په ٠(د) کې مراعت نه شي، نو په (ت) بدلیږي. ٢- یا دا چې حرف په خپل حالت پاتې کېږي، خوکمی او نقصان منځ ته راځي، لکه: که په

او...

اصلي صفتونو ته (ذاتيه)،(لازمه)،(مميزه) او مقومه هم ويل کېږي.

## ۲- عارضي صفتونه

هغه ډول صفتونو ته ويل کېږي چې کله له حرف سره وي او کله ترېنه جلا کېږي او که مراعات نه شي، حرف له منځه نه ځي. البته ښايست او مزه يې له منځه ځي، لکه: تفخيم،ترقيق،غنه او دا سې نور.

عارضي صفتونو ته (محسنه)، (مزينه)،او (مُحَلِّية) هم ويل کېږي.

په ټوليز ډول اصلي صفتونه ۱۷ دي چې ۱۰ صفتونه يې متضاد (يودبل ضد) دي او ۷ صفتونه يې غيرمتضاد دي چې هر يو يې په لاندې ډول شرحه کېږي.

## اصلي متضاد صفتونه

هغه صفتونه دي چې د خپل ځان ضد وي چې په ټوليز ډول لسو صفتونو ته رسېږي چې هر يو په لاندې ډول شرحه کېږي.

جهر: ضد يې همس

شدت: ضد يې رخوت

استعلا: ضد يې استفال

---

(همزه) کې د شدت صفت مراعت نه شي او يا په (م) او (ن) کې د غنې صفت، نو حرف په ناقصه توګه منځ ته راځي. ۳- او يا دا چې حرف له عربيت او فصاحت څخه اوځي او په يو بل ساختګي او له ځانه جوړ شوي حرف باندې بدلیږي، لکه: که چېرته له (ب) او (ج) څخه د قلقلې صفت واخستل شي، نو په (پ) او(چ) بدليږي او که له (ش) څخه د تفشي صفت واخيستل شي، نو په يو نا معلوم او ځانه جوړ شوي حرف بدلېږي.

اطباق: ضد يې انفتاح

اذلاق: ضد يې اصمات

ټولټال ۱۰ صفتونه کېږي چې په وروستيو درسونو کې به هر يو په تفصيل بيان شي.

### تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې آيتونه ولولي او اصلي او عارضي صفتونه دې په ګوته او تطبيق کړي.

﴿يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا لَا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ
وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ فَمَنْ شَاءَ اتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِ مَآبًا ﴿٣٩﴾ إِنَّا
أَنْذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي
كُنْتُ تُرَابًا ﴿٤٠﴾﴾

### پوښتنې

۱. صفت په لغت او اصطلاح کې تعريف کړئ.

۲- صفت په څو ډوله دی؟ يوازې نوم يې واخلئ.

۳. اصلي صفت تعريف او د هغه نور نومونه هم واخلئ.

٤. عارضي صفت تعريف او د هغه نور نومونه هم واخلئ.

۵. اصلي متضاد صفتونه تعريف او د هغوی شمېر وښيئ.

٦. د توریو د اصلي صفاتو دمراعت کولو ارزښت بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د تورو دصفاتو د ارزښت او ګټو په اړه یوه مقاله ولیکي چې تر شپږو کرښو لږه نه وي او ټولګي ته دې راوړي.

## جهر او همس

### جهر

په لغت کې د ښکاره او اوچت آواز په معنا راځي.[1]

او د تجوید په اصطلاح کې د اداء کولو پر مهال د حرف ښکارولو ته وايي. داسې چې د هغه د تلفظ پر مهال نفس(ساه) بنده او قطعه شي.

هغه حرفونه چې داسې خصوصیت ولري، نو (مجهوره) بلل کېږي او ۱۹ حرفونه دي ( ا-ب-ج-د-ذ-ر-ز-ض-ط-ظ-ع-غ-ق-ل-م-ن-و-ء-ی) چې په لاندې عبارت کې راټول شوي دي :

«عظُمَ وَزنُ قارئٍ غَضٍّ ذِی طَلَبٍ جِدٍّ».[2]

راتلونکي کلمې چې په هغو کې مجهوره حرفونه راغلي دي، تلفظ یې کړئ.

﴿قٓ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡمَجِيدِ﴾، ﴿اِطْعمُ﴾، ﴿ضَرِیْعٍ﴾، ﴿مَغْرَمًا﴾، ﴿اَظْلَمَ﴾، ﴿اَزْوَاجٌ﴾، ﴿وَ اِذْ قَالَ﴾، ﴿أَمۡ أَبۡرَمُوٓاْ﴾.

---

۱- په قرآن کریم کې راغلي دي :[ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ] (الحجرات: ۲) یعني د رسول لله-صلی الله علیه وسلم- په وړاندې اوچتې خبرې مه کوئ. طبعي ده چې د مجهوره حرفونو د تلفظ پر مهال صوتي تارونه په خوځښت او ارتعاش راځي او حرف پداسې ډول له مخرج څخه وځي چې د اواز په اوچتولو سره او د ساه په بندولو سره پای ته رسېږي.

۲ - ژباړه: هغه قاري چې له منکراتو څخه سترګې بندې کړي، پلټونکی او تالاش کوونکی وي، د کټونکو په لېد کې دروند او سنګین ښکاري.

## همـــس

د جهر ضد او په لغت کې پټ او ورو آواز ته ويل کېږي.

او په اصطلاح کې په کراره او ورو د توري تلفظ کول دي چې ساه پکې په آرامی جريان ولري او بغير له فاصلې قطع نه شي.

هغه توري چې دغه صفت ولري، (مهموسه) بلل کېږي او دا ۱۰ توري دي(ت-ث-ح-خ-س-ش-ص-ف-ك-هـ)، چې په راتلونکي تعبير کې راټول شوي دي (سكت فحَثَّه شخصٌ)[1]

راتلونکې کلمې چې په هغو کې مهموسه توري راغلي، تلفظ کړئ.

﴿تبَّتْ﴾، ﴿وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا﴾، ﴿أَحْقَابًا﴾، ﴿مُخْتَلِفُونَ﴾، ﴿وَالسَّبِحَاتِ سَبْحًا﴾، ﴿أَشْتَاتًا﴾، ﴿ اَهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾، ﴿ أَفْوَاجًا﴾.

## پاملرنه

د (ك) او (ت) تورو په تلفظ کې غور اړين دی. دهمس په صفت کې دومره مبالغه بايد ونه شي چې د دغو دوو تورو په پای کې د (هـ) توري زيات شي، لکه داسې تلفظ نه شي:(اکهـ، اتهـ) ځکه دا حرفونه د هندي او اردو ژبو له ځانګړ تياوو څخه دي او په عربي ژبه کې هيڅ ځای نه لري.

۱- ژباړه: غلی او چپ وو،نو يو چا هغه تشويق کړ او وېې هڅاوه او مشهوره ترکيب ددې داسې دی چې (فحثه شخص سکت معنا يې بيا داسې کېږي چې: هغه يو غلي او خاموشه سړي وهڅاوه او په کار کولو يې مجبور کړ.

## تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې لاندې آیتونه ولولي او د جهر او همس دوه متضاد صفتونه دې پکې تطبیق کړي.

﴿فَأَمَّا مَنْ طَغَى (٣٧) وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا (٣٨) فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَى (٣٩) وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى(٤٠) فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى (٤١) يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا (٤٢) فِيمَ أَنْتَ مِنْ ذِكْرَاهَا (٤٣) إِلَى رَبِّكَ مُنْتَهَاهَا(٤٤) إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَخْشَاهَا(٤٥)كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا(٤٦)﴾

## پوښتنې

١.د جهر صفت تعریف او ووایئ، هغه توري چې دغه صفت ولري، په کوم نوم یادیږي؟

٢- مجهوره توري د یوې جملې په ترڅ کې بیان کړئ.

٣. څلور داسې کلمې ذکر کړئ چې مجهوره حروف پکې کارېدلی وي.

٤. همس تعریف کړئ او توري یې وښیئ.

٥. څلور کلمې ذکر کړئ چې مهموسه توري پکې کارېدلي وي.

**کورنی دنده**

زده کوونکي دې دوه آیتونه ولیکي چې مجهوره او مهموسه توري پکښې وي او هغه دې په نښه کړي.

# شدّت او رخوت

## شدت

په لغت کې د سختۍ او قوت په معنا دی.

او په اصطلاح کې د حرف قوي او سخت اداکولو ته وايي چې د آواز پوره بندولو ته اړ شي.

هغه حرفونه چې دا ډول صفت ولري (شديده توري) بلل کېږي او ۸ حرفونه دي(ب-ت-ج-د-ط-ق-ک-ء) چې په راتلونکي عبارت کې راټول شوي دي: (اجدك قطبت).[1]

په راتلونکو کلمو کې چې شديده حرفونه راغلي دي، تلفظ يې کړئ.

﴿تبَّتْ﴾، ﴿اَجْرَمُوْا﴾، ﴿وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلدِّينِ﴾، ﴿إِطْعَمٌ﴾، ﴿اِقْتَرَبَ﴾، ﴿اَكْبَرُ﴾.

## رخوت

د شدت ضد دی او په لغت کې د نرمۍ او سستۍ په معنا راځي.

او په اصطلاح کې په نرمۍ او آرام د حرف اداکول دي چې ډېر په راحت او آرام سره له خپل مخرج څخه ادا شي.

هغه حرفونه چې دغه صفت لري (رخوه توري) بلل کېږي او ۱۶ حرفونه لري (الف-ث-ح-خ-ذ-ز-س-ش-ص-ض-ظ-غ-ف-و-هـ-ی)

په راتلونکو کلمو کې د رخوه حرفونه راغلي، تلفظ يې کړئ.

﴿وَ اِثْـمُهُمَا﴾، ﴿اَحْقَابًا﴾، ﴿مُخْتَلِفُوْنَ﴾﴿وَ اِذْ اَخَذْنَا﴾، ﴿وَ لَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى﴾، ﴿اِسْرَافًا﴾، ﴿رُشْدًا﴾، ﴿سَيَصْلٰى﴾، ﴿وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾، ﴿لَا تَظْلِمُوْنَ وَ لَا تُظْلَمُوْنَ﴾.

## د (شدت او رخوت) په منځ کې صفت

د شدت او رخوت په منځ کې يو بل صفت شته چې هغه ته (توسط) وايي.

## توسط

په لغت کې د منځ لاري په معنا راځي او په اصطلاح کې په داسې ډول د يو حرف اداکول دي چې د تلفظ پر مهال د شدت او رخوت تر منځ وي، يعنې نه اواز په بشپړ ډول قطعه شي او نه په بشپړ ډول جريان پيدا کړي، بلکې منځنۍ حالت اختيار کړي.

---

۱- تا خفه او ناخوښ وينم او په بل عبارت هم جمع شوی دی (آجد قط بکت) يعنې ښځه مې د قط په نامه پيدا کړه چې ژړا يې کوله او ځينو قط د پيشو په معنا ذکر کړی دی.

هغه حرفونه چې دغه صفت ولري (متوسطه او بينيه) بلل کېږي او پنځه توري لري (ر-ع-ل-م-ن) دي چې د (لن عمر) په عبارت کې راټول شويدي.[1]

په راتلونکو کلمو کې متوسطه توري راغلي دي، تلفظ يې کړئ:

﴿اَرْبَابًا﴾، ﴿اَعْلَمُ﴾، ﴿أَلْهَـٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ﴾ و ﴿اَنْعَمْتَ﴾.

**تمرين او تطبيق**

زده کوونکي بايد راتلونکي آيتونه تلاوت کړي او درې صفتونه( شدت، رخوت او توسط) چې يې لوستلي دي، په هغو کې تطبيق کړي.

﴿عَبَسَ وَتَوَلَّى (١) أَنْ جَاءَهُ الْأَعْمَى (٢) وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّى (٣) أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرَى
(٤) أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَى (٥) فَأَنْتَ لَهُ تَصَدَّى (٦) وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّى (٧) وَأَمَّا مَنْ جَاءَكَ يَسْعَى
(٨) وَهُوَ يَخْشَى (٩) فَأَنْتَ عَنْهُ تَلَهَّى (١٠) كَلَّا إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ (١١) فَمَنْ شَاءَ ذَكَرَهُ (١٢) فِي صُحُفٍ
مُكَرَّمَةٍ (١٣) مَرْفُوعَةٍ مُطَهَّرَةٍ (١٤) بِأَيْدِي سَفَرَةٍ (١٥) كِرَامٍ بَرَرَةٍ (١٦) ﴾

**پوښتنې**

١-د شدت صفت تعريف کړئ؟

٢- د (آجدك قطبت) په عبارت کې کوم توري يوځای شوي دي؟

٣-د رخوت صفت تعريف او د هغه توري وښيئ.

٤- په لاندې کلمو کې د رخوت توري وښيئ.﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا﴾،﴿اَوْتَادًا﴾، ﴿اِيْمَانًا﴾.

٥- توسط څه ته وايي؟

٦- په لاندې سوره کې د توسط توري وښيئ.

﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ (١) فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (٢) إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ (٣)﴾

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې درې آيتونه وليکي، د شديده، رخوت او متوسطه حرفونه دې په کې په ګوته کړي.

---

١- ژباړه: عمره نرمي وکړه! د يادولو وړ ده چې د تجويد علماوو ځينو دوه نور حرفونه(و-ی) په دې کې زيات کړيدي. ددې په خاطر يې له متوسطو څخه شمېرلي چې ټول صفتونه يې پکې شته، په دې اړه مشهور قول همغه دی چې په متن کې ذکر شو.

# استعلاء او استفال

## استعلاء

د (علا، يعلو) له کلمې څخه اخستل شوی دی، په لغت کې د اوچتې مرتبې او ځای په معنا راځي او په اصطلاح کې د ژبې بيخ (جرړه) له پورته طرف سره يو ځای کول دي، ددې لپاره چې حرف سخت او ډک تلفظ شي.[1]

هغه توري چې دغه صفت لري (مستعليه) بلل کيږي، او ۷ توري لري(خ-ص-ض-ط-ظ-غ-ق) چې د (خص ضغط قظ) په عبارت کې يو ځای شوي دي.[2]

راتلونکې کلمې چې په هغې کې مستعليه توري راوړل شوي دي، تکرار يې کړئ:

﴿خَاوِيَةٌ﴾، ﴿أَبْصَارِهِمْ﴾، ﴿وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾، ﴿لِلطَّآئِفِينَ﴾، ﴿وَذَرُوا۟ ظَاهِرَ الْاِثْمِ وَ بَاطِنَهُ﴾، ﴿وَ مَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ﴾ و ﴿قَالُوْا﴾.

## استفال

د استعلاء ضد دی، د (سفل او سفلی) له کلمې څخه اخستل شوی، په لغت کې د کښته (لاندې)په معنا راځي.

---

۱- په حرف کې د استعلاء له وجې د تفخيم صفت منځ ته راځي، خو استعلاء د تفخيم په څېر نه دی، بلکې استعلاء د تفخيم موجب دی، او ددې په خاطر چې د نومړو حرفونو د اداکولو په وخت کې د خولې فضا (انګړ) له اواز څخه ډکه وي او ډک او سخت تلفظ کيږي، نوکله هم  دغو حرفونو ته (مفخمه) هم ويل کيږي.

۲- د (خص ضغط قظ) عبارت يواځې د اسانه يادولو په خاطر يو ځای شوي دي،کومه معقوله معنا نه لري.

او په اصطلاح کې د توري د اداء کولو پر مهال د ژبې بیخ له پورتني تالو څخه دخولې د فضا په لور مایل کول دي، تر څو حرف نرى او کم حجمه تلفظ شي، یعنې د استعلاء پرعکس.

د نومورې صفت لرونکو تورو ته (مستفله) ویل کېږي، له مستعلیه تورو پرته نور ټول ۲۲ توري مستفله دي(الف-ب-ت-ث-ج-ح-د-ذ-ر-ز-س-ش-ع-ف-ك-ل-م-ن-و-هـ-ء-ى).

په راتلونکو کلمو کې د مستفله توري راغلي دي، تکرار یې کړئ.

﴿إِذَاجَاءَ﴾، ﴿ذَاتَ لَهَبٍ﴾، ﴿إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾، ﴿وَالنَّازِعَاتِ﴾، ﴿وَالسَّابِحَاتِ﴾، ﴿وَاجِفَةٌ﴾، ﴿مِهَادًا﴾، ﴿أَوْتَادًا﴾، ﴿أَزْوَاجًا﴾، ﴿سُبَاتًا﴾، ﴿لِبَاسًا﴾، ﴿مَعَاشًا﴾، ﴿ أَلْفَافًا﴾، ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴾، ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾، ﴿مَآبًا﴾، ﴿كِذَّابًا﴾ و ﴿مَفَازًا﴾.

**تبصره**: دوه توري چې (را)او (لام)دي، که څه هم له مستفله تورو څخه دي، خو کله په تفخیم سره لوستل کېږي چې تفصیل به یې د (را) او (لام) د احکامو په بحث کې راشي.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې آيتونه تلاوت او د استعلاء او استفال دوه صفتونه دې پکې تطبيق کړي.

﴿فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ (١٥) الْجَوَارِ الْكُنَّسِ (١٦) وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ (١٧) وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ (١٨)
إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ (١٩) ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ (٢٠) مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ (٢١) وَمَا صَاحِبُكُمْ
بِمَجْنُونٍ (٢٢) وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ (٢٣) وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ (٢٤) وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ
رَجِيمٍ (٢٥) فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ (٢٦) إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ (٢٧) لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَقِيمَ (٢٨) وَمَا
تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (٢٩)﴾

## پوښتنې

١. استعلاء په لغت او اصطلاح کې تعريف کړئ.

٢. د استعلا ء توري په مثال کې وښيئ.

٣- خلور داسې کلمې ذکر کړئ چې مستعلية حروف ولري.

٤. استفال څه ته وايي؟

٥. مستفله حروف وښيئ.

٦. شپږ داسې کلمې ذکر کړئ چې مستفله حروف ولري.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له لاندې آيتونو څخه داسې کلمات په خپلو کتابچو کې وليکي چې داستعلاء او استفال صفتونه په کې وي او ټولګي ته دې راوړي.

﴿وَ إِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ (١٠) كِرَامًا كَاتِبِينَ (١١) يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ (١٢) إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ (١٣) وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ (١٤) يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّينِ (١٥) وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَائِبِينَ (١٦) وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ (١٧) ثُمَّ مَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ (١٨) يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِنَفْسٍ شَيْئًا وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِلَّهِ (١٩)﴾

# اطباق او انفتاح

## اطباق

په لغت کې يو له بل سره مخامخ کېدلو،يو ځای کېدلو او د پټولو په معنا راځي. او په اصطلاح کې د ژبې د سطحې برخه چې کله -د حرف د اداکولو پر مهال د خولې له تالو سره يو ځای کېدل دي ترڅو حرف په سختۍ او له حجم څخه ډک او په تفخيم سره تلفظ شي.

هغه توري چې دغه صفت لري(مطبقه) بلل کېږي او څلور توري لري چې(ص-ض-ط-ظ)دي.

په راتلونکو کلمو کې (مطبقه) توري راغلي دي، تکرار يې کړئ.

﴿أَبْصَارِهِمْ﴾، ﴿وَلَا الضَّالِّيْنَ﴾، ﴿خِطَابًا﴾،﴿وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ وَبَاطِنَه﴾، ﴿فَإِذَا جَاءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرَى﴾،﴿أَضَاءَتْ﴾، ﴿ظَالِمُونَ﴾، ﴿غَيْرَ مُضَارٍّ﴾و ﴿فَإِذَا جَاءَتِ الصَّآخَّةُ﴾.

**تبصره**: په استعلاء کې مطلق تفخيم دی او په اطباق کې لوړه اندازه تفخيم شته، له همدې وجې په دريو تورو کې(خ-غ-ق) يواځې استعلاء ده، اطباق نه لري، تفخيم پکې لږ کېږي او په څلورو تورو کې (ص-ض-ط-ظ) هم استعلاء ده او هم اطباق، نو تفخيم پکې ډېر راځي.

## انفتاح

د اطباق ضد دی او په لغت کې د خلاص (پرانستي) او فاصلې (واټن) په معنا راځي. او په اصطلاح کې هغه حالت ته وايي چې د توري د اداکولو پر مهال د ژبې سطحه له تالو څخه په فاصله (واټن) کې وي.

هغه توري چې دغه صفت ولري (منفتحه) بلل کېږي، له مطبقه تورو پرته چې څلور توري دي، نور ۲۵ توري، ټول منفتحه دي.

په راتلونکو کلمو کې منفتحه توري راغلي، تکرار يې کړئ.

﴿يَقُولُونَ أَإِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي الْحَافِرَةِ﴾، ﴿هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَى﴾، ﴿فَأَرَاهُ الْآيَةَ الْكُبْرَى﴾، ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِمَنْ يَخْشَى﴾، ﴿أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا﴾، ﴿إِذَا جَاءَ﴾، ﴿ذَاتَ لَهَبٍ﴾، ﴿إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾، ﴿وَالنَّازِعَاتِ﴾، ﴿وَالسَّابِحَاتِ﴾، ﴿وَاجِفَةٌ﴾، ﴿مِهَادًا﴾، ﴿أَوْتَادًا﴾، ﴿أَزْوَاجًا﴾، ﴿سُبَاتًا﴾، ﴿لِبَاسًا﴾، ﴿مَعَاشًا﴾، ﴿أَلْفَافًا﴾، ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴾، ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾، ﴿مَآبًا﴾، ﴿كِذَّابًا﴾ و ﴿مَفَازًا﴾.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې آيتونه تلاوت او د اطباق او انفتاح دوه صفتونه دې پکې تطبيق کړي.

﴿فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ (١٥) الْجَوَارِ الْكُنَّسِ (١٦) وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ (١٧)
وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ (١٨) إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ (١٩) ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي
الْعَرْشِ مَكِينٍ (٢٠) مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ (٢١) وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُونٍ (٢٢) وَلَقَدْ
رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ (٢٣) وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ (٢٤) وَمَا هُوَ بِقَوْلِ
شَيْطَانٍ رَجِيمٍ (٢٥) فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ (٢٦) إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ (٢٧) لِمَنْ شَاءَ
مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَقِيمَ (٢٨) وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (٢٩)﴾

## پوښتنې

١. اطباق تعريف کړئ؟

٢ - هغه توري چې د اطباق صفت لري، کوم دي؟

٣. مطبقه توري په مثال کې وښيئ.

٤. د استعلاء او اطباق تر منځ څه مناسبت دی؟

٥. انفتاح تعريف کړئ؟

٦ . منفتحه توري په مثال کې وښيئ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې څلور داسې کلمې چې په هغو کې مطبقه او شپږ داسې کلمې چې په هغو کې منفتحه توري کارېدلی وي، په خپلو کتابچو کې وليکي او ټولګي ته دې راوړي.

# اذلاق او اصمات

## اذلاق

له (ذلق)کلمې څخه اخستل شوي او په لغت کې د تېز او تېره په معنا راځي او په اصطلاح کې په تېزی د توري تلفظ کولو ته وايي.

يعنې د ژبې د څوکې او د شونډو د سرونو په واسطه د مذلقه تورو ادا کولو ته (اذلاق) ويل کېږي.

هغه توري چې دغه صفت لري، (مذلقه) بلل کېږي او شپږ توري لري چې هغه (ب-ر-ل-م-ن-ف) دي، چې په (فَرَّ مِنْ لُبٍّ) عبارت کې يو ځای شوي دي.[1]

دري حرفونه (ف ب م) له شفوي تورو څخه دي چې د شونډو له سرونو څخه ادا کېږي او نور دري توري چې (ل ن ر) دي، د ژبې له څوکې څخه ادا کېږي.

په راتلونکو کلمو کې مذلقه توري راغلي دي، تکرار يې کړئ.

﴿فِرَارًا﴾،﴿مِن رَبِّهِمْ﴾، ﴿لِزَامًا﴾، ﴿افْتَرَى﴾،﴿مَا وَلَّاهُمْ﴾،﴿أَنْعَمْتَ﴾.

## اصمات

اصمات د اذلاق ضد دی او په لغت کې د غلی کولو او د خبرو نه کولو په معنا راځي.

او په اصطلاح کې د يو توري درووند او سخت ادا کولو ته ويل کېږي.

يعني د تلفظ پر مهال په دغو تورو کې درووند والی او ثقلت وي، نو له همدي امله دغه توري په آسانی او چټکی سره نه شي ادا کېدای.[2]

---

۱- ژباړه: له عقل څخه وتښتيد او که چېرته پورتني عبارت ته داسي اعراب ورکړ شي ( فَرّ مَنْ لَبَّ) نو معنا يي بيا داسي کيږي چې: هغه چاچې جواب ورکړ وتښتيد.

۲- عربي ژبه تل له ثقله تښتي، نو په عربي ژبه رباعی او خماسی جامده کلمه چې ټول حروف يې مصمته وي نه موندل کېږي بلکې هرو مرو بايد د اذلاق يو توری پکښې وي تر څو يې ثقلت لږ شي، نو که يوه رباعی يا خماسی کلمه په عربي کې پيدا شي چې ټول حروف يې مصمته وي، هغه کلمه غير عربي ده چې له نورو ژبو راغلې ده، لکه عسجد( جوهر او سره زر) يا عسطوس( د يو بوټي نوم دی).

هغه توري چې  دغه صفت لري، (مصمته) بلل کېږي، پر شپږو مذلقه تورو سر بېره چې ۲۳ توري کېږي، ټول مصمته بلل کېږي.

په راتلونکو کلمو کې مصمته حرفونه راغلي دي، تکرار يې کړئ.

﴿خَاشِعَةٌ﴾، ﴿وَلَاتَقْتُلُوا﴾، ﴿إِذَاجَاءَ﴾، ﴿شِدَادًا﴾، ﴿ثَجَّاجًا﴾، ﴿غَسَّاقًا﴾، ﴿وَكَأْسًادِهَاقًا﴾، ﴿عَطَاءً﴾، ﴿اتَّخذَ﴾، ﴿أَوْتَادًا﴾، ﴿أَزْوَاجًا﴾، ﴿تَزَكَّى﴾، ﴿يَسْعَى﴾، ﴿ضُحَاهَا﴾، ﴿السَّاعَةِ﴾، ﴿عَشِيَّةًأَوْضُحَاهَا﴾ و ﴿تَصَدَّى﴾

| د متضادو صفتونو جدول | | |
|---|---|---|
| ۱–جهر | د هغه ضد | ۲– همس |
| ۳– شدت | د هغه ضد | ۴– رخوت |
| ۵– استعلاء | د هغه ضد | ۶– استفال |
| ۷– إطباق | د هغه ضد | ۸– انفتاح |
| ۹– إصمات | د هغه ضد | ۱۰– إذلاق |

## د هغو تورو جدول چې اصلي متضاد صفتونه لري.

| شمېره | صفت | شمېر | توري |
|---|---|---|---|
| ۱ | جهر | نولس توري | عظم وزن قارئ غض ذي طلب جد |
| ۲ | همس | لس توري | سكت فحثه شخص |
| ۳ | شدت | اته توري | آجدك قطبت |
| | توسط | پنځه توري | لن عمر |
| ٤ | رخوت | پاتي شپاړس توري | |
| ٥ | استعلاء | اووه توري | خص ضغط قظ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦ | استفال | پاتي دوه ويشت توري | |
| ٧ | اطباق | څلور حرفونه | صض طظ |
| ٨ | انفتاح | پاتي پنځه ويشت توري | |
| ٩ | اذلاق | شپږ توري | فر من لب |
| ١٠ | اصمات | پاتي درويشت توري | |

باید پوه شو چې متضاد صفتونه ټول توري را نغاړي، په دې معنا چې هر توری باید له یادو صفتونو څخه پنځه ولري او هیڅ توری له دې قاعدې څخه مستثنی نه دی.

د بېلګې په ډول: (ب)حرف د جهر، شدت، استفال، انفتاح او اصمات صفتونه لري.

د (خ) توري د همس، رخوت، استعلاء، انفتاح او اصمات صفتونه لري.

د (ظ) توري د جهر، رخوت، استعلاء، اطباق او اصمات صفتونه لري.

### تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې راتلونکی آیتونه مشق کړي او اذلاق او اصمات صفتونه دې په خپلو ځایونو کې تطبیق کړي.

﴿إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ (٢٢) عَلَى الْأَرَائِكِ يَنْظُرُونَ (٢٣) تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ
نَضْرَةَ النَّعِيمِ (٢٤) يُسْقَوْنَ مِنْ رَحِيقٍ مَخْتُومٍ (٢٥) خِتَامُهُ مِسْكٌ وَفِي ذَلِكَ
فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ (٢٦) وَمِزَاجُهُ مِنْ تَسْنِيمٍ (٢٧) عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ
(٢٨) إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ (٢٩) وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ
يَتَغَامَزُونَ (٣٠) وَإِذَا انْقَلَبُوا إِلَى أَهْلِهِمُ انْقَلَبُوا فَكِهِينَ (٣١) وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا
إِنَّ هَؤُلَاءِ لَضَالُّونَ (٣٢) وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ (٣٣) فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُوا
مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ (٣٤)﴾

## پوښتني

۱-(فر من لب) حروف کوم صفت لري؟
۲- د اصمات صفت مطلب څه شی دی؟
۳- (ظ) کوم صفت لري؟
٤- (ق) کوم صفت لري؟
۵- (ض)کوم صفت لري؟
٦- د متضادو صفتونو نومونه واخلئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي باید له راتلونکو آیتونو څخه د اذلاق او اصمات صفت لرونکي حرفونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او په راتلونکي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

﴿فَلَا أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ (١٦) وَاللَّيْلِ وَمَا وَسَقَ (١٧) وَالْقَمَرِ إِذَا اتَّسَقَ (١٨) لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا
عَنْ طَبَقٍ (١٩) فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (٢٠) وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ(٢١)
بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ(٢٢) وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ(٢٣)فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ(٢٤)
إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ (٢٥)﴾

## اصلي غير متضاد صفتونه (١)

اصلي غير متضاد صفتونه هغه صفتونه دي چې ضد ونه لري او دا اووه صفتونه دي (صفير، قلقه، لين، انحراف، تکرير، تفشي او استطالت) چې په تفصيل سره بيانېږي.[١]

### صفير

په لغت کې د شپېلۍ په معنا او يا دمرغۍ د آواز په څېر، آواز ته ويل کېږي.

او په اصطلاح کې هغه آواز ته ويل کېږي چې د شپېلۍ په څېر وي- د اصلي حرف پر آواز سر بېره چې د تلفظ پر مهال د دوو شونډو له منځه غوږونو ته رسېږي.[٢]

ددي صفت لرونکي توري (د صفير توري) بلل کېږي او دري حرفونه (ص س ز)دي.

په راتلونکو کلمو کې د صفير توري راغلي دي، تکرار يې کړئ.

﴿الصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ﴾، ﴿الصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ﴾، ﴿الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ﴾، ﴿وَالْمُسْتَغْفِرِينَ بِالأَسْحَارِ﴾، ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الأَرْضُ زِلْزَالَهَا﴾ و ﴿وَاللهُ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ﴾.

١- پوښتنه: لومړنيو لسو صفتونو هر يو خپل ضد لرلو، لاکن اخيرني اووه صفتونه ته داسې نه دي، د بيلگي: په ډول د (ض) حرف کې استطالت شتون لري، نو په نورو ٢٨ باقي حرفونو کې بايد د هغې ضد وي يعني عدم استطالت، نو پدې وخت کې به د متضاد او غير متضاد په منځ کې توپير څه وي؟ چې لسو لومړنيو ته متضاد او اووه نورو ته غير متضاد وايو؟

ځواب: په متضاد صفتونو کې په واقع کې صفت لري او ځانگړی نوم لري، د بېلگې په ډول د شدت صفت چې د رخوت په نوم ضد صفت لري او ټول حرفونو ته شامل دي، پدي معنا چې هېڅ حرف له دي دوو صفتونو څخه خالي نه دی او يو له دې دوو صفتونو څخه  په حرف کې  ضروري او لازمي دی چې په ضد حرف کې يې عدم وي، د بيلگې: په ډول (ك) شديده حرف دی نو د شدت صفت شتون په (ك) کې  ولي په غير متضاد صفتونو کې بيا داسې نه وي، پدې معنا چې په خارج کې کوم صفت ددي په ضد نه شته، د بېلگې په ډول (ش) کې تفشي صفت دی اما په ٢٨ نورو حرفونو کې د عدم تفشي په نوم کوم صفت نه شته، نو له همدي وجې نه دې ته کومه پاملرنه نه ده شوي، نو خلاصه دا شوه چې د متضاد او غير متضاد په منځ کې توپېر دادی چې په متضاد کې دواړه ضدان بېل بېل نومونه لرې، غير متضاد کې بيا اصلاً په خارج کې يې ضد نه شته، ترڅو هغه د اعتبار وړ وگرځي.

٢- د (ص) په حرف کې اواز د غازو په څېر وي او د (س) په حرف کې د ملخ د اواز په څېر وي او د (ز) حرف اواز د مچۍ د اواز په څير وي، بايد وويل شي د (ص) په حرف کې د صفير صفت د استعلاء او اطباق په پرتله قوی وي او په ديمه درجه کې د (س) په حرف کې د همس له وجه وي او په دريمه درجه کې د (ز) په حرف کې د جهر له وجې وي، په هر حال قاري بايد د صفير حرفونو د لوستلو پرمهال د نورو صفتونو په څېر له اعتدال څخه کار واخلي او له افراط او تفريط څخه پرته يې ادا کړي.

## قلقله

په لغت کې خوځولو او په حرکت راوستلو او په اصطلاح کې د تلفظ پر مهال حرف ته د هغه په مخرج کې لړزولو او حرکت ورکولو ته وايي.[۱]

هغه توري چې دغه صفت لري (د قلقې يا مقلقل) توري بلل کېږي او پنځه توري لري چې د (ب-ج-د-ط-ق)دي. چې د (قطب جد) په عبارت کې یو ځای شوي دي.[۲]

د قلقلې ډولونه:

په مخرج کې حرف ته د آواز او حرکت ورکولو له پلوه قلقله په لاندې ډولونو وېشل کېږي:

## الف- صغری

کله چې د قلقلې حرف د کلمې په سر یا په منځ کې راشي، لکه: [قالوا] ،[رزقنا] .

## ب- وسطی

کله چې د قلقلې حرف د کلمې په پای کې را شي او ساکن وي او یا هم د کلمې په منځ کې مشدد غیر موقوف وي، لکه: ﴿اَللهُ الصَّمَدُ﴾، ﴿وَلَمْ يُولَدْ﴾، ﴿لِلطّٰغِينَ﴾، ﴿تَبَّتْ﴾، ﴿الْحَجُّ﴾ ﴿الْحَقُّ﴾.

## ج- کبری

کله چې د قلقلې حرف د کلمې په پای کې راشي او مشدد موقوف وي، لکه:
﴿وَتَبَّ﴾، ﴿بِالْحَقِّ﴾، ﴿فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ﴾.[۳]

---

۱- قلقله د دوو صفتونو د له یو ځای کېدلو څخه منځته راځي چې جهر او شدت دي او دا صفت(قلقله) په متحرکه حرفونو کې خفیف راځي او د نوي لوستونکي لپاره پر هغو پوهېدل ستونزمن لیدل کېږي، نو له دې وجې نه ځینو علماوو د قلقلې په تعریف کې د سکون قید هم اضافه کړی دی، داسي تعریف يې کړی چې: د تلفظ پر وخت په مخرج کې یو حرف ته ټکان ورکول پداسي حال کې چې هغه حرف ساکن وګرځول شي.

۲- ژباړه: د بزرګۍ محور یا لوړې طالع او بخت (قطب= د ژرندي هغي میل ته ویل کېږي چې پل د هغي په واسطه تاوېږي) او (جد= لوی شان او اوچتې طالع ته ویل کېږي.

۳- ځنې علماوو د قلقلې درجې داسې بیان کړي دي: ۱- اعلی: د (ط) په حرف کې. ۲- اوسط: د (ج) په حرف کې. ۳- ادنی: د (ب د) حرفونو کې.

## لين

په لغت کې د نرمۍ په معنا راځي او په اصطلاح کې له مخرج څخه په نرمۍ د حرف ایستل دي، په داسې شکل چې د اوریدولو وړتیا ولري.

هغه حرفونه چې دغه صفت لري(د لین حرفونه) بلل کېږي، او دوه توري لري: ساکن واو چې مخکې ترینه مفتوح(زور لرونکې حرف) وي او ساکنه یا چې مخکې ترینه مفتوح وي، لکه:

﴿الصَّيْفِ﴾ ، ﴿خَوْفٍ﴾.[1]

په راتلونکو کلمو کې چې د لین حرفونه راغلي دي، تکرار یې کړئ.

﴿وَاللَّيْلِ﴾، ﴿عَلَيْنَا﴾، ﴿وَلَسَوْفَ﴾، ﴿أَوْ أَمَرَ﴾، ﴿فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ﴾.

### تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې لاندې سورت مشق او د صفیر، قلقلې او لین صفتونه دې په خپلو ځایونو کې تطبیق کړي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ﴿١﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ﴿٢﴾ ٱلنَّجْمُ ٱلثَّاقِبُ ﴿٣﴾ إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ
﴿٤﴾ فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ﴿٥﴾ خُلِقَ مِن مَّآءٍ دَافِقٍ ﴿٦﴾ يَخْرُجُ مِنۢ بَيْنِ ٱلصُّلْبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ﴿٧﴾
إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجْعِهِۦ لَقَادِرٌ ﴿٨﴾ يَوْمَ تُبْلَى ٱلسَّرَآئِرُ ﴿٩﴾ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٍ وَلَا نَاصِرٍ ﴿١٠﴾ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجْعِ
﴿١١﴾ وَٱلْأَرْضِ ذَاتِ ٱلصَّدْعِ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَمَا هُوَ بِٱلْهَزْلِ ﴿١٤﴾ إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا ﴿١٥﴾

---

۱- د یادولو وړ ده چې لین د (و) او (ي) دایمي صفت دي، خو د دغو دوو تورو دسکون په حالت کې چې ما قبل یې مفتوح وي د دې لپاره چې د ماقبل فتحې له کبله خوله وازه وي بیا په واو او یا باندې د خولې تړلیدل د لین او نرمۍ حالت ښه ښکاروي، نو د تجوید په کتابونو کې د هغه خاص حالت ته لین ویل شوي دي.

﴿وَأَكِيدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ ٱلْكَٰفِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًۢا ﴿١٧﴾﴾

## پوښتني

١. غير متضاد صفتونه کوم دي؟

٢. صفير په لغت او اصطلاح کې تعريف کړئ؟

٣. د صفير توري په مثال کې بيان کړئ؟

٤. قلقه تعريف او توري يې وښيئ؟

٥. د قلقلې اقسام په مثال کې بيان کړئ؟

٦. لين تعريف کړئ.

٧- په ﴿وَاللَّيْلِ﴾، ﴿خَوْفٍ﴾ او ﴿يَوْمَ﴾، کې کوم صفتونه د تطبيق وړ دي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په لاندې آيتونو کې د صفير، قلقلې او لين حروف په خپلو کتابچو کې وليکي او ټولګي ته دې راوړي.

﴿إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ (١٢) إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ (١٣) وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ (١٤) ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ (١٥) فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ (١٦) هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْجُنُودِ (١٧) فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ (١٨) بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي تَكْذِيبٍ (١٩) وَاللَّهُ مِنْ وَرَائِهِمْ مُحِيطٌ (٢٠) بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ (٢١) فِي لَوْحٍ مَحْفُوظٍ (٢٢)﴾

## اصلي غیر متضاد صفتونه (۲)

### انحراف

په لغت کې میلان او کږېدلو ته وایي او په اصطلاح کې له خپل مخرج څخه بل مخرج ته د یو حرف کږول او مایلول دي.

هغه حرفونه چې دغه صفت ولري (منحرفه حرفونه) بلل کېږي، او دوه حرفونه لري: چې (ل) او (ر) دي، لام حرف له خپل مخرج څخه د ژبې اړخ ته (دضاد دمخرج په لور) او (ر) حرف له خپل مخرج څخه د ژبې شا اړخ ته (کله د لام د مخرج په لوراو کله د یا دمخرج په لور) د میلان پر مهال ادا کېږي.

لکه: ﴿وَقَالُوا مَا لَنَا لَا نَرَى رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ مِنَ الْأَشْرَارِ﴾.[۱]

### تکریر

په لغت کې د تکرار او بیا بیا د یو کار د تر سره کولو په معنا راځي او په اصطلاح کې په خپل مخرج کې د حرف پرله پسې تکرارولو ورتیا ته ویل کېږي.

دا صفت یواځې د (ر) په حرف کې پیدا کېږي.

لکه: ﴿مِنْ رَبِّهِمْ﴾، ﴿أَأَنْذَرْتَهُمْ﴾، ﴿مَرَضًا﴾.

د حرف له تکرار څخه مراد دادی چې حرف د تکرار ورتیا ولري، خو تکرار نه باید پر له پسې شکل غوره کړي، بلکې له دې څخه ځان وژغورل شي که څه هم حرف مشدد هم وي؛ مشدد حرف د یو حرف په توګه وي، نه د دوو حرفونو په توګه.[۲]

په راتلونکو کلمو کې چې د تکریر حرف پکې زیات راغلی، تکرار یې کړی.

---

۱- ص: ۶۲

۲- دا یواځې صفت دی چې د هغه د ذکر نه مقصد د هغه نه دېده کول دي په ځانګړې توګه هغه وخت کې چې را ساکن یا مشدد وي بلکې د تکریر نه ورته والی شباهت د تکریر ده څکه ددې حرف د اداء کولو پر مهال د ژبې څوکه خوریږي.

﴿ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ﴾، ﴿مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ﴾، ﴿ذُومِرَّةٍ﴾ ﴿فَرَوْحٌ وَّ رَيْحَانٌ﴾.

## تفشي

په لغت کې د خپرېدلو په معنا راځي او په اصطلاح کې کله چې د تلفظ پر مهال د خولې په فضا کې هوا خپره شي، تفشي ویل کېږي.

دا صفت یواځې د (ش) په توري کې پیدا کېږي.[1]

لکه: ﴿وَالشَّمْسِ﴾، ﴿إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ﴾، ﴿وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾، ﴿لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى﴾، ﴿وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ﴾.

## استطالت

په لغت کې د اوږدولو په معنا راځي.

او په اصطلاح کې دژبې له ابتدا څخه تر انتها پورې د اواز اوږدول او جاري کول دي.

یعنې هومره اندازه چې د توري مخرج اوږد وي، آواز یې هم اوږدېږي.

دا صفت یواځې د (ض) په توري کې پیدا کېږي چې د تلفظ پر مهال آواز د مخرج له پیل(د حافة اللسان) څخه تر اخر پورې پیدا شي.[2]

لکه: ﴿أَنْقَضَ ظَهْرَكَ﴾، ﴿وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾، ﴿يَعَضُّ الظَّالِمُ﴾، ﴿لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِنْ ضَرِيعٍ﴾، ﴿ ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَرْضِيَّةً﴾، ﴿ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى﴾.

---

۱- دا د راجح وینا پر بنسټ چې تفشي د (ش) حرف خصوصیت دی، که څه هم ځینې قائلین وايي: چې دا صفت په (ث ر س ص ض ف) کې هم شته. له تفشي څخه مراد دادی کله چې د (ش) د حرف په تلفظ کې نه باید هوا د خولې په مخکې غاښونو باندې متمرکز شي، ځکه چې د شین حرف د (س) بوی لري، بلکې ددغه حرف هوا او اواز باید د خولې په فضا او د ژبې په سطحه کې خپره شي.

۲- باید پاملرنه وشي چې د (ض) حرف په عربي ژبې کې د تفظ له اړخه ډېر سخت حر ف دی، لږ حرفونه د (ض) په څېر د عربو په مختلفو بیلا بیلو کې متنوع(ډول ډول) تلفظ شوي دي. ځینې یې د (ظ) په څېر او ځینې یې (د مفخم دال) په څېر او ځینې یې د (ط) په څېر تلفظ کوي، خو صحیح تلفظ د اهل حجازو –د وحې مرکز- په وینا کې وپلټل شي او له یو ماهر استاد سره تمرین شي.

# د اصلي غير متضاد صفتونو د حرفونو جدول

| شميره | صفت | شمير | توري |
|---|---|---|---|
| ١ | صفير | دري توري | ص-س-ز |
| ٢ | قلقله | پنځه توري | قطب جد |
| ٣ | لين | دوه توري | ساکن واو مخکې ترې فتحه او يا ساکنه يا مخکې ترې فتحه |
| ٤ | انحراف | دوه توري | ل-ر |
| ٥ | تکرير | يو توري | ر |
| ٦ | تفشي | يو توري | ش |
| ٧ | استطالت | يو توري | ض |

**تمرين او تطبيق**

زده کوونکي بايد راتلونکي آيتونه مشق او د انحراف، تکرير، تفشي او استطالت صفتونه پکې تطبيق کړي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم

﴿ أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى
ٱلْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى ٱلْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرْ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ
﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلْعَذَابَ
ٱلْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾ ﴾

## پوښتني

۱- انحراف په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.

۲- په دوو حرفونو کې چې (ل) او(ر)دي، انحراف (له یوه مخرج څخه بل مخرج ته میلان کول)څنګه تطبیقیږي؟

۳- د (ر) په توري کې له تکریر څخه مراد څه دی؟

٤- د (ش) په توري کې کوم صفت شته؟

٥- د (ض) په توري کې کوم صفت شته؟

٦- په لاندې آیتونو کې منحرفه، تکریر، تفشي او د استطالت توري وښیئ.

﴿كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا﴾ ﴿وَٱلشَّفْعِ وَٱلْوَتْرِ﴾

## کورنۍ دنده

زده کوونکي باید راتلونکي آیتونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او هغه توري چې په هغو کې د انحراف، تکریر، تفشي او استطالت صفتونه شته، کړی یې کړي او په ټولګي کې د لوستلو پر مهال یې هر حرف مشخص کړي.

﴿ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ
﴿١٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا هُمْ أَصْحَـٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌۢ ﴿٢٠﴾﴾ ﴿يَـٰٓأَيَّتُهَا
ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾﴾

# ادغام او د هغه ډولونه

## د ادغام تعریف

ادغام په لغت کې د داخلولو په معنا راځي.

او په اصطلاح په متحرك توري کې د ساکن توري داخلولو ته وايي، پداسې شکل چې د بل توري هېڅ اثر پاتي نه شي، او د یو توري په شکل کې متحرك ادا شي.

لومړي توري ته یې (مدغم) او دویم توري ته یې (مدغم فیه) ویل کېږي.

## د ادغام ډولونه

ادغام په دري ډوله دی: ۱- متماثلین ۲- متجانسین ۳-متقاربین

## ۱-متماثلین ادغام

دوه یو ځېر توري چې په مخرج او صفت کې سره پوره شریك وي.

دا ډول ادغام په دوه ډوله دی: الف: مثلین صغیر ب: مثلین کبیر.

### الف- صغیر مثلین ادغام

هغه ادغام ته ویل کېږي چې مدغم توري یې ساکن وي او مدغم فیه توري یې متحرك وي، لکه:﴿وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ﴾.

دا ډول ادغام د ټولو قاریانو په نزد واجب دی، خو په دې شرط چې: لومړی توري(مدغم) مده حرف نه وي، لکه:﴿قَالُوْا وَهُمْ﴾.

او بل دا چې مدغم حرف هاء سکته نه وي، لکه: ﴿مَآ أَغْنَىٰ عَنِّي مَالِيَهْ ــ هَلَكَ عَنِّي سُلْطَٰنِيَهْ﴾، چې د وصل په صورت کې هم لکه د وقف کولو په څېر لوستل کېږي.

### ب- کبیر مثلین ادغام

هغه ادغام دی چې مدغم او مدغم فیه دواړه متحرك وي، نو لومړی توري ساکنېږي او بیا په دویم کې مدغم کېږي. له همدې وجې ادغام په دوو مرحلو کې کېږي، نو دې ته کبیر ادغام ویل کېږي.

**لکه:** ﴿وَلَا الضَّالِّيْنَ﴾چې په اصل کې(ضاللین)و.

﴿تَأۡمُرُوٓنِّيٓ﴾ چې په اصل کې(تامرونني)و.

﴿مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيۡرٞ﴾ چې په اصل کې(مکنني)و.

﴿دَآبَّةٖ﴾چې په اصل کې(دابية) و.

﴿أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي﴾ چې په اصل کې(اتحاججونني)و.[1]

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې سوره مشق او صغير او کبير ادغام دې پکې تطبيق کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰ ١ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ٢ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ٣ إِنَّ سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ ٤ فَأَمَّا
مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ٥ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٦ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ٧ وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ٨
وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٩ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ١٠ وَمَا يُغۡنِي عَنۡهُ مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ١١ إِنَّ عَلَيۡنَا لَلۡهُدَىٰ ١٢
وَإِنَّ لَنَا لَلۡأٓخِرَةَ وَٱلۡأُولَىٰ ١٣ فَأَنذَرۡتُكُمۡ نَارٗا تَلَظَّىٰ ١٤﴾

## پوښتنې

١. ادغام تعريف کړئ.

٢. د ادغام ډولونه وليکئ.

٣. متماثلين ادغام کوم دی؟

٤. د صغير مثلين ادغام شرايط وليکئ.

٥. د کبير مثلين ادغام تعريف او د تسميې وجه بيان کړئ.

٦. په لاندې کلمو کې د ادغام نوعيت وښيئ.

﴿دَآبَّةٖ﴾، ﴿أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي﴾، ﴿وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡ﴾، ﴿وَٱلَّيۡلِ﴾، ﴿كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوۡاْ فِيهِ﴾.

## کورنی دنده

زده کوونکي دې څلور مثالونه د صغير او کبير مثلين ادغام په کتابچو کې وليکئ او په بل درسي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

[1]- دا ټول روايتونه د حفص(رح) په روايت سره په قرآن کريم کې مشدد ذکر شوي دي، نو له دې امله نه د خپل ځانه څه شی زياتول ښه نه دي، دېبلګې په ډول [قال لهم]،[قالّهم] ويل يې سم نه دي.

## متجانسین ادغام

د دوو حرفونو ادغام دی چې مخرج یې یو او صفات یې بیلابیل وي.

د متجانسین ادغام ځایونه

د متجانسین ادغام د لومړي توري په سکون سره، په لاندې ځایونو کې کېږي:

﴿ارْكَبْ مَّعَنَا﴾ چې «اركمَّعنَا» لوستل کېږي.

﴿فَلَمَّآاَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللهَ رَبَّهُمَا﴾ چې «آثقلدَّعَوَاالله» لوستل کېږي.

﴿إِذْ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا﴾ چې «همَّطَّائفتان» لوستل کېږي.

﴿قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ﴾ چې «قتَّبين» لوستل کېږي.

﴿ لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَىَّ يَدَكَ﴾ چې «بسَتَّ» لوستل کېږي.

﴿ يَلْهَثْ ذٰلِكَ ﴾ چې وصل په کې «يلهَذّلك» لوستل کېږي..

﴿إِذْ ظَّلَمْتُمْ﴾ چې «إظَّلمتم» لوستل کېږي.[١]

## متقاربین ادغام

د دوو تورو ادغام چې یواځې په مخرج کې او یا یواځې په صفاتو او یا هم په دواړو کې سره نږدې وي، لکه: ﴿أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّنْ مَّاءٍ مَّهِينٍ﴾ چې «ألم نخلكُّم»ویل کېږي.[٢]

﴿قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ﴾ چې «قُرَّبِّى»لوستل کېږي.

﴿قَالَ بَل رَّبُّكُمْ ﴾ چې «بَرَّبُّكم»لوستل کېږي.[٣]

﴿مِن لَّدُنْكَ﴾ چې «مِلَّدُنكَ»لوستل کېږي.

﴿وَمَن لَّا يُجِبْ﴾ چې «مَلَّايُجِب»لوستل کېږي.

﴿مِّن رَّبِّهِمْ﴾ چې «مِرَّبِّهِم»لوستل کېږي.

﴿لَوْلَآ أَن رَّبَطْنَا﴾، چې «أَرَّبَطْنا»لوستل کېږي.[٤]

١- د حفص په روایت سره د له پورتنیو موردونو څخه پرته په نورو ځایونو کې متجانسین ادغام نه کېږي.
٢- په ادغام او ناقص د دواړو سره لوستل کېږي، که څه هم تام بهتره ګڼل شوی دی.
٣- له دې قاعدې نه (کلا بل ران) د سکتې په وجه مستثنی دی.
٤- له دې قاعدې څخه [وقیل من راق] [الدنیا]، [بنیانا]، [بنیان]، قنوان]، [صنوان]، [ن والقلم وما یسطرون] و[یس والقرأن

## تمرین او تطبیق

زده کوونکي باید راتلونکي آیتونه تمرین او د متجانسین او متقاربین ادغام حکمونه پکې تطبیق کړي.

﴿كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡأَبۡرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ١٨ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ١٩ كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ٢٠ يَشۡهَدُهُ ٱلۡمُقَرَّبُونَ
٢١ إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ٢٢ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ٢٣ تَعۡرِفُ فِي وُجُوهِهِمۡ نَضۡرَةَ ٱلنَّعِيمِ ٢٤ يُسۡقَوۡنَ
مِن رَّحِيقٖ مَّخۡتُومٍ ٢٥ خِتَٰمُهُۥ مِسۡكٞۚ وَفِي ذَٰلِكَ فَلۡيَتَنَافَسِ ٱلۡمُتَنَٰفِسُونَ ٢٦ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسۡنِيمٍ ٢٧
عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا ٱلۡمُقَرَّبُونَ ٢٨ إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ كَانُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَضۡحَكُونَ ٢٩ وَإِذَا
مَرُّواْ بِهِمۡ يَتَغَامَزُونَ ٣٠ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمُ ٱنقَلَبُواْ فَكِهِينَ ٣١ وَإِذَا رَأَوۡهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ
لَضَآلُّونَ ٣٢ وَمَآ أُرۡسِلُواْ عَلَيۡهِمۡ حَٰفِظِينَ ٣٣ فَٱلۡيَوۡمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنَ ٱلۡكُفَّارِ يَضۡحَكُونَ ٣٤﴾

## پوښتني

١-متجانسین ادغام تعریف او د حفص (رح) په نزد شرایط یې بیان کړئ .

٢- د ﴿یَا بُنَیَّ ارْکَبْ مَعَنَا وَلَا تَکُنْ مَعَ الْکَافِرِینَ﴾ سم تلفظ وکړئ.

٣- په ﴿إِذْ ظَّلَمْتُمْ﴾ کې کوم ډول ادغام دی؟

٤- متقاربین ادغام تعریف او دوه مثالونه یې ذکر کړئ.

٥- په ﴿قُلْ رَّبِّیْ اَعْلَمُ﴾ کې کوم ډول ادغام راغلی ؟

٦- آیت ﴿اَلَمْ نَخْلُقْکُّم مِّنْ مَّاءٍ مَّهِیْنٍ﴾ څرنګه تلفظ کیږي؟

٧- په ﴿بَلْ رَانَ﴾،کلمه کې د ادغام د نه کېدلو علت څه شی دی؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي باید له قرآن کریم څخه څلور داسي مثالونه –چې په لوست کې نه وي، ذکر شوي- راوړي چې په هغو کې متجانسین او متقاربین ادغام راغلی وي، هغه دي په خپلو کتابچو کې ولیکي.

---

الحکیم]د سکتي په وجه مستثنا دی.

## د لام ډولونه او حکمونه[۱]

لام په دري ډوله دی: ۱- د اسم لام ۲- د فعل لام ۳- د حرف لام

## ۱- د اسم لام

هغه لام ته ویل کیږي چې یواځې په اسم داخلیږي او یا د اسم په جوړښت کې ترې کار اخیستل شوی وي، لکه: په ﴿ٱلرَّحۡمَٰنِ﴾ او ﴿أَلۡسِنَتِكُمۡ﴾ کې لام.

### د اسم د لام ډولونه او حکمونه

د اسم لام په دوه ډوله دی: ۱- اصلي لام ۲- زائد لام

۱- اصلي لام او د هغه حکم

هغه لام ته ویل کیږي چې اصل یې له کلمې څخه وي(زائد نه وي)، لکه په﴿أَلۡسِنَتِكُمۡ﴾] کې چې کوم لام دی او د ﴿أَلۡوَٰنِكُمۡ﴾ لام چې لون جمعه ده او لام د کلمې له اصل څخه وي.

۱- په حقیقت کې دا بحث په عارضه صفتونو پورې تړلی دی،ځکه چې عارضه صفتونه، لکه: مخکې چې تیر شول هغو صفتونو ته ویل کیږي چې کله د حرف سره راځي او کله هم بېل راځي، او که چېرته مراعات نشي، نو حرف له منځه نه ځي، خو خوږوالی یې له لاسه ورکوي، لکه: تفخیم، ترقیق، غنه، تسهیل، ادغام،صله، حذف، تحریك او...چې خیني یې تفخیم او ترقیق عارض بالصفه دي او پاتي یې عارض بالحرف دي، خو د اختصار په خاطر د مشهورو مسآلو په ذکر کولو بسنه کوو چې لام اسم فعل او حرف شمسي او قمري او جلاله لامونه او تفخیم او ترقیق ټول ورنیسي.

## د اصلي لام حکم

د دغه لام حکم همیشه ظاهرېدل او پر ځای پاتې کېدل دي او هېڅ نه حذفېږي.

## زائد لام او د هغه حکم

هغه لام ته ویل کېږي چې له اصل کلمې څخه نه وي(زائد وي) او د تعریف لپاره(معرفه) په اسماوو باندې اضافه شوي وي، لکه: د﴿ٱلرَّحۡمَٰنِ﴾ لام، چې د (رحمن) په کلمه داخل شوی دی او د هغه لام له اصل کلمې څخه نه وي.

## د زائد لام حکم

زائد لام دوه حکمونه لري: الف-اظهار ب-ادغام، لومړي ته قمري لام او دویم ته شمسي لام ویل کېږي.[1]

### تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې لاندې آیتونه تمرین کړي او د اسم لام، د فعل لام، د حرف لام، اصلي لام او زاید لام دې په ګوته او هر یو دې سم تطبیق کړي.

---

۱- د دغه دوو لامونو د تسمیې په اړه ویل کېږي چې د حرفونو تشبیه په ستورو سره شوي ده، او لام د (ال) په سپوږمۍ او لمر، د قمري حرفونو د واقع کېدو پرمهال وروسته له (ال) الف لام څخه ښکاره کېږي لکه د سپوږمۍ پر مهال چې ستوري ښکاري، او د شمسي حرفونو په وخت کې مدغم کېږي لکه د لمر ختو په وخت کې چې ستوري ورکېږي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُواْ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوبُواْ فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ عَذَابُ ٱلۡحَرِيقِ
١٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ
ٱلۡكَبِيرُ ١١ إِنَّ بَطۡشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ١٢ إِنَّهُۥ هُوَ يُبۡدِئُ وَيُعِيدُ ١٣ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلۡوَدُودُ ١٤
ذُو ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡمَجِيدُ ١٥ فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ ١٦ هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡجُنُودِ ١٧ فِرۡعَوۡنَ وَثَمُودَ ١٨
بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي تَكۡذِيبٖ ١٩ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطُۢ ٢٠ بَلۡ هُوَ قُرۡءَانٞ مَّجِيدٞ ٢١ فِي لَوۡحٖ
مَّحۡفُوظِۭ ٢٢﴾

## پوښتنې

١- لام په څو ډوله دی؟ يواځې نومونه يې واخلئ.

٢- د اسم لام تعريف کړئ او ډولونه يې ووايئ.

٣- اصلي لام تعريف او حکم يې بيان کړئ.

٤- د اصلي لام لپاره دوه مثالونه ورکړئ.

٥- زايد لام تعريف او د هغه حکم بيان کړئ.

٦- د زايد لام لپاره دوه مثالونه ورکړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له لاندې سورت څخه داسې کلمې وټاکي چې اصلي او زايد لام په کې کارېدلي وي او په بل درسي ساعت دې ټولګي ته راوړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيۡتُونِ ١ وَطُورِ سِينِينَ ٢ وَهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ٱلۡأَمِينِ ٣ لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ
أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ ٤ ثُمَّ رَدَدۡنَٰهُ أَسۡفَلَ سَٰفِلِينَ ٥ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ
أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ٦ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعۡدُ بِٱلدِّينِ ٧ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَحۡكَمِ ٱلۡحَٰكِمِينَ ٨ ﴾

# قمري او شمسي لام

## قمري لام

قمري لام هغه اسمي زايد لام ته ويل کېږي چې مخکې له څوارلسو تورو څخه را شي چې په (إبغ حجك وخف عقيمه)[1] کې يوځاى شوي دي.

د قمري لام حکم اظهار دى.

## د قمري لام مثالونه

﴿الأوَّل، الْبَاطِنُ، الْغَفُورُ، الْحَكِيمُ، الْجَلَالِ، الْكَرِيم، الْوَدُودُ، الْخَبِيرُ، الْفَتَّاحُ، الْعَلِيمُ، الْقَاهِرُ، الْيَقِينُ، الْمُهَيْمِنُ، الْهُدَى﴾.

## شمسي لام او د هغه حکم

شمسي لام هغه اسمي زائد لام ته ويل کېږي چې له څوارلسو حرفونو مخکې راځي چې دغه توري د راتلونکي بيت په لومړيو کې راغلي دي.

طِبْ ثُمَّ صِلْ رَحِماً تَفُزْ ضِفْ ذَا نِعَمٍ     دَعْ سُوْءَ ظَنٍّ زُرْ شَرِيْفاً لِلْكَرَمِ[2]

**د شمسي لام حکم**: په وروسته تورو کې د(ل) ادغام دى.

د شمسي لام مثالونه:

﴿الطَّيِّبَاتُ، الثَّوَابِ، الصَّادِقِينَ، ٱلرَّحْمَٰنِ، التَّوَّابُ، الضُّحَى، الذَّاكِرِينَ النَّاسُ ، الدَّاعِ، السَّمِيعُ، الظَّانِّينَ، الزَّيْتُونِ ، الشَّافِعِينَ، اللَّيْلِ﴾.

---

۱- ژباړه: د حج د طلب په هڅه کې اوسه- او دا چې نتيجه پرې مرتب نه وي له هغې څخه په وېره کې اوسه.

۲- ژباړه: پاك اود ښه خوى څښتن اوسه او بيا صله رحمي کوه چې کامياب شې، د نعمت د څښتن منندوى اوسه، بدګماني مه کوه او شريف انسان د هغه د احترام په خاطر ګوره.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې آيتونه تمرين او د شمسي او قمري لام تر منځ توپير دې مشخص او عملاً دې تطبيق کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلشَّمۡسِ وَضُحَىٰهَا ١ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ٢ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ٣ وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰهَا ٤ وَٱلسَّمَآءِ وَمَا
بَنَىٰهَا ٥ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا طَحَىٰهَا ٦ وَنَفۡسٖ وَمَا سَوَّىٰهَا ٧ فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا ٨ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن
زَكَّىٰهَا ٩ وَقَدۡ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ١٠﴾

## پوښتني

۱. قمري لام تعريف کړئ.

۲. د قمري لام د تسميې وجه بيان کړئ.

۳. د قمري لام لپاره خلور مثالونه بيان کړئ.

٤. شمسي لام تعريف او مثال ورکړئ.

٥. د شمسي لام لپاره خلور مثالونه بيان کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي بايد د شمسي او قمري لام لپاره له درسي مثالونو پرته څوارلس څوارلس مثالونه غوره کړي او په خپلو کتابچو کې دې وليکي.

## د فعل لام او د حرف لام

### د فعل لام او دهغه احکام

د فعل لام هغه لام ته ويل کېږي چې د فعل په جوړښت کې ترې ګټه اخيستل شوي وي.لکه: ﴿أَرْسَلْنَا، أَلْهَاكُمْ، يَلْقَاهُ ، وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ، وَلَا تَجْعَلْ﴾.

د فعل لام له هجايي حرفونو څخه مخکې دوه حکمونه لري: الف-ادغام ب-اظهار.

### الف-ادغام

کله چې د فعل لام د امر د صيغې په پای کې راشي او بيا له دغه لام وروسته بل (لام) او يا (ر) راشي، نو په دغه صورت کې لام د امر د فعل په (لام) او (را) کې مدغميږي.

مثال: ﴿قُلْ لَّكُمْ، قُلْ رَّبِّ﴾.

### ب- اظهار

کله چې د فعل لام د ماضي فعل او يا د مضارع فعل په منځ او يا د امر د فعل په پای کې راشي او له هغه وروسته (لام) او يا (را) واقع شي، نو په دغه صورت کې د فعل لام اظهار کيږي.

مثال: ﴿ الْتَقَى، يَلْتَقِطْهُ، قُلْ أَرَأَيْتُمْ﴾.

## د حرف لام او د هغه حکم

د حرف لام هغه لام ته ویل کېږي چې د حرف په جوړښت کې ترې ګټه اخیستل شوې وي.لکه ﴿بَلْ، هَلْ﴾.

د حرف د لام حکم د امر د فعل د لام په څېر دی، یعني ادغام او اظهار.

### الف- ادغام

کله چې د حرف له [لام] وروسته (لام) او یا (ر) را شي، په دغه صورت کې د حرف لام په لام او [ر] کې مدغمېږي.[1]

لکه: ﴿هَلْ لَّكُمْ، بَلْ رَّفَعَهُ اللهُ إِلَيْهِ﴾.

### ب- اظهار

کله چې د حرف له لام وروسته غیر د [لام] او [ر] څخه نور پاتې هر حرف را شي، نو په دغه صورت کې د حرف په لام کې اظهار کېږي.مثال: ﴿هَلْ يَسْتَطِيعُ ، بَلْ طَبَعَ اللهُ عَلَيْهَا﴾.

١- البته د حفص په روایت سره له دغې قاعدې څخه [بل ران علی قلوبهم ما کانوا یکسبون] (المطففین: ١٤) مستثنا دی، په هغه کې سکته کېږي او د هغه وجه داده که چېرته ادغام وشي نو (بران) ویل کېږي چې پدې سره معنا یې بدلېږي.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې راتلونکي آيتونه مشق کړي او د فعل لام او حرف د لام ترمنځ توپير دې تشخيص او عملاً دې تطبيق کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ ١ وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ ٢ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ ٣ وَإِذَا ٱلۡقُبُورُ
بُعۡثِرَتۡ ٤ عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ وَأَخَّرَتۡ ٥ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ
٦ ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ٧ فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ٨ كَلَّا بَلۡ تُكَذِّبُونَ
بِٱلدِّينِ ٩ وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ ١٠ كِرَامٗا كَٰتِبِينَ ١١ يَعۡلَمُونَ مَا تَفۡعَلُونَ ١٢ إِنَّ
ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٖ ١٣ وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٖ ١٤ يَصۡلَوۡنَهَا يَوۡمَ ٱلدِّينِ ١٥ وَمَا هُمۡ عَنۡهَا بِغَآئِبِينَ
١٦ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ١٧ ثُمَّ مَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ١٨ يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ نَفۡسٞ
لِّنَفۡسٖ شَيۡـٔٗاۖ وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ ١٩﴾

## پوښتنې

١- د فعل لام تعريف کړئ.

٢- د فعل لام ته څلور مثالونه ذکر کړئ.

٣- د فعل لام په کوم مهال اظهار کېږي او په کوم مهال کې په خپل وروستي حرف کې مدغمېږي؟

٤- د فعل لام په کوم حالت کې په وروستي حرف کې ادغام کېږي؟

۵- د حرف لام تعریف او دوه مثالونه ورکړئ.

٦- د حرف لام په کوم حالت کې اظهار کېږي؟

٧- د حرف لام په کوم حالت کې په وروستي حرف کې مدغم کېږي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له لاندې آيتونو څخه د فعل لام او حرف لام له تشخيص وروسته په کتابچو کې وليکي او ټولګي ته دې راوړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ١ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ٢ وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ
يُخۡسِرُونَ ٣ أَلَا يَظُنُّ أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبۡعُوثُونَ ٤ لِيَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦ كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٖ ٧ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سِجِّينٞ ٨ كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ٩
وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١٠ ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ١١ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ١٢
إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣ كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ١٤ ﴾

# د جلاله (د الله د لفظ) لام[١]

د لام حرف اصلي بڼه ترقيق (باريك لوستل) دي او يوازې د جلاله په لفظ کې تر ځانګړو شرطونو لاندې تفخيم(ډک) ويل کېږي.

د جلاله له لام پرته نور لامونه په ټولو حالاتو کې تش ويل کېږي.

لکه: ﴿مَا وَلَّاهُمْ﴾، ﴿الصَّلَاةَ﴾، ﴿كُلُّهُمْ﴾، ﴿هُوَ الَّذِى جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ﴾ او...

د جلاله لام هغه لام ته ويل کېږي چې د الله په لفظ کې راځي.

## د جلاله دلام د تفخيم (ډک ويلو) حالات

د جلاله لام په دوو حالاتو کې ډك ويل کېږي:

١- چې د مخکې حرف حرکت يې فتحه(زور)وي. لکه: ﴿اللهُ يَعْلَمُ﴾، ﴿أَرَادَ اللهُ﴾،﴿إِنَّ اللهَ﴾،﴿سُنَّةَ اللهِ﴾، ﴿حَسْبِىَ اللهُ﴾ او...

٢- چې مخکې حرف حرکت يې ضمه(پېښ)وي.لکه: ﴿رَفَعَهُ اللهُ﴾، ﴿يَعْلَمُ اللهُ﴾، ﴿دَعَوُا اللهَ﴾، ﴿فَادْعُوا اللهَ﴾، ﴿هُدَى اللهِ﴾ و...

## د جلاله لام او د ترقيق حالات

هر کله چې د جلاله د لام نه مخکې کسره(زېر) وي، نو تش لوستل کېږي.[٢]

لکه: ﴿بِسْمِ اللهِ﴾، ﴿بِاللهِ﴾، ﴿يُحْيِى اللهُ﴾، ﴿بِإِذْنِ اللهِ﴾، ﴿اتَّقِ اللهَ﴾، ﴿فِى اللهِ﴾.

## تذکر(يادونه)

په ﴿اللَّهُمَّ﴾ کې هم همدا قاعده(د تفخيم او ترقيق قاعده) پلې کېږي.

يعني په هغه صورت کې چې مخکې ترېنه مفتوح يا مضموم وي ډك لوستل کېږي او په هغه صورت کې چې مخکې ترې کسره وي، تش لوستل کېږي، ځکه په هغه

١- هغه لام چې د الله په لفظ کې دي، د تجويد په اصطلاح کې هغه د جلاله په لام مشهور دی،او د جلاله په لام نومول يې د تعظيم او اختصار په خاطر دی،ځکه که چېرته داسې چې (هغه لام چې د الله جل جلاله په لفظ کې دی) نو زيات اوږدېږي.

٢- په دې صورت کې هغه مقصور حرف چې د جلاله په لام کې متصل وي او که منفصل او همدارنګه هغه عارضي کسره وي او که ذاتي، توپير نشته، يعنې په ټولو حالاتو کې تش لوستل کېږي. لکه با الله، لله، بسم الله، فی الله.

کې د جلاله لفظ (الله) شته.

لکه: ﴿سُبْحَانَکَ اللَّهُمّ﴾، ﴿قَالُوا اللَّهُمَّ﴾، ﴿قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ﴾، ﴿قُلِ اللَّهُمَّ﴾.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې راتلونکي آيتونه مشق کړي او د جلاله لام دې پکې تطبيق کړي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿الٓمٓ ﴿١﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ ﴿٢﴾ نَزَّلَ عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا
بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ﴿٣﴾ مِن قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ ٱلْفُرْقَانَ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟
بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٤﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخْفَىٰ عَلَيْهِ شَىْءٌ فِى
ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴿٥﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُصَوِّرُكُمْ فِى ٱلْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا
هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٦﴾﴾

## پوښتنې

١- د جلاله لام تعريف کړئ.

٢- په کومو حالاتو کې د جلاله لام ډک ويل کېږي؟

٣- په کومو حالاتو کې د جلاله لام تش ويل کېږي؟

٤- د ﴿اَللَّهُمَّ﴾ کلمه په کومو حالاتو کې ډکه لوستل کېږي؟

٥- د ﴿اَللَّهُمَّ﴾ کلمه په کومو حالاتو کې تشه لوستل کېږي؟

٦- د جلاله له لام اود ﴿اَللَّهُمَّ﴾، د لام پرته د نورو لامونو حکم بيان کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي بايد دوه مثالونه د جلاله لفظ د تفخيم لپاره، دوه مثالونه د جلاله لام د ترقيق لپاره، يو مثال د [اللهم] د کلمې د تفخيم لپاره او څلور مثالونه د نومورې کلمې د ترقيق لپاره او څلور مثالونه د نورو پاتو لامونو لپاره –په درس کې له لوستل شوو مثالونو پرته – په خپلو کتابچو کې وليکي.

# د (را) د تفخیم حالات[1]

د (ر) حرف اصلي حالت تفخیم (ډک لوستل) دي او ترقیق (تش لوستل) په ځینو حالاتو کې پرې راځي چې لاندې به په تفصیل سره بیان شي.

## الف- د (ر) د تفخیم حالات

په راتلونکو حالاتو کې (ر) مفخمه (ډکه) لوستله کېږي:

۱-هر کله چې په (ر) حرف باندې د فتحې یا ضمې حرکت وي، نو ډکه لوستله کېږي.[2]

لکه: ﴿رَبُّكَ﴾، ﴿زَجْرًا﴾، ﴿رُزِقُوا﴾،﴿سَاحِرٌ﴾، ﴿ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ﴾، ﴿ فَفِرُّوا إِلَى اللهِ﴾.

۲- هر کله چې د (ر) حرف ساکن وي او مخکې حرف ترې مفتوح او یا مضموم وي ډکه لوستله کېږي.[3]

لکه: ﴿بَرْقٌ﴾، ﴿تُرْجَعُونَ﴾، ﴿فَلَاتَقْهَرْ﴾، ﴿وَمَاأُرْسِلُوا﴾، ﴿أَرْبَعَةً﴾، ﴿فَانْظُرْ﴾.

۳-هرکله چې د (ر) حرف ساکن وي او له هغه نه مخکې حرف هم ساکن و، خو تر هغه مخکې او له هغه نه مخکې حرف مضموم وي، نو پدې حالت کې بیا هم (ر) ډکه

---

۱- د یادولو وړ ده چې د (را) حرف په اصل کې د مستفله حرفونو له جملې څخه شمیرل کېږي، مگر د هغې د ادا د ځای په سبب او د قوت د صفاتو برترې په ضعیفو باندې تفخیم ورته اصل صفت دی او ترقیق ورلره په ځینو حالاتو کې عارضي شمیرل کېږي. نوبناء (را) په خپل ذات کې مفخمه ده، مگر درې عاملونه (کسره، یا اما له کې) ترقیق یې کېږي، ځکه په اصل کې فتحه،ضمه،الف او مده واو د تفخیم له کورنۍ څخه دي او په مقابل کې یې کسره او د یا حرف د ترقیق له کورنۍ څخه شمیرل کېږي.

۲- که څه هم د کلمې به سر کې وي لکه [ربنا] او [رعبا] او یا په منځ کې وي لکه [تمرحون] او[تعرج] او یا د کلمې په پای کې وي لکه [نظر] او[یؤثر]، یا مخفف وي، لکه: همدا مخکېني مثالونه چې تیر شول او یا مشدد وي لکه [البر]او [ففروا].

۳- په اصل کې د (را) د حکم په تشخیص کې که چېرته متحرکه وه، نو حرکت ته یې باید پاملرنه وکړو، که چېرته ساکنه و، نو مخکېنی حرکت یې گورو که هغه هم ساکن و، نو له هغې نه مخکې حرف حرکت گورو(د دریم حرف حرکت) د تفخیم او ترقیق له دغې لارې څخه معلوموو.

لوستله کېږي.[۱]

لکه: ﴿لَيْلَةُالْقَدْرِ﴾، ﴿وَالْفَجْرِ﴾، ﴿يُرِيدُاللهُ بِكُمُ الْيُسْرَ﴾، ﴿وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾.

٤- کله چې د (ر) حرف ساکن وي او مخکې حرف ترې الف او يا مدي واو وي، نو [را] ډکه لوستله کېږي، لکه:

﴿وَقُودُالنَّارِ﴾، ﴿ بِالأَسْحَارِ﴾، ﴿نُورٌعَلَى نُورٍ﴾، ﴿وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللهِ الْغَرُورُ﴾.[۲]

٥-هر کله چې د (ر) حرف ساکن وي او له وصلي همزې او يا عارضي کسرې وروسته شوي وي، نو (ر) ډکه لوستل کېږي.

لکه: ﴿ارْكَبْ مَعَنَا﴾، ﴿ارْجِعِى﴾، ﴿ارْجِعُونِ﴾، ﴿ارْجِعُوا﴾، ﴿ارْحَمْهُمَا﴾، ﴿ارْكَعُوا﴾، ﴿ارْتَدُّوا﴾، ﴿أَمِ ارْتَابُوا﴾، ﴿إِنِ ارْتَبْتُمْ﴾، ﴿لِمَنِ ارْتَضَى﴾.

٦- هر کله چې د (ر) حرف ساکن وي او له اصلي غير متصلې کسرې وروسته واقع شي نو (ر) ډکه لوستله کېږي.

لکه: ﴿ الَّذِى ارْتَضَى﴾، ﴿رَبِّ ارْجِعُونِ﴾، ﴿رَبِّ ارْحَمْهُمَا﴾.

٧-هر کله چې (ر) ساکنه وي او وروسته له اصلي متصلې کسرې راشي، خو وروسته ترې يو مستعليه مفتوح يا مضموم حرف په يوه کلمه کې راشي، نو په دغه مهال هم (ر) ډکه لوستله کېږي.

لکه: ﴿إِرْصَادًا﴾، ﴿لَبِالْمِرْصَادِ﴾، ﴿مِرْصَادًا﴾، ﴿فِرْقَةٍ﴾، ﴿قِرْطَاسٍ﴾.

---

۱- په عادي حالت کې دا د وقف په وخت کې پېښېږي چې په اصطلاح کې دغه وقف ته د اسکان وقف ويل کېږي، که چېرته د روم وقف و، نو په دغه وخت کې تفخيم او ترقيق د (را) دحرکت تابع وي، خو يو حالت له دې څخه مستثنا دی او هغه دا چې (را) ساکنه وي او مخکې ترې (يا) وي او له هغې څخه ترمخه مفتوح وي لکه: [ولدار الاخرة خير] چې پدې صورت کې (را) باريکه لوستله کېږي، لکه: د ترقيق په بحث کې به راشي او د هغې علت دادی چې (يا) خپله د ترقيق سبب ده او د دوو کسرو په منزله کې هم ده.

۲- معمولا دا حالت د اسکان وقف په وخت کې کېږي.

## تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې لاندې آيتونه ولولي او د (ر) د تفخيم مثالونه دې په ګوته کړي.

﴿ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ ٱلنَّعِيمِ
﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَٰمُهُۥ مِسْكٌ ۚ وَفِى ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ ٱلْمُتَنَٰفِسُونَ
﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟
كَانُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾ وَإِذَا مَرُّوا۟ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ
أَهْلِهِمُ ٱنقَلَبُوا۟ فَكِهِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوٓا۟ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَآ أُرْسِلُوا۟
عَلَيْهِمْ حَٰفِظِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱلْيَوْمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنَ ٱلْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ ﴾

## پوښتنې

١. په اصل کې د (ر) حالت تفخیم دی که ترقیق؟

٢. (ر) په څو حالاتو کې ډکه ویله کېږي؟

٣. د لاندې جملو تش ځایونه ډک کړئ: کله چې (ر) فتحه یا ضمه ولري (      ) لوستله کېږي.

٤. په لاندې کلمو کې (ر) تشه لوستله کېږي او که ډکه؟

﴿وَمَا أَدْرَاكَ﴾ ﴿مَرْقُومٌ﴾ ﴿عَنْ رَبِّهِمْ﴾ ﴿مَرُّوا﴾

٥. په لاندې کلمو کې (ر) تشه لوستله کېږي او که ډکه؟

﴿وَالْفَجْرِ﴾ ﴿يُرِيدُاللهُ بِكُمُ الْيُسْرَ﴾ ﴿الأَرْضُ﴾

٦. لاندې تش ځایونه ډک کړئ: کله چې (ر) ساکنه او وروسته یې وصلي همزه یا

عارضي کسره راشي (         ) لوستله کېږي.

۷. د لاندې عبارت مخې ته د (√) یا غلط(X) نښه کېږدئ: په لاندې کلمو کې د (ر) حرف تش لوستل کېږي. ﴿ارْجِعِى﴾، ﴿ارْحَمْهُمَا﴾، ﴿أَمِ ارْتَابُوا﴾(   ).

## کورنۍ دنده

زده کوونکې دې اووه داسې کلمې په کتابچو کې ولیکي چې د (ر) توری پکې ډک لوستل کېږي.

# د (ر) د ترقيق حالات

د (ر) حرف په راتلونکو حالاتوکې تش لوستل کېږي:

۱-هرکله چې (ر) مکسوره وي، په مطلق ډول[۱] تشه لوستل کېږي.

لکه: ﴿رِجَالٌ﴾، ﴿أَرِنَا﴾، ﴿الْخَمْرِ﴾، ﴿هَارٍ﴾، ﴿الْبِرَّ﴾، ﴿وَذَرِ الَّذِينَ﴾، ﴿رِضْوَانٍ﴾.

۲-کله چې د (ر)حرف ساکن وي او مخکې ترینه اصلي متصله کسره وي او وروسته له (ر) څخه په همغه کلمه کې د استعلاء مفتوح یا مضموم حرف نه وي، نو (ر) تشه لوستله کېږي.

لکه: ﴿فِرْعَوْنَ﴾، ﴿مِرْيَةٍ﴾، ﴿يَوْمٌ عَسِرٌ﴾، ﴿أُولِي الْإِرْبَةِ﴾، ﴿شِرْعَةً﴾، ﴿بِمُصَيْطِرٍ﴾.

۳-کله چې د (ر) حرف ساکن وي، مخکې ترینه اصلي کسره متصله وي او وروسته له (ر) څخه د استعلاء مفتوح یا مضموم حرف په بله کلمه کې راشي، نو (ر) تشه لوستل کېږي. لکه: ﴿وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ﴾، ﴿فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا﴾، ﴿أَنْذِرْ قَوْمَكَ﴾ .

٤-کله چې د (ر) حرف ساکن وي او مخکې ترې هم ساکن وي او مخکې له هغې څخه حرف هم مکسور وي، پدې حالت کې هم را تشه لوستله کېږي.[۲]

لکه: ﴿مِنَ السِّحْرِ﴾، ﴿مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ﴾، ﴿الشِّعْرَ﴾، ﴿سِدْرٍ﴾.

٥-کله چې د (را) حرف ساکن وي او مخکې ترې ساکنه (یا) وي، نو په دغه حالت کې هم (را) لوستله کېږي.[۳]

---

۱- یعنې پدې معنا چې که (را) د کلمې په پېل کې وي لکه: [رزقا]، یا د کلمې په منځ کې وي، لکه: [مریج] او یا په اخر کې وي لکه: [والعصر- د وصل په حالت کې]، مخففه وي، لکه: [هار] او یا مشدده وي، لکه: [دري – البر] او یا دا کسره اصلي وي، لکه: په تیرو مثالونو کې او یا عارضي وي، لکه: [والذكر اسم ربك] وروسته ترینه د استعلاء حرف نه وي، لکه: په تیرو مثالونو کې او د استعلاء حرف وي لکه: [رضوان – إن تحرص].

۲- دا یواځې د وقف په حالت کې وي، خو په هغه صورت کې چې مخکې حرف یې د استعلاء له حرفونو څخه وي، لکه: مصر او قطر، دوې وجې (تفخیم او ترقیق) جایز دي، لکه: چې وروسته به په متن کې ذکر شي.

۳-دا قاعده هم یواځې د وقف په حالت کې ممکنه ده او په دي صورت کې حرف او له (ی) څخه مخکې حرکت هېڅ اعتبار نه لري، برابره ده که هغه د استعلاء حرف وي، لکه: خیر او غیر او یا غیر له استعلاء حرف څخه وي، لکه: قدیر، مفتوح وي او که مکسور وي، ځکه چې یا حرف د دوو کسرو ځای ناستی دی.

لکه:

﴿قَدِيرٌ﴾، ﴿الْمَصِيرُ﴾، ﴿كَبِيرٍ﴾، ﴿نَذِيرٌ﴾، ﴿خَيْرٌ﴾، ﴿غَيْرِ﴾، ﴿لَا ضَيْرَ﴾.

٦-کله چې د (ر) حرف په امالي سره ولوستل شي، تشه ادا کېږي.[١]

لکه: ﴿بِسْمِ اللَّهِ مَجْرِيهَا وَمُرْسَاهَا﴾، چې د حفص (رحمه الله) په روايت سره په قرآن کريم کې يواځې همدا يو ځای (ر) په اماله سره لوستل کېږي.

**تبصره**:

د يادولو وړ ده چې په ځينو کلمو کې د (ر) تفخيم او ترقيق دواړه جايز وي چې لاندې ذکر کېږي:

١-د ﴿فِرْقٍ﴾ په کلمه کې تفخيم او ترقيق دواړه جايز دي.

د تفخيم دليل يې د استعلاء حرف(ق)دی چې په نفس کلمه کې له (ر) وروسته راغلی وي او د ترقيق دليل يې د استعلاء د حرف مکسور واقع کېدل دي.[٢]

٢-هرکله چې د ﴿مِصْرَ﴾ و ﴿الْقِطْرِ﴾ پر کلمو باندې وقف وشي، نو تفخيم او ترقيق دواړه جايز دي.

د تفخيم دليل يې له (ر) مخکې د استعلاء حرفونه(صاد-طا) په نفس کلمه کې واقع کېدل دي، ځکه د تفخيم کولو د استعلاء له حرف وروسته د (ر) حرف تش لوستل د لوستونکي لپاره درونډ او ثقيل تماميږي.

او د ترقيق دليل يې له (ر) مخکې حرف ساکن راتلل دي(صاد –طا) او له هغې څخه

---

١- اماله په لغت کې د تاوولو او ميلانولو په معنا راځي، او په اصطلاح کې د کسرې په لور د فتحې مايلول او الف د يا په لور(چې نه پوره فتحه او الف ولوستل شي او نه پوره کسره او يا ولوستل شي) چې په فارسي ادبياتو کې هغې ته مجهوله يا ويل کېږي، لکه: درويش - شير (زمری) او په فارسي کې کولای شی د کسرې په لور يې کش کړې، لکه: آره- بله، او همدا رنګه په اردو ژبه کې هم شته، لکه: هماري- تمهاري، دېته کبرى اماله ويل کېږي. د حفص (رح) په روايت سره يواځې همدا يو ځای کبری اماله کېږي او صغری اماله د حفص په روايت کې نه شته.

٢- د يادولو وړ ده چې ددې مرقق لوستل په دوه دليله بهتر دي:الف- چې د استعلاء حرف مکسور دی، ځکه ترقيق په خپل قوت باقي پاتي دی. ب- ترقيق ترکومه چې تجربه شوی دی د تکلم ځای راحت بښونکې دی.

مخکې مکسور راتلل دي.[1]

**۳-** په ﴿يَسْرِ﴾، ﴿نُذُرِ﴾ و ﴿أَسْرِ﴾ تفخيم او ترقيق دواړه جايز دي.

د تفخيم دليل يې د تفخيم قاعده ده چې وايي: هرکله چې د (را) حرف ساکن وي او له هغه مخکې حرف هم ساکن وي، خو مخکې او له هغې نه هم مخکې (ماقبل، قبل مفتوح او يا مضموم وي، نو پدې حالت کې (ر) ډکه لوستله کېږي.

او د ترقيق دليل يې ددغو کلمو د اصل مراعاتول دي چې را مکسوره وه او وروسته يا(ی) راغلې وه چې په اصل کې ﴿يَسْرِی- نُذُرِی- أَسْرِی﴾ وو.[2]

### تمرين او تطبيق

زده کوونکي بايد راتلونکې سورت مشق کړي او د (ر) حرف د ترقيق ځايونه دې په ګوته او تطبيق کړي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتْ ۝١ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۝٢ وَإِذَا ٱلْأَرْضُ مُدَّتْ ۝٣ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا
وَتَخَلَّتْ ۝٤ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۝٥ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلَٰقِيهِ
۝٦ فَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ۝٧ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۝٨ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ
أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ۝٩ وَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ۝١٠ فَسَوْفَ يَدْعُوا۟ ثُبُورًا ۝١١ وَيَصْلَىٰ
سَعِيرًا ۝١٢ إِنَّهُۥ كَانَ فِىٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ۝١٣ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ۝١٤ بَلَىٰٓ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ
بَصِيرًا ۝١٥ ﴾

### پوښتنې

---

۱- ځينو علماوو لکه ابن الجزري د (را) اصلي حرکت (د وصل پر مهال) بهتر ګڼلی دی، نو له دې وجې يې د (مصر) په کلمه کې هغه تفخيم غوره ګڼلی دی، ځکه مفتوحه ده او د (القطر) ترقيق بهتر دی، ځکه مکسوره ده، نو غوره ده چې د وقف په حالت کې د وصل په څير ولوستل شي.

۲- غوره قول ترقيق دی او دا هم د دغو کلماتو د اصل مراعاتولو په وجه چې په اصل کې مکسوري وې او له هغه وروسته (ي) وه.

۱-د (ر) حرف په کومو حالاتو کې مفخم لوستل کېږي؟

۲- د (ر) د ترقيق لپاره درې مثالونه ذکر کړئ.

۳-په لاندې کلموکې د (ر) حرف تش لوستل کېږي که ډک؟

﴿خَيْرٌ﴾، ﴿غَيْرِ﴾ و ﴿لَا ضَيْرَ﴾.

٥- راتلونکي عبارت ته د صحيح(√) او يا غلط (X) علامه کېږدئ

د (ر) حرف په راتلونکو کلماتو کې باريك لوستل کېږي د (ر) ﴿وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ﴾، ﴿فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلا﴾، ﴿أَنْذِرْ قَوْمَكَ﴾. ( ).

د (ر) حرف په راتلونکو کلماتو کې ډك لوستل کېږي ﴿ارْجِعِى﴾، ﴿ارْحَمْهُمَا﴾، ﴿أَمِ ارْتَابُوا﴾، ﴿لِمَنِ ارْتَضَى﴾( ).

٦-په راتلونکو کلموکې د (ر)حرف مرقق لوستل کېږي که مفخم؟

﴿فِرْقٍ﴾، ﴿مِصْرَ﴾، ﴿الْقِطْرِ﴾، ﴿يَسْرِ﴾، ﴿نُذُرِ﴾و ﴿أَسْرِ﴾.

**کورنی دنده**

زده کوونکي بايد شپږ داسې کلمې چې په هغو کې د (ر)حرف مرقق لوستل کېږي، په خپلو کتابچو کې وليکي او په راتلونکي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

# د مد ډولونه

مد لومړی په دوه ډوله دی:

۱- اصلي مد ۲- فرعي مد

**۱- اصلي مد**: اصلي مد هغه مد دی چې د مد حرف په خپل ذات کې د هغه له ادا کولو پرته نه اداکېږي اومد سبب (همزه اوسکون) ته اړتیا نه لري، بلکې ددغه مد د ادا کولو لپاره دمد درې ګونو تورو(الف ـ واو ـ یا) شتون بسنه کوي .

لکه: ﴿نُوحِيهَا﴾، ﴿أُوذِينَا﴾.

**۲- فرعي مد**: هغه مدد دی چې وجود یې د اصلي مد د شتون فرعه دی او په هغه کې د اصلي مد په پرتله ډېر مد کېږي او وروسته له هغه د مد د سبب (همزه او سکون) شتون ضروري وي.

فرعي مد څلور ډوله دی:

**۱-متصل مد**: هغه مد دی چې د مد حروف او سبب يې په یوه کلمه کې راغلي وي:

لکه: ﴿أُوْلَٰٓئِكَ﴾، ﴿جَآءَتۡهُمُ﴾، ﴿إِسۡرَٰٓءِيلَ﴾، ﴿سِيٓـَٔتۡ﴾.

**۲- منفصل مد**: هغه مد دی چې د مد حروف په یوه کلمه او سبب یې په بله کلمه کې وي:

لکه: ﴿بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ﴾، ﴿وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٞ﴾، ﴿إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ﴾.

**۳- لازم مد**: هغه مد دی چې سکون يې لازمي وي او په هماغه کلمه کې تل په وقف او وصل کې ثابت پاتې شي.

لکه: ﴿صٓ﴾، ﴿الٓمٓ﴾، ﴿ءَآلۡـَٰٔنَ﴾، ﴿وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾، ﴿قٓ﴾، ﴿حمٓ﴾، ﴿ٱلصَّآخَّةُ﴾.

**۴- عارض للسکون مد**: هغه مد دی چې سبب يې اصلي سکون نه، بلکې د وقف پر مهال د مد له حرف او یا د لین وروسته پیداکېږي.

لکه: ﴿مِّن نَّارٍ﴾، ﴿مَّشۡهُودٍ﴾، ﴿شَهِيدٌ﴾، ﴿يَوۡمَ﴾، ﴿وَٱلَّيۡلِ﴾.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې لاندې آيتونه مشق او د مد اقسام تشخيص او تطبيق يې کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ٢ ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ ٣ إِن كُلُّ نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ
٤ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ٥ خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ ٦ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ٧
إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ٨ يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ ٩ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا نَاصِرٖ ١٠ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ
١١ وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ ١٢ إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ١٣ وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ ١٤ إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ كَيۡدٗا ١٥
وَأَكِيدُ كَيۡدٗا ١٦ فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ١٧﴾

## پوښتنې

١. مد لومړی په څو ډولونو وېشل کېږي؟

٢. اصلي مد تعريف او دوه مثالونه يې راوړئ؟

٣. فرعي مد تعريف او دوه مثالونه يې راوړئ؟

٤. متصل مد تعريف او څلور مثالونه يې ووايئ؟

٥. منفصل مد تعريف او څلور مثالونه يې ووايئ؟

٦. لازم مد تعريف او دوه مثالونه يې ووايئ؟

٧. عارض للسکون مد تعريف او درې مثالونه يې راوړئ؟

٨. په لاندې کلموکې د مد اقسام تشخيص او نوم يې واخلئ.

﴿عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ﴾، ﴿إِنَّآ أَنذَرۡنَٰكُمۡ﴾، ﴿فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلۡكُبۡرَىٰ﴾، ﴿وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ﴾

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې درې مثالونه د اصلي مد، دوه مثالونه د متصل مد، درې د منفصل مد، دوه د لازم مد او دوه د عارض للسکون مد لپاره په خپلو کتابچو کې وليکي او ټولګي ته دې راوړي.

# د لازم مد ډولونه

لازم مد په څلور ډوله دی.[1]

۱- د مثقل کلمي لازم مد ۲- د مخفف کلمي لازم مد ۳- د مثقل حرفي لازم مد۴- مخفف حرفي لازم مد

## ۱- د مثقل کلمي لازم مد

هغه مد دی چې د مد له حرف وروسته دهغه سبب (ساکن مدغم، مشدد حرف) په یوه کلمه کې راشي، دغه مد ته مثقل کلمي مد وايي، څکه په یوه کلمه کې راغلی او د مد له توري وروسته، ثقیل حرف یا توري چې هماغه مثقل حرف دی، راغلی دی.

لکه:

﴿آللهُ﴾، ﴿آلذَّكَرَيْنِ﴾، ﴿حَآجَّ﴾، ﴿أَتُحَآجُّوٓنِّي﴾، ﴿دَآبَّةٍ﴾، ﴿الصَّآخَّةُ﴾، ﴿اَلْحَآقَّةُ﴾.

## ۲- مخفف کلمي لازم مد

هغه مد دی چې د مد له حرف وروسته يې سبب ساکن مظهر(غیر مد غم) په یوه کلمه کې راغلی وي، دغه مد مخفف کلمي بولي، څکه په یوه کلمه کې راغلی او د مد له حرف وروسته ساکن خفیف حرف راغلی وي.

لکه:

﴿آلْآنَ﴾، دغه کلمه یواځې دوه ځلې په قرآن کریم کې راغلې ده.[2]

## ۳- مثقل حرفي لازم مد

هغه مد دی چې د مد له حرف وروسته يې سبب مدغم سکون (مشدد) په مقطعاتو[3]

۱- څکه په قرانی بېلګو کې لیدل شوی چې همدغه مد یا په مقطعاتو توریو کې راځی یا د سورتونو ترمنځ په کلمو کې چې لومړنی ته حرف او دویم ته کلمې وایي. بیا هریوکه چیرې د هغه سکون مظهر (غیرمدغم) و مخفف دی او که يې سکون مدغم و مثقل دی.

۲- دواړه ځلې د یونس په سوره ۵۱ او ۹۱ آیتونو کې دي

۳- د قرآن کریم د ځینو سورتونو په پیل کې متصل توري دی چې بېل بېل لوستل کېږي لکه((الم)) (الف،لام،میم) دغو تورو ته

حروفو کې راغلی وي. دغه مد حرفي مثقل بولي، ځکه چې په مقطعاتو کې راغلی او د مد له حرف وروسته مشدد ساکن حرف راغلی دی.

مانند: ﴿الٓمٓ﴾، ﴿الٓمٓصٓ﴾، ﴿الٓمٓر﴾، ﴿طسٓمٓ﴾.

## ۴- مخفف حرفي لازم مد

هغه مد دی چې د مد حرف وروسته يې سبب مظهر سکون (غيرمدغم) په مقطعاتو کې راغلی وي. دغه مد ته مخفف حرفي مد وايي، ځکه په مقطعاتو توريو کې راغلی او د مد له توري وروسته خفيف ساکن توری راغلی دی.

لکه:

﴿صٓ﴾، ﴿حمٓ﴾ ﴿قٓ﴾ ﴿يسٓ﴾، ﴿الٓر﴾ ﴿حمٓ عٓسٓقٓ﴾، ﴿نٓ﴾

## تبصره

له درې حرفي مقطعاتو څخه د ((ع)) په حرف کې د لين مد راځي. دغه توری د مريم سورت په پيل ﴿كٓهيعٓصٓ﴾ او بل د شوری سورت په پيل کې ﴿حمٓ عٓسٓقٓ﴾ راغلی دی.

دغه مد ته د لين لازم مد وايي.

خو د (والصيف- من خوف- لاخير- سوء-رای العين) ته عارض لين مد وايي، ځکه په دغو کې د وقف د عارض په سبب سکون راځي.

د لين په لازم مد او د لين په عارض مد کې شپږ حرکته مد ښه دی.

د يادولو وړه ده چې له پورتنيو اقسامو پرته، مد نور ډولونه هم لري چې په متن کې مونه

---

مقطعه توري وايي.

مقطعه توري دمد او عدم مد له مخې په درې ډوله دي. الف: لومړی ډول يو حرف دی چې هغه الف دی. دغه توري هيڅ ډول مد او کشش نه لري، ځکه د مد توري نه لري.

ب: دويم ډول هغه توري دي چې دوه توري دي او هغه پنځه حرفه دي.

د: چې طاهر په عبارت کې (حا،يا، ها- را) ټول شوي دي. په دغو کې د اصلي مد په اندازه (دوه حرکته) مد راځي.

ج: هغه توري دي چې درې توري وي او هغه اته توري دي چې د(تقص عسلکم) په عبارت کې ټول شوي دي (نون، قاف، صاد، سين، لام، کاف، ميم) او دغه د لازم مدونه شميرل کيږي او شپږ حرکته مد پکښې راځي.

دي یاد کړي، څکه چې ځینې یې په اصلي مد او ځینې یې په فرعی مد کې راځي.[1]

## تمرین او تطبیق

زده کوونکې دې له لاندې سورت او تمرین وروسته د مد ډولونه په ګوته کړي او په قرات کې دې عملا تطبیق کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡبُرُوجِ ١ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡمَوۡعُودِ ٢ وَشَاهِدٖ وَمَشۡهُودٖ ٣ قُتِلَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأُخۡدُودِ
٤ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلۡوَقُودِ ٥ إِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا قُعُودٞ ٦ وَهُمۡ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ شُهُودٞ ٧
وَمَا نَقَمُواْ مِنۡهُمۡ إِلَّآ أَن يُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ٨ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُواْ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوبُواْ

---

۱- تفصیل یې په لاندې دول دی:

۱- بدل مد: هغه مد دی چې سبب یې (هزه) دمد له توري مخکې راغلی وي، لکه: امن-اوتي-ایماناً) چې په اصل کې اذمن-اءتی- اءماناً) و او د صرف د علم دقوانینو له مخې کله چې دوې همزه ګانې یو ځای راشي داسې چې لومړنی ساکنه او دویمه یې متحرك وي، دویمه همزه په مدي همزه بدلیږي چې د ما، قبل همزې حرکت تابع وي، دغه مد له اصلي مد سره یوځای کیږي.

۲- عوض مد: هغه مد ته وایي چې د کلمې په پای کې دوقف په حالت کې د تنوین پرځای مفتوح الف راشي، لکه: افواجاً) دغه مد هم له اصلي مد سره یوځای کیږي او دوه حرکته اوږدیږي.

۳- صله مد(د کنایه- ها – د ضمیر- ها)- هغه مد دی چې د منصوب متصل او مجرور متصل مفرد مذکر غایب، د رسم فعل او حرف پای کې راځي داسې حلال کې چې د اود د تحرکو نورو په منځ کې راشي.

لکه:﴿قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ – وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ – إِنَّهُ عَلَى رَجْعِهِ لَقَادِرٌ–إِنَّهُ أَوَّابٌ﴾.

په پورتنی قاعده کې باید څوټکې په پام کې ولرو:

الف: کله چې ضمیر د دوو متحرکو ترمنځ راشي او مابعد توري یې همزه نه وي، (انه علی) په هغه صورت کې صله مد له اصلي مد مستحق کیږي (په ضمه او کسره کې اشتباع راشي داسې چې له هغه((و)) او ((ی)) حاصل شی) او دوه حرکته مد راځي او که یې وروسته همزه وي، لکه((انه اداب)) په هغه صورت کې صله مد له منفصل مد سره ملق کیږي (تر ٦ حرکتونو پورې)

ب: په (یرضه لکم) کې سره له دې چې د حفص رح په اند دضمیر- ها -د دوو متحرکو تورو ترمنځ راغلې، یکښې مد نه کیږي، ځکه چې په اصل کې ((یرضاه لکم)) دي، نو داصل په اعتبار، ها دساکن او متحرك ترمنځ راغلې، نه ددو متحرکو ترمنځ همدارنګه په ((ارجه)) او(فالقه) کلموکې د ماقبل او مابعد له متحرك والی سره سره د حفص رح په روایت کې استنشاء په سکون او له اشباع پرته او د (و یخلده فیه مهاناً) په دوو کلموکې د مخکنی سکون سره سره دکسرې په اشباع (صله مد) لوستل کیږي.

ج: په ذاتي ها (دکلمې له نفس څخه) لکه: - لین لم ینته- فواکه شبه لهم، سفه او.....)) او د سکتې په ها کې لکه((لم یتسنه، اقتده- ماهیه –کتابیه، مالیه، سلطانیه) صله مد (اشباع) نه کیږي.

لنډه دا چې د کلمې وروستی [ها]په درې ډوله وي: ذاتی ها، سکته ها، و چیزها له دغو درې ډوله هاګانو څخه یواځې د ضمیر په هاکې اشباع کیږي او هغه په دې شرط چې مخکې او وروسته حرف یې متحرك وي.

فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ ٱلْحَرِيقِ ﴿١٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ
جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْكَبِيرُ ﴿١١﴾ إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ هُوَ
يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلْوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو ٱلْعَرْشِ ٱلْمَجِيدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾ هَلْ
أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم
مُّحِيطٌۢ ﴿٢٠﴾ بَلْ هُوَ قُرْءَانٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِى لَوْحٍ مَّحْفُوظٍۭ ﴿٢٢﴾

## پوښتنې

١- د لازم مد د اقسامو نومونه واخلئ.

٢- لازم مثقل كلمي مد تعريف او دوې بېلګې يې بيان كړئ.

٣- لازم كلمي مخفف مد تعريف او دوې بېلګې يې بيان كړئ.

٤- لازم حرفي مثقل مد تعريف او دوې بېلګې يې بيان كړئ.

٥- لازم حرفي مخفف مد تعريف او دوې بېلګې يې بيان كړئ.

٦- په دغو كلماتو كې ﴿طسٓمٓ-الٓمٓ-طه - إِنِّى آنَسْتُ - وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ - مَآءً ثَجَّاجًا- حَدَآئِقَ- فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلْكُبْرَىٰ - رَسُولٍ كَرِيمٍ﴾ كوم ډول مد دى؟ واضح يې كړئ.

٧- دلاندې عبارت پروړاندې د (√) او يا (X) علامه كېږدئ:

په لاندې كلموكې مخفف حرفي مد كېږي.﴿الٓمٓ﴾، ﴿الٓمٓصٓ﴾، ﴿طسٓمٓ﴾ ( ).

## كورنۍ دنده

زده كوونكي دې د لازم كلمي مثقل، مخفف، حرفي مثقل او مخفف مد لپاره دوه دوه مثالونه په خپلو كتابچو كې وليكي او ټولګي ته دې راوړي.

# دوقف اقسام

څرنګه چې په یوه دمه دیو اوږد سورت یا آیت لوستل سخت او غالباً ناشوني دي، تلاوت کوونکی به اړ وي چې د نفس تازه کولو لپاره وقف وکړي، نو لازمه ده چې د و قف ځای او د هغه طريقه وپېژني، څکه د وقف د ځایونو رعایت د قرآن کریم له معنا سره مستقیمې اړیکې لري، آن تردې چې که یو څوك د تجوید قاعدې ښې مراعات کړي، خو د وقف ځایونه ونه پېژني، هغه بشپړ او ښه قاري نه شو بللای، بلکې قرائت به یې نیمګړی وي. پر دې اساس د وقف بحث ډېر ارزښت لري. د وقف تعریف، اقسام او نښې په لاندې ډول بیانوو:[۱]

## د وقف تعریف

وقف په لغت کې درېدلو اوتوقف کولوته وایي.

په اصطلاح کې د قرائت پر مهال د کلمې پر وروستي توري دغږ قطع کولوته وایي، تر څو نفس تازه شي او قرائت وړاندې لاړشي.[۲]

۱- د تجوید په تعریف کې مو ولوستل چې تجوید د حروفو سم اداء کول، د حروفو د مخرجونه او صفاتو پېژندل او د وقف او وصل ځایونه په پام کې نیول وي. په دې اساس د وقف بحث د تجوید د علم بحث دی چې د هغو له پېژندلو پرته ترتیل نیمګړی ګڼل کېږي. او همدا راز پرځای وقف له اورېدونکي سره د قرآن مجید په پوهېدلو کې مرسته کوي او عکس یې د غیر مراد معنا سبب کېږي.

۲- باید وپوهېږو چې دلته درې قریب المعنی اصطلاح ګانې دي چې په خپلو کې توپیر لري:

## د وقف اقسام

وقف د تلاوت کوونکي د حالت په اعتبار پر دوه ډوله دی:

۱- اضطراري یا بیړنی وقف

۲- اختیاري وقف

## ۱- اضطراري یا بیړنی وقف

هغه وقف دی چې د تلاوت کوونکي له غوښتنې او ارادې پرته د یولړ عوارضو په رامنځته کېدو، لکه: نفس دربېدو، ټوخي، هېره، ژړا یا هربل عذر رامنځته کېږي.

په اصطلاح کې هغه وقف دی چې قاري له قرائت کولو څخه بې وسه شي، نو هرې کلمې ته چې ورسېد، وقف کوي، مهمه نه ده چې څرنګه وقف وکړي، ځکه په خپل اختیار یې نه وي، خو مهم دادی چې د اضطرار حالت له منځه تللو وروسته بېرته له هغه ځایه پیل وکړي چې ابتدا پرې سمه راځي.[1]

## ۲- اختیاري وقف

هغه وقف دی چې تلاوت کوونکی په خپله اراده او غوښتنه، د جملو د معنا او تړاو په پام

---

۱- وقف چې تعریف یې په متن کې وشو.
۲- قطع: دقرآن مجید کلمې قطع او پر بل کار پیل کول
۳- سکت یا سکت: پرته له دې چې نفس تازه کړي د لنډ مهال لپاره دغږ قطعه کول دي چې د حفص د روایت له مخې یې لازمي موارد په قرآن کریم کې دادي:
عوجاً قیما- کهف(۱)من مرقدنا هذا ما وعدا الرحمن (یس- ۵۲)وقیل من راق- قیامت(۲۷) کلا بل ران – مطففین(۱٤)
۱- دیادولو وړ ده چې اضطراري وقف له یوې خوا د معقول عذر (نفس دریدل، ټوخې او....) له امله دی او بل خوا په قرآن مجید کې ډېر اوږده آیتونه دي، نو انصاف حکم کوي چې په داسی مواردوکې د قران مجید پر قاری نیوکې ونه شي، خو په هر حال نه شو کولای د هغو قاریانو له لوړې مرتبې سترګې پټې کړو چې د نورو په پرتله د لوړ تنفسي ظرفیت خاوندان دي.

کې نیولو سره ځای اختیار کړي او وقف پرې وکړي.

### تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې د لاندې آیتونو د تمرین پر مهال اضطراري او اختیاري وقفونه عملاً تجربه او تطبیق کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ ﴿١﴾ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا
رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ وَبِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ
عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ
ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٦﴾ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡۖ وَعَلَىٰٓ
أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿٧﴾ ﴾

### پوښتنې

١. وقف په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.

٢. وقف د وقف کوونکي د حالت په اعتبار په څو ډوله دی؟

٣. اضطراري وقف تعریف کړئ.

٤. د اضطراري وقف په حالت کې قاري له کوم ځایه بېرته پیل وکړي؟

٥. اختیاري وقف تعریف کړئ.

٦. په لاندې آیت کې پر (من یقول) وقف اضطراري دی که اختیاري؟ دلیل یې ووایئ

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الآخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ﴾.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د وقف د بحث د ارزښت په اړه په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکي چې تر پنځو کرښو لږه نه وي او ټولګي ته دې راوړي.

پنځه ويشتم لوست

# د اختياري وقف ډولونه[1]

اختياري وقف د وقف د ځای (موقوف عليه) له مخې په څلور ډوله دی.

## تام وقف

هغه وقف دی چې د دوو عبارتونو تر منځ د وقف دواړه لوري هېڅ لفظي او معنوي تعلق و نه لري.

١- - څرنگه چې اضطراری وقف د قاري له اختياره وتلی وي، نو د فقهي قاعدې(الضرورات تبيح المحضورات) له مخې په هر ډول اداشی يو اضطراري جواز لرلای شی او ډېر دبحث وړ نه دی. په دې اساس اختياري وقف د بحث وړوي.
د حفص(رح) په روايت وقف د څرنګوالي په اعتبار په څلور ډوله دی:
١- بالاسکان وقف: (دوقف پرمهال د متحرك توري ساکتول)، لکه: (العظيم= العظيم)
٢- بالابدال وقف: دوقف پرمهال يو حرف په بل حرف بدلول. لکه: الف ته د منصوب تنوين ابدال: مهاداً=مهادا. يا ها په گردی تا، لکه: خاشعة=خاشعه
٣- بالاشمام وقف: (د مضموم توري له ساکن کولو وروسته د شونډو چسپول، لکه: د مضموم توري د اداء کولو پرمهال، داسې چې په سترګو ليدل شي او کوڼ سړی پرې نه پوهيږي، لکه(نستعين).
٤- بالروم وقف: په کراره د وقف پرمهال د مضموم او مکسور توري د ثلث حرکت بيان، لکه: (من قبل – فی الارض)
پورتني اقسام مو دډېر تخصص توب له وجې په متن کې بيان کړل.
- څکه د دوو عباراتو تر منځ تعلق او ارتباط له دغو دريو حالاتو بهر نه دی.
الف: لفظي تعلق:
يعني دوه عبارتونه د ژبې او اعرابو د قواعدو له مخې يو تر بله تړاو ولري، لکه چې يوېي مبتدا او بل خبروي يا يو موصوف وي بل يې صفت، لکه: (الحمد) له (لله) سره. ددې پرعکس د لفظي تعلق نشتوالی هغه دی چې هر يو عبارت په يواځې توګه بشپړه جمله وي او بل عبارت ته اړتيا ونه لري.
ب:معنوی تعلق:
د موضوع او مطلب د سياق له مخې له لومړۍ جملې سره د دويمې جملې تړاو دی، په دې معنا چې په دويم عبارت کې موضوع د لومړنۍ عبارت سره پيوستون لري او بشپړوی يې، لکه چې په لومړي عبارت کې د مومنانو صفات وي او په دويم عبارت کې هم د مومنانو بحث دوام پيدا کوي. لکه چې د بقره په سورت کې د مومنانو صفات له ((هدی للمتقين)) وروسته راغلی دی. د دې پرعکس د معنوي تعلق نشتوالی هغه دی چې په دويم عبارت کې موضوع يا د مطلب سياق تغير مومي او له مخکې عبارت سره تړاو ونه لري. لکه چې په لومړۍ جمله کې د مؤمنانو او په دويمه جمله کې د کافرانو بحث وي.
ج: لفظي او معنوي تعلق:
يعني د دوو عبارتونو سره ترمنځ هم لفظي تعلق وي او هم معنوي لکه د(الحمدلله) تعلق چې له (رب العالمين) سره دی چې (رب العالمين) د (الله) صفت دی. ددې پر عکس د لفظي او معنوي تعلق نشتون دادی چې هر عبارت په خپله بشپړ وي او پخپلو کې هيڅ ډول لفظي او معنوی تعلق ونه لري، لکه: د (اولئک علی هدی من ربهم و اولئك هم المفلحون) او (ان الذين کفروا سواءعليهم ء انذرتهم ام لم تنذرهم لايومنون) تر منځ څکه د عربی ژبې د اعرابو او قواعدو له مخې هره جمله بيله ده او له معنوي اړخه هم په لومړۍ جمله کې د مومنانو صفتونه بيان شوي او په دويمه جمله کې د کفارو صفتونه بيان شوي دي.

## د تام وقف حکم

پرلومړي عبارت وقف کول او بیا پر دویم عبارت ابتدا کول ضروري او لازمي وي.[1]

## د تام وقف بېلګې

تام وقف تر ډېره د آیتونو په پای، د قرآني کیسو په پای او د ټاکلو موضوعاتو په پای کې راځي چې په قرآن کریم کې ځینو مواردو ته په لاندې ډول اشاره کوو:

## الف: د آیتونو په پای کې

د ډیرو ایتونو پای د تام وقف ځایونه دي:

وقف پر ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴾[الفاتحه:۴ ]او ابتدا له ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾.

وقف پر ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾[ الفاتحه:۵ ]او ابتدا له ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾.

وقف پر ﴿ أُولَئِكَ عَلَى هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾[ البقره:۵ ] او ابتدا له ﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾.

## د آیتونو په منځ کې

لکه:

وقف پر ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ﴾[الملک:۱۹]او ابتدا له ﴿مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَنُ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِيرٌ﴾.

وقف پر ﴿وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ ﴾[الزمر:۳ ]، او ابتدا له ﴿مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى﴾.

وقف پر ﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَنْ تَعْتَدُوا﴾[المائدة:۲ ] او ابتدا له ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى﴾.

وقف پر﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ ﴾[الانعام:۲۰ ] او ابتدا له ﴿الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾

وقف پر ﴿ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ ﴾[أل عمران: ۷ ] او ابتدا له ﴿وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ

۱- ځکه په ځینو موارد وکې د هغه وصل د دووعبارتونو د معنا د ثقل سبب ګرځي او د ا یو ډول ناوړ کار ګڼل کېږي او په ځینو ځایونو کې په معناکې د سخت بدلون سبب کېږي، نو وقف ډېر ارزښت لري او په همدغه دلیل سره یې (لازم وقف) بولي چې په قرآنکریم کې د (مـ) په وسیله ښودل کېږي.

آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا﴾.[1]

## کافی وقف

هغه وقف دی چې د وقف ځای د دواړو لوريو ترمنځ لفظي تعلق نه وي، خو معنوي تعلق يې ترمنځ وي.

## د کافی وقف حکم

دلته وقف او وصل دواړه جايز دي. کولای شو وقف وکړو او له ما بعد څخه بيا ابتدا وکړو او هم دواړه عبارتونه سره وصل کولای شو. څرنګه چې وقف، مخاطب ته د مفهوم د رسولو لپاره کفايت کوي، کافي وقف يې بولي.

## د کافي وقف بېلګې

کافي وقف هم د آيتونو په پای او هم په منځ کې راځي چې دلته يې ځينو مواردو ته نغوته کوو:

## الف- د آيتونو پای

لکه:

وقف پر ﴿وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ﴾[البقرة:۳]او ابتدا له ﴿وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ﴾.

وقف پر ﴿وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ﴾[البقرۀ:۸]و ابتداء از ﴿يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا﴾.

وقف پر ﴿وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ﴾[البقرة: ۹] او ابتدا له﴿فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ﴾.

## ب- د آيتونو منځ

لکه:

وقف پر ﴿وَعَلَى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ﴾[البقرۀ:۷]او ابتدا له ﴿وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾.

وقف پر ﴿يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا﴾[البقرۀ:۹] او ابتدا له ﴿وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ﴾.

وقف پر ﴿رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ﴾[الإسراء:۲۵] او ابتدا له ﴿إِنْ تَكُونُوا صَالِحِينَ﴾.

### تمرين او تطبيق

زده کوونکي دې د آيتونو د تلاوت پر مهال تام او کافي وقفونه عملاً تجربه او تطبيق کړي.

---

۱- کله چې په پورتنيو بيلګو کې غور وشي، معلومه به شي چې پر موقوف عليها کلمه، موضوع د لفظ او معنا له پلوه بشپړ شوې او په ځينو مواردو کې که وقف ونه شي، نو په معنا کې به په سخت تغير راشي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٣ وَلَا تَقُولُواْ
لِمَن يُقۡتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتُۢۚ بَلۡ أَحۡيَآءٞ وَلَٰكِن لَّا تَشۡعُرُونَ ١٥٤ وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ
مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٥
ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ١٥٦ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن
رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ ١٥٧ ﴾

## پوښتنې

۱- اختیاري وقف د وقف د ځای په اعتبار په څو ډوله دی؟

۲- تام وقف کوم وقف دی؟

۳- د تام وقف حکم بیان کړئ.

٤- د تام وقف لپاره د آیت له وروستی برخې څخه دوه مثالونه بیان کړئ.

٥- د تام وقف لپاره د آیت له منځ څخه دوه مثالونه بیان کړئ.

٦- کافي وقف تعریف او حکم یې بیان کړئ.

۷- د کافي وقف لپاره د آیتونو له منځ او پای څخه دوه دوه مثالونه ذکر کړئ.

۸- په ﴿ الٓمٓ ١ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ٢ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ
ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣ وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ وَبِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ
يُوقِنُونَ ٤ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥ ﴾، آیتونو کې د
«لِلْمُتَّقِينَ» او «هُمُ الْمُفْلِحُونَ» پر کلمو وقف کول کوم ډول وقف دی؟ معلومات ورکړئ

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې څلور مثالونه د تام وقف او څلور مثالونه د کافي وقف لپاره په خپلو کتابچو کې ولیکي او ټولګي ته دې راوړي.

شپږویشتم لوست

# حسن او قبیح وقف

## حسن وقف

پر هغه ځای وقف کول دي چې هلته لومړی عبارت تمام او مستقل، خو دویم عبارت ناقص وي او دبشپړولو لپاره يې لومړني عبارت ته اړتيا لري.[۱]

## د حسن وقف حکم

په لومړني عبارت وقف کول جواز لري، ځکه بشپړه معنا افاده کوي، خو له دویم عبارت څخه ابتدا کول د هغه عبارت د نیمګړتیا له وجې جایز نه دي، نو قاري باید بېرته له مناسب ځایه پیل وکړي او دوه عبارتونه سره وصل کړي.

تر ډېره پر حسن وقف نه دريدل ښه دي.[۲]

## د حسن وقف بېلګې

حسن وقف هم د آیتونو په پای او هم په منځ کې راځي چې ځینې ځایونه يې یادوو:

### الف- د آیتونو په پای کې

لکه:

وقف پر ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾[الفاتحه:۱] اواتبدا له ﴿الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾.

وقف پر ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾[الفاتحه:۶] اواتبدا له ﴿صِرَاطَ الَّذِينَ﴾.[۳]

---

۱- په داسی حال کې چې لومړنی جمله ده، تړلې هم ده، په دې معنا چې مخکې جمله موصوف او وروسته جمله صفت وي یا مخکنی جمله وروستنی جمله مستثنی ده یا مخکنی جمله مبدل منه او وروستنی جمله بدل ده، لکه: وقف کول پر[الله] په [الحمدالله] کې او ابتدا پر مابعد یعني[رب العالمین] . که څه هم الحمدالله مستقله جمله ده او بشپړه معنا افاده کوي، خو د [رب العالمین] جمله چې د [الله] لپاره صفت ده، نو له لومړنی جملې سره تړاو لري.

۲- هیر نه کړو چې د حسن وقف په هر ډول کې د صحت شرط دادی چې د ایت معنا تغیر و نه کړی که نه بیا پر قبیح وقف کې راځي، لکه پر[لا تقربوا الصلاه و انتم سکری] کې پر [الصلاه] سره وقف کول، سره له دی چې د لفظ له مخی نیمګړی نه دی، خو له یوی خوا يې اصلي معنا تغیر کوي(لمانځه ته له نږدی کېدلو منع) او بلخوا دویم عبارت[و انتم سکری] ناقص دی او په یواځیتوب کې باید و نه لوستل شي.

۳- په لومړي مثال کې [الرحمن الرحیم] د[س] لپاره په [الحمد الله رب العالمین] کې صفت دی. او په دویم مثال کې والله الذین انعمت علیهم د[صراط المستقیم] لپاره بدل دی. خو چې د ایت په پای کې وقف چې له رسول الله څخه ثابت شوی، تر هغه چې د ایت د پای معنا تغیر ونه کړی، حسن او ښه دی. خو که د غیر مراد معنا ابهام وکړي، هغه مهال یی وصل ضروري دی، ځکه د ایت په پای کې وقف چې رسول الله کړی، د ټولو أیاتونو په پای کې وقف نه دی، بلکه په ځینو مواردوکې مراد دی لکه:

## ب- د آیتونو نو په منځ کې وقف

لکه:

وقف پر ﴿الْحَمْدُ لِلهِ ﴾[الفاتحة:۱] اوابتدا له ﴿ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾.

وقف پر ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِی خَلَقَكُمْ﴾[البقرة:۲۱] اوابتدا له ﴿وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾.

وقف پر ﴿يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ ﴾[ممتحنه:۱] او ابتدا له ﴿أَنْ تُؤْمِنُوا بِاللهِ رَبِّكُم﴾.

## قبیح وقف

پر هغه ځای وقف کول دي چې عبارت بشپړنه وي، بلکې د لفظ او معنا له مخې له وروستي عبارت سره تړاو ولري.[۱]

## دقبیح وقف حکم

وقف کول قبیح او ناروا دی او که قاري بې اختیاره وقف ته نا چار شي،(اضطراري وقف)، داضطرار له منځه تللو وروسته باید بلا فاصله له مناسب ځایه اعاده وکړي.

## د قبیح وقف بېلګې

۱- وقف پر ﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا﴾ او ابتدا له﴿إِنَّ اللهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ﴾.

۲- وقف پر ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ ﴾ او ابتدا له﴿إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا﴾.

۳-وقف پر ﴿لَا يَبْعَثُ اللهُ ﴾ او ابتدا له ﴿مَنْ يَمُوتُ﴾.

٤-وقف پر﴿وَيَقُولُ الْكَافِرُ﴾ او ابتدا له ﴿يَا لَيْتَنِی كُنْتُ تُرَابًا﴾.

## تبصره

وقف د معنا له مخې کله لازم او کله اقبح وي، لکه وقف پر ﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ﴾لازم او وقف پر﴿لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ﴾اقبح دی.

---

[فویل للمصلین] چې د ایت پای دی او هم یې غیر مراد معنا [المونځ کوونکو ته ناوړه دعا] ده، نو له [ الذین هم عن صلاتهم ساهون] سرخ یی وصل ضروری دی.

۱- لکه پر مبتدا وقف کول او خبريې پرېښودل، لکه: وقف پر (الحمد) او الله) پرېښودل. یا وقف پر قول او فاعل پرېښودل، لکه: وقف پر [ضرب] او [الله] پرېښودل یا وقف پر مضاف او مضاف الیه پر یښودل، لکه: وقف پر [بسم] او [الله] پر ښودل او......

همدا راز کله وقف پر یوه کلمه حسن وي، په داسې حال کې چې ابتدا کول له هغې کلمې څخه اقبح وی، لکه وقف پر ﴿يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ﴾ او ابتدا له ﴿وَإِيَّاكُمْ أَنْ تُؤْمِنُوا بِاللهِ رَبِّكُم﴾ یا وقف پر ﴿لَقَدْ سَمِعَ اللهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوا﴾ او ابتدا له ﴿إِنَّ اللهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ﴾، ] په داسې موردو کې دې تلاوت کوونکی د معنا له غوښتنې سره سم له مناسب ځایه پیل وکړي.(۱)

## تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې د لاندې دریو آیتونو د مشق پر مهال حسن او قبیح وقف په ګوته کړي او په تلاوت کې دې عملا تطبیق کړي.

﴿لِّلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِۗ وَإِن تُبْدُواْ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُم
بِهِ ٱللَّهُۖ فَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٖ قَدِيرٌ ﴿٢٨٤﴾ ءَامَنَ
ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا
نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَاۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾
لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن
نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرٗا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَاۚ رَبَّنَا
وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى
ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٨٦﴾﴾

۱- د یادولو وړده چې په ډېرو ځایونوکې د ابتدا ارزښت تر وقف لړ نه وي او ابتدا هم د وقف په څير په، کافی،حسن، قبیح او اقبح وېشل کېږي. خو دا چې د وقف په مقابل کې دی، په متن کې شرحه نشو هغه ځوك د هغه په تفکیك پوهیږی چې د سم تلفظ سره سره د قران کریم په معنا هم پوه وي او دا یو فضیلت دی چې الله تعالی یې هر چاته وغواړي، ورکوي یې {ذَٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ}

## پوښتنې

۱-حسن وقف تعریف او حکم یې بیان کړئ.

۲- د حسن وقف لپاره دوه مثالونه د آیتونو له وروستۍ برخې بیان کړئ.

۳- د حسن وقف لپاره دوه مثالونه د آیتونو له منځه بیان کړئ.

۴-په ﴿إِنَّا أَنْذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا﴾، آیت کې پر(يَقُولُ الْكَافِرُ ) باندې وقف او له (يَا لَيْتَنِي) څخه ابتدا کوم ډول وقف دی؟

۵- قبیح وقف تعریف کړئ.

۶- د قبیح وقف حکم بیان کړئ.

۷- په لاندې دوو بېلګو کې د وقف نوعیت بیان کړئ.

وقف پر ﴿يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ﴾او ابتدا له ﴿أَنْ تُؤْمِنُوا بِاللهِ رَبِّكُم﴾

وقف پر ﴿لَا يَبْعَثُ اللهُ﴾او ابتدا له ﴿مَنْ يَمُوتُ﴾.

## کورنۍ دنده

زده کوونکې دې د حسن او قبیح وقف لپاره پنځه پنځه مثالونه په کتابچو کې ولیکي او په راتلونکې درسي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

# د وقف نښې

خرنگه چې د وقف او ابتداء ځای سم پېژندل، پر عربي ژبه د حاکمیت او د قرآن کریم پر معنا او تفسیر په پوهېدلوکې دی چې دغه دواړه(د عربي ژبې او قرآن مجید پوهه) ټولو مسلمانانو ته آسانه نه ده، نو پوهانو او اسلامي علماوو، د وقف د ځایونو د سم ټاکلو لپاره، داسې نښې ټاکلي چې په مرسته يې، تلاوت کوونکی کولای شي د وقف سم ځایونه وپېژني.[1]

دوقف نښې دادي: م - ط – ج- ز-ص-لا- ؞؞- قلی – صلی - ق

**مـ (لازم وقف)**

هغه وقف دی چې که ونه شی، د آیت په اصلي معناکې د زیان راتلو امکان شته.

لازم وقف په دری واړو ډولونو (تام، کافي او حسن وقف) کې را تلای شي او له هرډول شخه چې وي، باید وقف پرې وشي. دلته يې ځينې ځایونه بیانوو:

## دلازم وقف ځایونه

لکه وقف پر ﴿لِلْكَافِرِينَ﴾ چې د ﴿أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِلْكَافِرِينَ﴾ په آیت کې دی او ابتداء له ﴿وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ﴾[2]

لکه په ﴿لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ﴾ آیت کې پر ﴿تُوَقِّرُوهُ﴾ وقف او له ﴿وَتُسَبِّحُوهُ

---

۱- لومړنی عالم چې په دغه لیکنه يې کړي، شیخ عبدالله ابو جعفر طیفور سجاوندي غزنوي(م ۵۶۰ ق) داکتاب علل القرآآت والوقف والابتدا دی. چې دغه نښی د سجاوندي د وقف مشهورې نښې بلل کېږي.

۲- الزمر- ۳۲- دلته لازم وقف دی، ځکه که وصل شي، دا ویره پیداکوي چې جهنم هم د کافرانو ځای دی او هم د هغوکسانو چې د صدق وعده يې راوړې ده.

﴿بُكْرَةً وَأَصِيلا﴾ ابتدا كول [1]

په ﴿وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ﴾ کې پر ﴿قَوْلُهُمْ﴾ وقف کول او له ﴿إِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾ [2] ښخه ابتدا.

## ط (مطلق وقف)

دغه وقف هغه مهال دی چې د وقف په ځای کې لفظ او معنی بشپړ وي، نو وقف هم مناسب او پرځای وي او پر ما بعدیی ابتدا کول هم ډېر ښه دی، خو وصل یې هم په معنا کې کوم بدلون نه راولي.

د تام وقف ټول ځایونه په دې شرط چې دلازم وقف ځایونه نه وي، مطلق وقف دی

## دمطلق وقف ځایونه

په ﴿يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَارَهُمْ﴾ کې پر ﴿أَبْصَارَهُم﴾ وقف کول او له ﴿كُلَّمَا أَضَاءَ لَهُمْ مَشَوْا فِيهِ﴾. څخه ابتدا کول. [3]

په ﴿كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ﴾ کې پر ﴿رَزَقْنَاكُم﴾ کم وقف کول او له ﴿وَمَا ظَلَمُونَا وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ﴾[4]. ابتدا کول.

په ﴿وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللهِ لَا تُحْصُوهَا﴾ کې پر ﴿لَا تُحْصُوهَا﴾ وقف کول او له. ﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ﴾[5] څخه ابتدا کول.

## ج (جایز وقف)

هغه وقف دی چې وصل او وقف دواړه یې جواز لري( متساوی الطرفین)، خو وقف یې

١-الفتح: ٩، دلته وقف لازم دی، ځکه که وصل شي، دا وېره پيداکوي چې درى واړه فعلونه (تعزروه- دهغه مرسته وکړئ) (توقروه-درناى یې وکړي)(تسبحوه- په پاکۍ یې یاد کړئ) یو کس ته راجع کېږي یا الله (ج) ته، یا پیامبر (ص) ته حال دا چې لومړی او دویم فعل(تعزروه - توقروه) پیامبر(ص) ته نغوته کوي او دریم یی(تسجوه) الله(ج) ته ځانگړی دي.

٢- یونس- ٦٥ دلته هم لازم وقف دی، ځکه که وصل شي، دا وېره پیدا کېږي چې وروستۍ جمله(ان العزه الله جمیعاً) هم د کفارو د قول مقوله ده، په داسې حال کې چې دا دالله تعالی مقوله ده.

٣- البقرة: ٢٠

٤- البقرة: ٥٧

٥- ابراهیم: ٣٤

ښه دی.

د کافی وقف ټول ځایونه [له لازم ځایونو پرته] د جایز وقف ځایونه دي.

## دجایز وقف ځایونه

په ﴿وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلاً﴾ کې پر ﴿سَبِيلاً﴾ وقف کول او له ﴿وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلاً﴾[١] باندې ابتدا کول.

په ﴿قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ﴾ کې پر ﴿الدِّمَاءَ﴾ وقف کول او له ﴿وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ﴾[٢] ابتدا کول.

په ﴿ذَلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ﴾ کې پر ﴿الْحَقُّ﴾ باندې وقف اوله ﴿فَمَنْ شَاءَ اتَّخَذَ إِلَى رَبِّهِ مَآبًا﴾[٣] ابتدا کول.

### تمرین او تطبیق

زده کوونکې دې د لاندې آیتونو د مشق پر مهال لازم، مطلق او جایز وقفونه عملاً تجربه او تطبیق کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿يسٓ ١ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ٢ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٤ تَنزِيلَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ٥ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمۡ فَهُمۡ غَٰفِلُونَ ٦ لَقَدۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَىٰٓ أَكۡثَرِهِمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٧ إِنَّا جَعَلۡنَا فِيٓ أَعۡنَٰقِهِمۡ أَغۡلَٰلٗا فَهِيَ إِلَى ٱلۡأَذۡقَانِ فَهُم مُّقۡمَحُونَ ٨ وَجَعَلۡنَا مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ سَدّٗا وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ سَدّٗا فَأَغۡشَيۡنَٰهُمۡ فَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ٩ وَسَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ

---

١- اعراف: ١٤٦
٢- البقرة: ٣٠
٣- النبآ: ٣٩

أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾ إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكْرَ وَخَشِيَ ٱلرَّحْمَٰنَ بِٱلْغَيْبِ ۖ فَبَشِّرْهُ
بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴿١١﴾

## پوښتني

١- دوقف نښې څه معنا لري؟

٢- (م) د کوم وقف نښه ده او که وقف پرې و نه شي، څه کېږي؟

٣- پر (م) د وقف لپاره دوې بېلگې بيان کړئ.

٤- (ط) د کوم وقف نښه ده؟

٥- پر (ط) د وقف لپاره دوې بېلگې بيان کړئ.

٦- (ج) د کوم وقف نښه ده او څه معنا لري؟

٧- د جايز وقف دوې بېلگې بيان کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکې دې د وقف د نښو په اړه شپږ کرښې مقاله وليکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې ټولگي ته راوړي.

# ز (مجوز وقف)

هغه وقف دی چې د يو دليل تجويز شوی دی، وصل نه دا چې جايزوي، بلکې ښه هم وي.[1]

## د مجوز وقف ځايونه

په ﴿وَعَلَى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ﴾ کې په ﴿غِشَاوَةٌ﴾ وقف او له. ﴿وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ څخه ابتدا کول[2]
په ﴿تَبَارَكَ الَّذِى بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾ کې په ﴿الْمُلْكُ﴾ وقف کول او له. ﴿وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ﴾. څخه ابتدا کول[3]

## ص: (مرخص وقف)

هغه وقف دی چې د جملې داوږدوالي او نفس لنډېد لو له کبله، تلاوت کوونکي ته د وقف جواز ورکول کيږي، خو د وقف د دواړو لوريو ترمنځ د قوي اړيکو له امله يې ، وصل ښه دی.[4]

## د مرخص وقف ځايونه

په ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ فِى رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ﴾ کې پر ﴿مِنْ مِثْلِهِ﴾ باندې وقف کول او له ﴿وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴾. څخه ابتدا کول[5]

په ﴿وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِم﴾ کې پر ﴿عَلَيْهِم﴾ باندې وقف او

١- دما قبل او مابعد دوې جملې يو دبل په ارتباط دلالت کوی، خو څرنګه چې دواړې جملی مفيدې او مفهوم ورکوی، هره يوه چې يوازې هم لوستل کيږي چې د دغه وقف بشپړ نوم (( وقف مجوزلوجه)) دی، يعنې د يو دليل له مخې يی وقف جايز شوی دی.
٢- البقرة: ٧
٣- الملک: ١
٤- د مرخص وقف بشپړ نوم(مرخص لضروره) دی، نو ځکه کولای شو له مابعد څخه يې پيل وکړو خو وصل يې ښه دی.
٥- البقرة: ٢٣

له﴿فَلْيَتَّقُوا اللهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا﴾. څخه ابتدا کول [۱]

## لا: (ممنوع وقف)

دغه نښه په هغه ځای کې راځي چې هلته وقف کول د آیت په مفهوم او معنا کې ستونزه را منځته کوي، د قبیح وقف ټول موارد په دغه وقف کې راځي. [۲]

## دممنوع وقف ځایونه:

په ﴿فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ﴾ کې پر ﴿أَجْمَعُونَ﴾ وقف کول او له ﴿ إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى أَنْ يَكُونَ مَعَ السَّاجِدِينَ﴾ څخه ابتدا کول. [۳]

په﴿مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ﴾ کې پر ﴿مِنْ قَبْلُ﴾وقف او له﴿وَفِي هَذَا﴾. څخه ابتدا کول. [۴]

## ∴: (معانقه)

دغه درې ټکي د معانقې [۵] دوقف نښې دي او دغه نښه هلته ږدي چې په لږه فاصله کې دوه وقفونه راشي چې تلاوت کوونکې باید پر یوځای وقف وکړي. [۶]

## دمعانقې دوقف ځایونه

﴿ ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾[البقرۀ:۱].

کله چې پر ﴿لَا رَيْبَ﴾ وقف وشی ﴿فِيهِ﴾ له مابعد ﴿هُدًى لِلْمُتَّقِينَ﴾ سره وصل شي. او که

۱- النساء: ۹

۲- دغه نښه تلاوت کوونکې ته خبر ورکوي چې دلته توقف ونه کړئ! ځکه نه شي کولای چې له مابعد څخه ابتدا وکړي او په پای کې مجبور دی چې راوګرځي او دوه عبارتونه سره ونښلوي. ددغې نښې اعتبار د ایت په پای کې ډېره مهم نه دی، که څه هم د هغې مراعات کول په ټولو ځایونو کې ښه دي.

۳- االحجر: ۳۰-۳۱ نو باید پر [الا ابلیس] باندې وقف، او له [ابی ان یکون مع الساجدین] څخه ابتداوشي.

٤- الحج: ۷۸

٥- معانقه په لغت کې دبل چا په غاړه کې لاس اچولوته وایي او د دغه وقف دمخامخ راتلو له وجې په دغه نومول شوی دي.

٦- په دواړو ځایونو کې وقف جایز نه دی، خو له دواړو تېرېدل جواز لري، که څه هم چې له یو ځایه تېرېدل او پر بل ځای وقف کول تر ټولو ښه دي.

قاري پر ﴿فِيهِ﴾ وقف وکړي، باید ﴿لَا رَيْبَ﴾ وصل کړي.

﴿وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى ٱلتَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ﴾[البقرة:١٩٥].

پر {ٱلتَّهْلُكَةِ} د وقف په صورت کې {وَأَحْسِنُوا} له مابعد سره وصل شي، او که پر{وَأَحْسِنُوا}

د وقف نیت وکړي، باید {ٱلتَّهْلُكَةِ} وصل کړي.

**قلی**: (الوقف اولی من الوصل) یعنی وقف تر وصل ښه دی.

**صلی** :(الوصل اولی من الوقف]یعنی وصل تر وقف ښه دی.

**ق**: دا د[قبل علیه الوقف] لنډیز او مخفف دی، یعني د ځینو په اند وقف ښه دی.

## تمرین او تطبیق

زده کوونکي دې د بقره سورت لومړني اووه آیتونه چې لاندې ذکر شوي دي، تمرین کړي

او د وقف نښې دې پکښې بیان کړي.

﴿الٓمٓ ﴿١﴾ ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْغَيْبِ
وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن
قَبْلِكَ وَبِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ
﴿٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٦﴾ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ
قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ وَعَلَىٰٓ أَبْصَٰرِهِمْ غِشَٰوَةٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٧﴾﴾

## پوښتني

۱- مسلمانو پوهانو دخه لپاره د وقف نښې وټاکلې؟

۲- ددغو دوو نښو (ج-ز) تر منځ څه توپیر دی؟

۳- (ص) او (صلی) څه توپیر لري؟ واضح یې کړئ او د هر یو لپاره دوې دوې بیلګې بیان کړئ.

٤- (ق) او (قلی) څه تو پیر لري؟ واضح یې کړئ او د هر یو لپاره دوې دوې بېلګې بیان کړئ.

٥- [لا] دکوم وقف نښه ده، نوم یې واخلئ او دوې بېلګې یې ووایئ.

٦- په کوم ځای کې چې د معانقې د وقف نښه وي، باید څه وکړو؟

۷- د معانقې وقف لپاره دوې بېلګې یې بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې لس آیتونه وټاکي چې د وقف نښې پکښې بیان شوي وي او په بل درسي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

# مهم او متفرق ټکي (۱)

هغه څه چې په دغه بحث کې یې یادونه کېږي، ځینې په تېرو درسونو کې لوستل شوي دي، داسې چې د نورو مباحثو تر څنګ راغلي او احتمال لري چې ښه زده شوي نه وي، په دې اساس د هغوی تکرار بې ګټې نه دی، خو ډېر مسایل یې نوي او مهم دي چې رسم الخط[1] پورې اړه لري.

د رسم الخط خبرې له دوو لوريو مهمې دي:

۱ـ پر یوه کلمه باندې وقف کول د کلمې د رسم الخط تابع وي. پردې اساس مهمه ده چې د تلفظ طریقه یې وساتل شي، تر څو پر کلمه په سمه طریقه وقف وشي.

۲ـ دځینو کلماتو رسم الخط دتلفظ خلاف وي. نومهمه ده چې د تلفظ کولو طریقه یې وساتله شي، تر څو د غلطۍ راتلو مخنیوی یې وشي.

دادی د حفص (رح) د روایت له مخې د رسم الخط ځینې قواعد بیانوو:

**(۱)ـ د تانیث تا په مفرد اسمونوکې تر ډېره د (ة) په بڼه لیکل شوې ده، دوصل په حالت کې (تا) او د وقف په حالت کې (ها) لوستل کېږي.** لکه:

﴿بِالسَّاهِرَةِ﴾ چې ﴿بِالسَّاهِرَه﴾ لوستل کېږي.

۱- له رسم الخط څخه موخه هماغه قراني خط دی چې د حضرت عثمان (رض) د خلافت پر مهال د يو ډلې حافظانو او قاريونو لخوا وليکل شو او پرهغه د صحابه کرامو اجماع راغله او نسخې يې د اسلامی دولت لويو ښارونو ته وليږل شوې.
له هغه وروسته بل رسم الخط ممنوع شو او په دغه رسم الخط کې تر نن پورې هيڅ بدلون نه دی راغلی.

﴿الْقَارِعَةُ–مَا الْقَارِعَه﴾ چې د وقف په حالت کې ﴿الْقَارِعَهْ–مَا الْقَارِعَهْ﴾ لوستل کېږي.

**(۲)- د وصل په حالت کې (الف) په لاندې ځايونو کې په لوستلو کې حذف کېږي، په رسم الخط او د وقف په حالت کې ثابت پاتې کېږي،** لکه:

﴿قَالَ أَنَا أُحْيِى﴾[۱] په وصل کې ﴿أَنَ﴾، په وقف کې ﴿أَنَا﴾ لوستل کېږي.

﴿لَكِنَّا هُوَ اللهُ رَبِّى﴾[۲] په وصل کې ﴿لَكِنَّ﴾، په وقف کې ﴿لَكِنَّا﴾ لوستل کېږي.

﴿فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ﴾[۳] په وصل کې ﴿ذَاقَشَّجَرَةَ﴾، په وقف کې ﴿ذَاقَا﴾لوستل کېږي.

﴿كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ﴾.[۴] په وصل کې ﴿كِلْتَلْجَنَّتَيْنِ﴾، په وقف کې } ﴿كِلْتَا﴾لوستل کېږي.

﴿وَقَالَاالْحَمْدُ لِلَّهِ﴾[۵]په وصل کې ﴿وَقَالَلْحَمْدُ﴾،په وقف کې ﴿وَقَالَا﴾لوستل کېږي.

﴿قُلْنَا احْمِلْ﴾[۶] په وصل کې ﴿قُلْنَحْمِلْ﴾په وقف کې ﴿قُلْنَا﴾لوستل کېږي.[۷]

**(۳)- په لاندې ځايونو کې الف په لوستلو کې وصلاً او وقفاً حذف کېږي، خو په رسم الخط کې ثابت پاتې کېږي:**

﴿أَلَا إِنَّ ثَمُودَا كَفَرُوا رَبَّهُمْ﴾[۸] ﴿وَعَادًا وَثَمُودَا وَأَصْحَابَ الرَّسِّ﴾[۹]

---

۱– بقرة:۲۵۸
۲– كهف:۳۸
۳– اعراف:۲۲
۴– كهف:۳۳
۵– نمل:۱۵
۶– هود:۴۰
۷–همدارنگه د وقف په صورت کې پر {وَلَيَكُونًا مِنَ الصَّاغِرِينَ}[يوسف:۲ ۳] او {لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ}[علق:۱۵] تنوين نه لوستل کېږي، بلکې الف لوستل کېږي.
۸– هود:۶۸
۹– فرقان:۳۸

﴿وَعَادًا وَثَمُودَا وَقَد تَبَيَّنَ لَكُمْ﴾[1] ﴿وَثَمُودَا فَمَا أَبْقَى﴾[2]﴿أَوْ يَعْفُوَ الَّذِى﴾[3]﴿إِنِّى أُرِيدُ أَنْ تَبُوءَا بِإِثْمِى﴾[4]﴿لِتَتْلُوَا عَلَيْهِمُ﴾[5]﴿لَن نَدْعُوَا مِن دُونِهِ إِلَهًا﴾[6]﴿لِيَرْبُوَا فِى أَمْوَالِ النَّاسِ﴾[7]﴿وَلَكِنْ لِيَبْلُوَا﴾[8]﴿وَنَبْلُوَا أَخْبَارَكُمْ﴾[9]﴿قَوَارِيرَا مِنْ فِضَّةٍ﴾[10]

**(۴)- په لاندې ځايونو کې په رسم الخط کې (الف) ليکل شوی، خو اصلاً نه لوستل کېږي:**

﴿أَفَإِنْ مَّاتَ﴾[آل عمران:۱۴۴]داسې لوستل کېږي: ﴿أَفَئِمَّاتَ﴾.

﴿أَفَإِنْ مِتَّ﴾[انبياء:۳۴]داسې لوستل کېږي: ﴿أَفَئِمِتَّ﴾.

﴿مَلَائِهِ﴾هر چيرې چې راشي، داسې لوستل کېږي: ﴿مَلَئِهِ﴾.

﴿لِشَاْيْءٍ﴾[کهف:۲۳]داسې لوستل کېږي: ﴿لِشَيْءٍ﴾.

﴿وَجاِيْءَ﴾[زمر:۲۹و فجر:۲۳]داسې لوستل کېږي: ﴿وَجِيْءَ﴾.

﴿مِنْ نَبَاِئ الْمُرْسَلِينَ﴾[انعام:۳۴]داسې لوستل کېږي: ﴿نَبِئِ﴾.

**(۵)- په لاندې کلمو کې (نون) په وصل کې په فتحه او په وقف کې په (الف) لوستل کېږي:**

---

۱- عنکبوت:۳۸
۲- نجم:۵۱
۳- بقرة:۲۳۷
۴- مائدة:۲۹
۵-رعد:۳۰
۶- کهف:۱۴
۷- روم:۳۹
۸- محمد:۴
۹- محمد:۳۱
۱۰- [دهر:۱۶]

﴿الظُّنُونَا﴾[احزاب:۱۰]په وصل کې﴿الظُّنُونَ﴾او په وقف کې ﴿الظُّنُونَا﴾لوستل کېږي.

﴿أَطَعْنَا الرَّسُولَا﴾[احزاب:۶۶] په وصل کې ﴿الرَّسُولَ﴾ او په وقف کې ﴿الرَّسُولَا﴾لوستل کېږي. ﴿السَّبِيلَا﴾[احزاب:۶۷] په وصل کې ﴿السَّبِيلَ﴾ او په وقف کې ﴿السَّبِيلَا﴾لوستل کېږي. البته په ﴿سَلَاسِلَا﴾[دهر:۴] په وصل کې په فتحه ﴿سَلَاسِلَ﴾ لوستل کېږي او په وقف کې هم په الف ﴿سَلَاسِلَا﴾ او هم د الف په حذف ﴿سَلَاسِلَ﴾ لوستل جايز دی.

**(۶)- په قران کريم کې څو ځايونه دي چې په ظاهر کې (لا) ليکل شوی خو (لَ) لوستل کېږي:**

لکه: ﴿لَإِلَى اللهِ تُحْشَرُونَ﴾[آل عمران:۱۵۸]داسې لوستل کېږي: ﴿لَإِلَى اللهِ﴾. ﴿وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ﴾[توبه:۴۷] داسې لوستل کېږي: ﴿وَلَأَوْضَعُوا﴾. ﴿لَأَذْبَحَنَّهُ﴾[نمل:۲۱] داسې لوستل کېږي: ﴿لَأَذْبَحَنَّهُ﴾.

﴿لَإِلَى الْجَحِيمِ﴾[صفت:۶۸] داسې لوستل کېږي ﴿لَإِلَى الْجَحِيمِ﴾.

﴿لَأَنْتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً﴾[حشر:۱۳] داسې لوستل کېږي: ﴿لَأَنْتُمْ﴾.

**(۷)- په لاندې کلمو کې (صاد) د رسم الخط خلاف (سين) لوستل کېږي:**

﴿وَاللهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ﴾[بقرة:۲۴۵]، ﴿فِي الْخَلْقِ بَصْطَةً﴾[اعراف:۶۹].[۱]

---

۱-البته په {أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ}[طور:۳۷] کې «سين» او «صاد» دواړه جايز دي، خو «صاد» ويل يې غوره ده او په {بِمُصَيْطِرٍ}[غاشيه:۲۲]کې يواځې «صاد» لوستل کېږي.

## تمرين او تطبيق

زده کوونکې دې لاندې آیتونه تمرین او دکربنه ایستل شویو کلمو، قواعد دې بیان کړي.

﴿وَلَئِنْ مُتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى اللهِ تُحْشَرُونَ﴾ ﴿لَكِنَّا هُوَ اللهُ رَبِّى وَلَا أُشْرِكُ بِرَبِّى أَحَدًا﴾ ﴿الْقَارِعَةُ مَا الْقَارِعَةُ﴾.

## پوښتنې

۱- دخه لپاره د قرآن شریف رسم الخط زده کوو؟ د اړتیا دلیل یې بیان کړئ.

۲- د تانیث د ګردی (ة) د تلفظ طریقه په وصل او وقف کې په مثال کې بیان کړئ.

۳- لاندې ایت تلاوت کړئ د کومې کلمې چې خط ترې لاندې کښل شوی، قاعده یې اجرا کړئ.

﴿وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاىْءٍ إِنِّى فَاعِلٌ ذَلِكَ غَدًا﴾

۴- درې داسې مثالونه راوړئ چې په هغو کې الف د وصل په حالت کې تلفظ نه شي او په وقف کې تلفظ شي.

۵- درې داسې مثالونه راوړئ چې په هغو کې الف د وصل او وقف په حالت کې تلفظ نه شي، خو په رسم الخط کې باقي پاتې شي.

۶- څلور داسې مثالونه راوړئ چې په هغو کې (لا) لیکل شوی، خو (ل) تلفظ شي.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د زده کړيو قواعدو په پام کې نيولو سره په کتابچو کې، ۷ داسې کلمې راوړي چې پنځلس ګونو قواعدو پورې اړه ولري او په راتلونکي درسي ساعت کې دې له ځان سره راوړي او د استاد پر وړاندې دې سم ولولي.

# مهم او متفرق ټکي (۲)

**۸)- په** ﴿أَلَمْ نَخْلُقْكُمْ﴾[مرسلات: ۲۰] **کې نښه دا دي چې «ق» په «ک» کې تام ادغام وشي. يعني «ق» اصلاً ونه لوستل شي، بلکې يوازې مشدد کاف** ﴿أَلَمْ نَخْلُكُّمْ﴾ **ولوستل شي.**

او په ﴿لَئِنْ بَسَطْتَّ﴾[مائدة:۲۸]، ﴿مَا فَرَّطْتُمْ﴾[يوسف: ۸۰] و ﴿مَا فَرَّطْتُّ﴾[زمر:۵۶] کې ناقص ادغام کېږي، يعني«ت» له «ط» سره وصل شوې او په تشديد سره داسې لوستل کېږي چې «ط» د استعلاء او اطباق په صفت سره له قلقلې پرته ډکه او (ت) تشه اداء شي.

**(۹)- په لاندې کلمو کې (همزه) ليکل شوې، خو لوستل کېږي نه:**

﴿بِئْسَ الِاسْمُ﴾[حجرات:۱۱]، داسې ﴿بِئْسَ لِسْمُ﴾ لوستل کېږي.

**(۱۰)-«دويمه همزه» په** ﴿ءَأَعْجَمِيٌّ وَعَرَبِيٌّ﴾[فصّلت:۴۴]، **کې په تسهيل (۱) لوستل کېږي. د «ر» توري په** ﴿بِسْمِ اللَّهِ مَجْرِٰىهَا﴾[هود:۴۱]، **کې، په اماله[۲] او تشه لوستل کېږي.**

**(۱۲)- په ځينو ځايونو کې داسې کلمې دي چې دوه توري يو د بل له پاسه ليکل شوي، لکه:**

﴿يُؤْمِنُونَ﴾، ﴿نَبِيءُ﴾، ﴿يُبْدِئُ﴾، ﴿قُرِئَ﴾، ﴿مَأْكُولٍ﴾، ﴿يَتَفَيَّؤُ﴾ و...

په داسې کلماتو کې يوازې يو حرف (هغه چې حرکت ياجزم ولري) لوستل کېږي، نه

---

۱-هرکله چې همزه له خپل مخرج څخه، په قوت سره اداء شي، هغه ته د تجويد په اصطلاح کې «تحقيق» ويل کېږي او کله چې همزه دخپل مخرجِ او دخپل جنس د مدي حرکت په منځ کې په نرمی اداء شی، هغه ته «تسهيل» ويل کېږي.
د تسهيل طريقه دا ده چې په تحقيق سره د لومړني همزې په لوستلو، دويمه همزه په ارامی ادا شې. په بل عبارت له دويمې همزې څخه يوازې د هغې د حرکت(فتحه) غږ اوريدل کېږی.
بايد پوه شو چې «همزه» د اداء پر مهال د صوتي تارونو د تړل کيدو او د هوا بشپړ بنديدلو او وروسته بيا د ناڅاپي خوشی کيدلو سره ځانګړې دروند والی خپلوي او ادا کېږي. دغه حالت ته تحقيق وايی، نو د همزې تحقيق د ثقل سبب کېږي، نو د تجويد پوهان د دغه ثقل د له منځه ولولپاره کله د تسهيل او کله د ابدال او کله هم د حذف عمليه پلي کوې.
نو د {ءَاَعْجَمِيٌّ} په تحقيق لوستلو معنا دا ده چې دويمه همزه د همزې او الف د مخرج تر مينځ ادا شي.
۲- اماله په لغت کې مايل کولو ته وايي او په اصطلاح کې د حفص رح په اند مدي يا ته د مدي الف ورکړول دي. د حفص رح په اند يوازې په همدغه يوځای (هود: ٤١) کې اماله ده.

دواړه.

نو په پورتنیو کلماتو کې یواځې «همزه» لوستل کېږي، نه «و»، «ي» او «الف».

**(۱۳)-په ځینو ځایونو کې داسې کلمې دي چې «و» او «ي» په کښې لیکل شوې، خو لوستل کېږي نه.**

لکه:

﴿يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ﴾[رعد:۳۹]، چې﴿يَمْحُ اللهُ﴾لوستل کېږي.

﴿مُلَاقُوا اللهِ ﴾[بقرهٔ:۲۴۹]، چې ﴿ مُلَاقُ اللهِ ﴾ لوستل کېږي.

﴿مُرْسِلُوا النَّاقَةِ﴾[قمر:۲۷] ، چې ﴿مُرْسِلُ النَّاقَةِ﴾لوستل کېږي.

﴿كَاشِفُواالْعَذَابِ﴾[دخان:۱۵]، چې ﴿كَاشِفُ الْعَذَابِ﴾لوستل کېږي.

﴿جَابُوا الصَّخْرَ﴾[فجر:۹] ، چې ﴿جَابُ الصَّخْرَ﴾ لوستل کېږي.

﴿غَيْرُ مُعْجِزِي اللهِ ﴾[توبهٔ:۲]، چې ﴿غَيْرُ مُعْجِزِاللهِ﴾ لوستل کېږي.

﴿أَنَّ اللهَ مُخْزِي الْكَافِرِينَ﴾[توبهٔ:۲]، چې﴿مُخْزِالْكَافِرِينَ﴾لوستل کېږي.

﴿غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ﴾[مائده:۱] ، چې ﴿غَيْرَ مُحِلِّ الصَّيْدِ﴾لوستل کېږي.

﴿حَاضِرِي الْمَسْجِدِ﴾[بقره:۱۹۶]، چې﴿حَاضِرِالْمَسْجِدِ﴾لوستل کېږي.

﴿آتِي الرَّحْمَنِ﴾[مریم:۹۳] ، چې ﴿آتِ الرَّحْمَنِ﴾ لوستل کېږي.

﴿مُهْلِكِي الْقُرَى﴾[قصص:۵۹] ، چې ﴿مُهْلِكِ الْقُرَى﴾ لوستل کېږي.

﴿وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ﴾[حج:۳۵]، چې﴿وَالْمُقِيمِ الصَّلَاةِ﴾ لوستل کېږي.

**(۱۴)-د ﴿لَا تَأْمَنَّا﴾[یوسف:۱۱] په نون کې اشمام[۱] کېږي.**

۱- د اشمام معنا د شونډو په اشارې سره، د وروستي حرف د حرکت څرګندول دي او په بل عبارت د حرف له ساکن کولو وروسته پرته له دې چې په تلفظ کې د حرکت اغیز څرګند شي، پر له پسې شونډې سره نږدې او ګردې شي او د وروستي حرف حرکت ته اشاره وشي. د اشمام غږ نه اوریدل کېږي، ځکه حرکت په ژبه نه ادا کېږي، البته لیدونکې کولی شي د تلاوت کوونکو د شونډو د له اشارې څخه معلومه کړي چې اشمام یې کړی دی.
باید پوه شو چې اشمام یواځې د ضمې په حرکت کې کېږي، نه په فتحه او کسره کې.

**(۱۵)- کله چې پر مشدد «و» او «ی» وقف وشي، باید تشدید ته لږ په سختۍ سره ادامه ورکړل شي، تر څو تشدید پاتې شي لکه**: {عدوّ} او{علی النبیّ}.

دا و د رسم الخط او د هغو د لوستلو په اړه د حفص رحمه الله(۱) په اند لنډ معلومات، ځکه موږ د هغه د روایت مطابق قرآن شریف لولو او هغه قرآن مجید له خپل ښاغلي استاد ستر تابعي امام عاصم(۲) څخه زده کړی او هغه له زِرّ بن حُبیش اسدی(۳) او عبدالله بن حبیب سلمی(٤) اوهغوی له حضرت عثمان او علی او زید بن ثابت او ابن مسعود او ابی بن کعب رضی الله عنهم اجمعین او هغوی ټولو له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه زده کړی و.(٥)

**تمرین او تطبیق**

زده کوونکي دې لاندې آیتونه تمرین او دکرښه ایستل شویو کلمو ، قواعد دې بیان کړي.

﴿وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرِبهَا وَمُرْسَىٰهَآ إِنَّ رَبِّى لَغَفُورٌ رَحِيمٌ﴾﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ

---

۱- ابوعمرو حفص بن سلیمان (متوفی ۱۸۰هـ) مشهور راوی او د هغه روایت نن په ټوله اسلامی نړۍ کې مروج دی.

۲- ابوبکرعاصم بن ابی النجود(م/ ۱۲۸هـ) له قرّاء سبعه وو څخه دی دهغه قرات د اسلامي نړۍ کې د نورو په پرتله ځانګړی اعتبار لري.

۳- ابوحریم زِرّ بن حُبیش اسدي کوفي، د عراق له لویو قاریانو څخه و او لوی تابعي هم و چې په جاهلیت کې له ۶۰ کاله ژوند وروسته یې په اسلام کې هم ۶۰ کاله ژوند کړی دی.

٤- ابوعبدالرحمٰن عبدالله بني حَبیب بن ربیعه سُلَمی، تابعی دی، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ژوند کې وزیږید، پلار یې صحابي و، هغه له ړوند والی سره سره د کوفې په قاري مشهور و. قراءت یې له عثمان بن عفان، علي بن آبي طالب، عبدالله بن مسعود، زید بن ثابت و آبي بن کعب رض الله عنهم څخه زده کړ. ډېرو کسانو، لکه: عاصم، عطاء بن السائب او ابو إسحاق السبیعي له هغه څخه قرائت زده کړی دی.

۵- یاد داشت: ځوک چې د رسم الخط په اړه نور معلومات غواړي لاندې کتابونه دې وګوري.

۱- النشر فی القراءات العشر او غایة النهایة فی طبقات القراء ابن جزری.

۲- التیسیر فی القراءات السبع، المقنع فی رسم المصاحف او المحکم فی نقط المصاحف له ابوعمرو عثمان بن سعید دانی.

۳- الإتقان فی علوم القرأن له علامه سیوطی رحمهم الله تعالی.

يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾.

## پوښتني

۱- د ﴿أَلَمْ نَخْلُقْكُمْ﴾ او ﴿لَئِنْ بَسَطْتَ﴾ په تلفظ کې څه توپیر دی؟ بیان کړئ.

۲- په ﴿يُؤْمِنُونَ﴾، ﴿يُبْدِئُ﴾ او ﴿مَأْكُولٍ﴾ کې چې د یو حرف له پاسه بل حرف لیکل شوی، کوم یو یې تلفظ کېږي؟

۳-دغه ایت ﴿يَمْحُوا اللهُ مَا يَشَاءُ﴾ څنګه لوستل کېږي؟ عملاً یې تلفظ کړئ.

٤- لاندې کلمې تلاوت کړئ او د کومو کلمو چې خط تري لاندې کښل شوی، قاعده یې بیان کړئ ﴿مُهْلِكِي الْقُرَى﴾، ﴿آتِي الرَّحْمَنِ﴾، ﴿مُرْسِلُوا النَّاقَةِ﴾، ﴿يُبْدِئُ﴾.

٥- لاندې کلمات سم تلفظ کړئ ﴿أَنَا﴾، ﴿مَلَائِهِ﴾، ﴿مِنْ نَبَإِئ الْمُرْسَلِينَ﴾.

٦- لاندې کلمات داسې تلفظ کړئ چې په پای کې یې وقف وکړئ.

﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ﴾، ﴿الظُّنُونَا﴾، ﴿نَارٌ حَامِيَةٌ﴾.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د زده کړیو قواعدو په پام کې نیولو سره په کتابچو کې، ۸ داسې کلمې راوړي چې اته ګونو قواعدو پورې اړه ولري او په راتلونکي درسي ساعت کې دې له ځان سره راوړي او د استاد پر وړاندې دې سم ولولي.

# د اتم ټولګي د حفظ د مقررې برخه [۱]

## سورة النّبَا

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ﴿١﴾ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢﴾ ٱلَّذِى هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ﴿٣﴾ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ
﴿٥﴾ أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَٰدًا ﴿٦﴾ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَخَلَقْنَٰكُمْ أَزْوَٰجًا ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾
وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَجَعَلْنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا
وَهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلْمُعْصِرَٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِّنُخْرِجَ بِهِۦ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَجَنَّٰتٍ أَلْفَافًا ﴿١٦﴾ إِنَّ
يَوْمَ ٱلْفَصْلِ كَانَ مِيقَٰتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ أَبْوَٰبًا
﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ ٱلْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابًا ﴿٢٢﴾ لَّٰبِثِينَ فِيهَآ
أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ
كَانُوا۟ لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَىْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ كِتَٰبًا ﴿٢٩﴾
فَذُوقُوا۟ فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَٰبًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا
دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ
وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلرَّحْمَٰنِ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ صَفًّا لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ
لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلْحَقُّ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴿٣٩﴾ إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ عَذَابًا
قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًا ﴿٤٠﴾﴾

## سورة النَّازعَات

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرْقًا ﴿١﴾ وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشْطًا ﴿٢﴾ وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبْحًا ﴿٣﴾ فَٱلسَّٰبِقَٰتِ سَبْقًا ﴿٤﴾ فَٱلْمُدَبِّرَٰتِ
أَمْرًا ﴿٥﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبْصَٰرُهَا خَٰشِعَةٌ

---

په اتم ټولګي کې د دېرشمې سپارې لومړنۍ نيمه برخه د حفظ لپاره ټاکل شوې ده، ښوونکی دې له درسي ساعتونو سره سم قرائت، د آیاتونو حفظ او ورځنۍ ځانګړې سورت وټاکي، تر څو د حفظ مقرره بشپړه شي.

﴿٩﴾ يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي ٱلْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ أَءِذَا كُنَّا عِظَـٰمًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوا۟ تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ
﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُم بِٱلسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴿١٥﴾ إِذْ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلْوَادِ
ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ
﴿١٩﴾ فَأَرَىٰهُ ٱلْءَايَةَ ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ
ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْءَاخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴿٢٥﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰٓ ﴿٢٦﴾ ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ
بَنَىٰهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَىٰهَا ﴿٢٩﴾ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴿٣٠﴾
أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ﴿٣١﴾ وَٱلْجِبَالَ أَرْسَىٰهَا ﴿٣٢﴾ مَتَـٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَـٰمِكُمْ ﴿٣٣﴾ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ
ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَـٰنُ مَا سَعَىٰ ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴿٣٦﴾ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ وَءَاثَرَ
ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ ٱلْجَحِيمَ هِيَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾
فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِيَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ
مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾

## سورة عَبَسَ

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١﴾ أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ ﴿٢﴾ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴿٣﴾ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكْرَىٰٓ ﴿٤﴾
أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ ﴿٥﴾ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ﴿٦﴾ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسْعَىٰ ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخْشَىٰ
﴿٩﴾ فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ ﴿١٠﴾ كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿١٢﴾ فِي صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ
﴿١٤﴾ بِأَيْدِي سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾ قُتِلَ ٱلْإِنسَـٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ ﴿١٧﴾ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُۥ ﴿١٨﴾ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ
فَقَدَّرَهُۥ ﴿١٩﴾ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ ﴿٢١﴾ ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ﴿٢٢﴾ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُۥ ﴿٢٣﴾
فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَـٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ﴿٢٤﴾ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا ٱلْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾
وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَفَـٰكِهَةً وَأَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَـٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَـٰمِكُمْ ﴿٣٢﴾ فَإِذَا
جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَـٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ
يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾
تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَفَرَةُ ٱلْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

## سورة التكوير

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ (١) وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ (٢) وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ (٣) وَإِذَا ٱلۡعِشَارُ
عُطِّلَتۡ (٤) وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ (٥) وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ (٦) وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتۡ (٧) وَإِذَا
ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ سُئِلَتۡ (٨) بِأَيِّ ذَنۢبٖ قُتِلَتۡ (٩) وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتۡ (١٠) وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتۡ (١١) وَإِذَا
ٱلۡجَحِيمُ سُعِّرَتۡ (١٢) وَإِذَا ٱلۡجَنَّةُ أُزۡلِفَتۡ (١٣) عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّآ أَحۡضَرَتۡ (١٤) فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ (١٥) ٱلۡجَوَارِ
ٱلۡكُنَّسِ (١٦) وَٱلَّيۡلِ إِذَا عَسۡعَسَ (١٧) وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ (١٨) إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ (١٩) ذِى قُوَّةٍ عِندَ ذِى
ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ (٢٠) مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ (٢١) وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجۡنُونٖ (٢٢) وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ (٢٣) وَمَا هُوَ
عَلَى ٱلۡغَيۡبِ بِضَنِينٖ (٢٤) وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٖ (٢٥) فَأَيۡنَ تَذۡهَبُونَ (٢٦) إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ (٢٧)
لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ (٢٨) وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ (٢٩)﴾

## سورة الانفطار

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ (١) وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ (٢) وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ (٣) وَإِذَا ٱلۡقُبُورُ بُعۡثِرَتۡ
(٤) عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ وَأَخَّرَتۡ (٥) يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ (٦) ٱلَّذِى خَلَقَكَ
فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ (٧) فِىٓ أَىِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ (٨) كَلَّا بَلۡ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ (٩) وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ
لَحَٰفِظِينَ (١٠) كِرَامٗا كَٰتِبِينَ (١١) يَعۡلَمُونَ مَا تَفۡعَلُونَ (١٢) إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِى نَعِيمٖ (١٣) وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِى
جَحِيمٖ (١٤) يَصۡلَوۡنَهَا يَوۡمَ ٱلدِّينِ (١٥) وَمَا هُمۡ عَنۡهَا بِغَآئِبِينَ (١٦) وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ (١٧) ثُمَّ مَآ أَدۡرَىٰكَ
مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ (١٨) يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ نَفۡسٞ لِّنَفۡسٖ شَيۡـٔٗاۖ وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ (١٩)﴾

## سورة المطففين

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ (١) ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ (٢) وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ
(٣) أَلَا يَظُنُّ أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبۡعُوثُونَ (٤) لِيَوۡمٍ عَظِيمٖ (٥) يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ (٦) كَلَّآ إِنَّ

كِتَٰبَ ٱلۡفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٖ ﴿٧﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سِجِّينٞ ﴿٨﴾ كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ﴿٩﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ
يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿١١﴾ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾
كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿١٤﴾ كَلَّآ إِنَّهُمۡ عَن رَّبِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّمَحۡجُوبُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّهُمۡ لَصَالُواْ
ٱلۡجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾ كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡأَبۡرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ
مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ﴿٢٠﴾ يَشۡهَدُهُ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾ إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ
﴿٢٣﴾ تَعۡرِفُ فِي وُجُوهِهِمۡ نَضۡرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسۡقَوۡنَ مِن رَّحِيقٖ مَّخۡتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَٰمُهُۥ مِسۡكٞۚ وَفِي ذَٰلِكَ
فَلۡيَتَنَافَسِ ٱلۡمُتَنَٰفِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسۡنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا ٱلۡمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
أَجۡرَمُواْ كَانُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَضۡحَكُونَ ﴿٢٩﴾ وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمۡ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ
أَهۡلِهِمُ ٱنقَلَبُواْ فَكِهِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا رَأَوۡهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَآ أُرۡسِلُواْ عَلَيۡهِمۡ حَٰفِظِينَ
﴿٣٣﴾ فَٱلۡيَوۡمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنَ ٱلۡكُفَّارِ يَضۡحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾ هَلۡ ثُوِّبَ ٱلۡكُفَّارُ مَا كَانُواْ
يَفۡعَلُونَ ﴿٣٦﴾

## سورة الانشقاق

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتۡ ﴿١﴾ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ﴿٢﴾ وَإِذَا ٱلۡأَرۡضُ مُدَّتۡ ﴿٣﴾ وَأَلۡقَتۡ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتۡ ﴿٤﴾
وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ﴿٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحٗا فَمُلَٰقِيهِ ﴿٦﴾ فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ
كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ﴿٧﴾ فَسَوۡفَ يُحَاسَبُ حِسَابٗا يَسِيرٗا ﴿٨﴾ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورٗا ﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ
كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهۡرِهِۦ ﴿١٠﴾ فَسَوۡفَ يَدۡعُواْ ثُبُورٗا ﴿١١﴾ وَيَصۡلَىٰ سَعِيرًا ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ كَانَ فِيٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورًا ﴿١٣﴾ إِنَّهُۥ
ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾ بَلَىٰٓۚ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرٗا ﴿١٥﴾ فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيۡلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾
وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٖ ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقُرۡءَانُ
لَا يَسۡجُدُونَۤ۩ ﴿٢١﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ
أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونِۭ ﴿٢٥﴾

## سورة البروج

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ ﴿١﴾ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ ﴿٢﴾ وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ ﴿٣﴾ قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ ﴿٤﴾
النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ ﴿٥﴾ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ﴿٦﴾ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ﴿٧﴾ وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ
إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴿٨﴾ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ
شَهِيدٌ ﴿٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ
﴿١٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ ﴿١١﴾
إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾ إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾ وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ ﴿١٥﴾
فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾ بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَاللَّهُ
مِنْ وَرَائِهِمْ مُحِيطٌ ﴿٢٠﴾ بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِي لَوْحٍ مَحْفُوظٍ ﴿٢٢﴾ ﴾

## سورة الطارق

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ ﴿١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الطَّارِقُ ﴿٢﴾ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿٣﴾ إِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿٤﴾ فَلْيَنْظُرِ
الْإِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴿٥﴾ خُلِقَ مِنْ مَاءٍ دَافِقٍ ﴿٦﴾ يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ ﴿٧﴾ إِنَّهُ عَلَىٰ رَجْعِهِ لَقَادِرٌ ﴿٨﴾
يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ ﴿٩﴾ فَمَا لَهُ مِنْ قُوَّةٍ وَلَا نَاصِرٍ ﴿١٠﴾ وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿١١﴾ وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿١٢﴾ إِنَّهُ لَقَوْلٌ
فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾ إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَأَكِيدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾ ﴾

## سورة الأعلى

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ﴿١﴾ الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٢﴾ وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ﴿٣﴾ وَالَّذِي أَخْرَجَ الْمَرْعَىٰ ﴿٤﴾
فَجَعَلَهُ غُثَاءً أَحْوَىٰ ﴿٥﴾ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَىٰ ﴿٦﴾ إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ ۚ إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا يَخْفَىٰ ﴿٧﴾ وَنُيَسِّرُكَ
لِلْيُسْرَىٰ ﴿٨﴾ فَذَكِّرْ إِنْ نَفَعَتِ الذِّكْرَىٰ ﴿٩﴾ سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَخْشَىٰ ﴿١٠﴾ وَيَتَجَنَّبُهَا الْأَشْقَى ﴿١١﴾ الَّذِي يَصْلَى
النَّارَ الْكُبْرَىٰ ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿١٣﴾ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾ بَلْ
تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿١٦﴾ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿١٧﴾ إِنَّ هَٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ

﴿ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ١٩ ﴾

## سورة الغاشية

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡغَٰشِيَةِ ١ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ ٢ عَامِلَةٞ نَّاصِبَةٞ ٣ تَصۡلَىٰ نَارًا حَامِيَةً
٤ تُسۡقَىٰ مِنۡ عَيۡنٍ ءَانِيَةٖ ٥ لَّيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٖ ٦ لَّا يُسۡمِنُ وَلَا يُغۡنِي مِن جُوعٖ ٧ وُجُوهٞ
يَوۡمَئِذٖ نَّاعِمَةٞ ٨ لِّسَعۡيِهَا رَاضِيَةٞ ٩ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٖ ١٠ لَّا تَسۡمَعُ فِيهَا لَٰغِيَةٗ ١١ فِيهَا عَيۡنٞ جَارِيَةٞ ١٢
فِيهَا سُرُرٞ مَّرۡفُوعَةٞ ١٣ وَأَكۡوَابٞ مَّوۡضُوعَةٞ ١٤ وَنَمَارِقُ مَصۡفُوفَةٞ ١٥ وَزَرَابِيُّ مَبۡثُوثَةٌ ١٦ أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى
ٱلۡإِبِلِ كَيۡفَ خُلِقَتۡ ١٧ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ رُفِعَتۡ ١٨ وَإِلَى ٱلۡجِبَالِ كَيۡفَ نُصِبَتۡ ١٩ وَإِلَى ٱلۡأَرۡضِ
كَيۡفَ سُطِحَتۡ ٢٠ فَذَكِّرۡ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٞ ٢١ لَّسۡتَ عَلَيۡهِم بِمُصَيۡطِرٍ ٢٢ إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ
٢٣ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَكۡبَرَ ٢٤ إِنَّ إِلَيۡنَآ إِيَابَهُمۡ ٢٥ ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا حِسَابَهُم ٢٦ ﴾